منبع الجهاد

علمي او جهادی میاشتنی خپرونه

د قوماندانانو د شورا د سرتاسری کیدو په نتیجه کی د هیواد د شرق - غرب - شمال او جنوب تر منځ د اتصال کړی ټینګه شوه.

د جهاد اداره او په دی رابطه د هر ډول تصسیم نیول په افغان مجاهد ولس پوری اړه لری - افغانان هیڅ بهرنی هیواد او قوت ته د لاسوهنی او فشار اجازه نه ورکوی.

دقوماندانانو دشوراګډه اعلامیه

شهید تورن عبدالجبار خان

دقوماندانانوشوراپریکړه وکړه چي :

په هیواد کي به په یووخت سرتاسري عملیات ترسره شي .

شهید ضابط عبدالستار خان

۱۳٦٤ د وږي ۱٥ مه دنوميالي عالم اوستر مجاهد الحاج مولوي احمد گل
داتلوال شهادت پنځمه کليزه د جهاد دمورچلونو مؤمنوغازيانو ته مبارکه غواړو!

الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدّين حقانى
دتائسيس كال : ١٣٦٨ هـ.ش ١٤٠٩ هـ.ق

دويم كال ، دريمه اوڅلورمه ګڼه ، د ١٣٦٩ هـ ش سنبله ـ ميزان ، د ١٤١١ هـ ق ظفرالمظفر ـ ربيع الاول

په دې ګڼه كې

شماره	عنوان	ليكوال	مخ
١ـ	دقومندانانو شورا دوحدت ... (سرمقاله)	« اداره »	٢
٢ـ	دپاك - هند احتمالي جګړه دافغان داعيي ...	هدايت الله هجرت	٥
٣ـ	دحضرت محمد (ص) نيكمرغه ميلاد ...	توريالي ځاځي	١٢
٤ـ	دافغانستان دمشكل اصلي عوامل	مولوي محمد يونس خالص	١٥
٥ـ	شكست دوامپراتوري استعماري در...	سميع الله تازه	١٧
٦ـ	دتاجكستان دآزادي غورځنګ	هميش خليل	٢١
٧ـ	اوهغه يي په بې دردۍ شهيد كړ	محمد ظاهر بابري	٢٦
٨ـ	سرطان سرخ	ترجمه :ف فاضل	٢٩
٩ـ	دجهاد دقوماندانانو دشورا... (راپورتاژ) « اداره »		٣٣
١٠ـ	دركود له روان حالت ځخه دعبوري حكومت ...	دالحاج مولانا	٣٨
١١ـ	دقوماندانانو شورى له جهادي ...	جلال الدين حقانيٓ مركه	٤٢
١٢ـ	دقوماندانانو مطبوعاتي كنفرانس	« اداره »	٤٥
١٣ـ	دقوماندانانو دشوراګډه اعلاميه		٤٨
١٤ـ	جهاد د شعر او ادب په پلوشو كى		٥٠
١٥ـ	ژوندي پيغام	شفيقي	٥٢
١٦ـ	دجهاد ولسي شاعري	عوض الدين صديقي	٥٤
١٧ـ	نظامي ښوونه اوروزنه	محمد عمر اځي	٦٠
١٨ـ	د مزدور رژيم په زندانونو كى د...	سيدمحي الدين هاشمي	٦٣
١٩ـ	پركتاب تبصره	اداره «	٦٥
٢٠ـ	د حق د لارى قربانيان		

دهيئت تحرير تر نظر لاندې

مسوول مدير
الحاج عبدالباري ننګيال

مرستيال
سيد محى الدين هاشمي

مكاتباتي پته
پوست بكس نمبر (١٠٣٣) يونيورسټي ټاون، پېښور

سر مقاله

دقوماندانانو شورا دوحدت په لور پوخ گام اوبریالی حرکت

کله چی د ۱۳۶۹ لمریز کال د ثور په ۱۷ نیټه په پکتیا کی د الحاج مولوی جلال الدین حقانی په نوښت دلومړی ځل لپاره د ژوره په مرکز کې د هیواد د قوماندانانو لومړنی شوریٰ جوړه شوه نو د کتونکو په عقیده د مسلط رکود او بن بست د ماتولو په لور یو داسی په ځای او ضروری قدم او زیری وګڼل شو چی هم د وخت ضرورت ؤ او هم دحالاتو غوښتنه او تقاضا. دا شورا د حل د یوی قطعی ، منطقی او لنډې لاری په توګه تشخیص اوو منل شوه او د ټولو جهادی حلقو او اړخونو له خوا یی په زړه پوری هر کلی او تائید اعلان کړی شو.

او بیا کله چی په ۱۳۶۹/٤/۲ نیټه د قوماندانانو دوهمه او ستره غونډه یو ځل بیا د حقانی صاحب په یوه جهادی مرکز کې په بری سره جوړه او پای ته ورسیده او له ۳۰۰ تنو څخه زیاتو قوماندانانو په هغی کی برخه واخیسته نو ددغو ټولو ارمانونو تحقق ته یې دحقیقت جامه ور واغوستله چی د ولس په وړاندی ددغه شورا د تدویر او نتایجو له امله د وروستی ارمان او حرکت په توګه مطرح ؤ.

په ریښتیا هم پدغه ور نازکو، حساسو او ټاکونکو شرایطو کی که نور هم د جهادی تنظیمونو اوقیادتونو په سطحه دیوه متحد قوت د جوړیدو په انتظار وخت تیر شوی وای نو په پوره یقین سره ویلی شو چی دا وروستی فرصتونه به هم دافغانستان د مجاهد ملت له لاسه وتلی ؤ.

ریښتیا خبره داده چی د جهاد له پیله قوماندانانو له جهادی قیادتونو څخه د ریښتینی او بشپړ اتحاد مکرره غوښتنه کوله او هیله من ؤ چی د جهادی قیادتونو تر منځ یو ریښتینی اتحاد ټینګ شي. ځکه د اختلاف په صورت کې تر ټولو زیات زیان جهادی قوتونو ته اوښت او طبعی ده چی دا ټول تاوان او فشار په لومړی قدم کې د قوماندانانو او مجاهدینو څواك او لیکو ته ډیره سخته صدمه رسوله.

په تأسف سره باید ووایو چی په تیرو دوولسو کلونو کی ولس پرله پسی د مشراتو د اتحادونو او ائتلافونو د ټینګښت او انحلال د ترخو تجربو د ترخو نتایجو زهرجن ګوټی ته غوړپ کړل، د عبوری حکومتونو د جوړیدو او نړیدو ستغی تجربی یی وزغملی او دغه زغم او تحمل بیله دی چی نور

مشکلات او خنډونه رامنځ ته کړي او لاس ته راغلي فرصتونه ضايع کړي بله نتيجه ور نه کړه.
دايقيني خبره ده که لدې زيات هم دغه دردونکې حالت همداسې دوام پيدا کړي واى او دغه ورېو مثبت حرکت په لاره نه واى اچول شوى نو ښکاره خبره ده چې د دولس کلنو قربانيو او دجهاد د سپيڅلو ارمانونو او اهدافو پر ضد به يو داسې خطرناك جريان رامنځ ته شوى او قوي شوى ؤ چې د کفري طاقتونو د ګډو ساز شونو دعملي کيدو له دښمنۍ ډك حرکت ته به يې لاره ښه پرانستلې وه.
له بده شامته په تيرو دوولسو کلونو کې جهادي قيادتونه ونه توانيدل چې په يوه ريښتيني قوي، مؤثر او دوامداره اتحاد کې راغونډ شي. دا هغه خلا او کمزورتيا ده چې دهيواد د آزادۍ او د اسلامي حکومت د قيام په لار کې د ډير ستر خنډ په توګه د جهاد د برې په مخه کې پر تمرده او همدغه جريان د تجيب د مزدور رژيم د بقا لارې هيرته پرې ايښې او د دښمن لورې پياوړې کړې. له همدې څايه وه چې ددغه مسؤوليت د درك اودکفري طاقتونو د تو طئو او سازشونو او دي ته ورته ګواښونو له مخې قومندانانو دا وپتيبله او پريکړه يې وکړه چې نور موجوده فرصت له لاسه ورنه کړي . د انتظارلارې پخپله لنډې کړي او په مجموعي او متحده توګه د حل په رابطه د جدي اقداماتو په لټه کې شي او د منځ ته راغلي رکود اوبن بست د ماتولو منطقي ، لنډه او غوڅه لاره ولټوي .
هماغه ؤ چي په پکتيا کې د قومندانانو د وهمې شورا فيصله وکړه چې دا شورا بنايي نوره هم پراخه او سر تاسرى شي ، په همدې منظور يې د دعوت کميسيون وټاکه او خپل کاريې جارى وساته .
که څه هم خپل چارو او خود غرضه عناصرو چي هميش يې خپلې شخصي ګټې په اختلاف کې لټولې په مذهو حانه هلو ځلو پيل وکړ خو څرنګه چې شورا په پوره اخلاص د جهاد د اهدافو اودولس دارمانونو د تحقق په لار کې د فعاليت هوډ کړى ؤ ځکه خو لدغو ټولو موانعو او مشکلاتو څخه بريالى ووتله او په برى سره يې دخپلو چارو سرته رسولو ته دوام ورکړ، پدى لړ کې د قومندانانو ورروستۍ غونډه چې د بدخشان په توپخانه کې په بشپړ بري سره پاى ته ورسيده دا پروسه نوره هم خپل بشپړ تابه مرحلې او منزل ته نژدې کړه.
د قومندانانو په وروستۍ غونډه کې فيصله شوى چې له ټولو هغو افغانانو سره چې دهيواد له آزادۍ سره مينه لري رابطه ټينګه شي او ټولو ته د شورا اهداف توضيح کړى شي.
دجهاد په اوږدو کې يو ستر مشکل د بې اعتمادى د فضا رامنځ ته کيدل ؤ. پدې غونډه کې پدې تکي ډير ټينګار وشو چې د ټولو جهادي قوتونو تر منځ د اعتماد او باور مزي وغزول شي چې له ښه بخته په عملي توګه پدې لار کې ګړندى ګامونه اخيستل شوى او دا ثابته کړى شوه چې د قومندانانو تر منځ له هل هر چا زيات د ګډ کار او مشترك عمل زمينه مساعده ده او پدى رابطه يو پر بل د اعتماد ډيره ښه فضا موجوده ده.

په همدی اړه د شورا له پیله د یوی مشترکی او متحدی قوماندی او استراتیژی په رامنځ ته کیدو پوره توافق موجود ؤ او پدی هکله یوه عمومی تفاهم ته د رسیدو په لار کې هیڅ ډول مشکلا ت ونه لیدل شول او د بشپړ باور او اطمینان په فضا کی د راتلونکی له پاره لایحه عمل وټاکل شوه.
له بلی خوا یو ځل بیا په ډاگه کړی شوه چی د قوماندانانو شورا هیڅکله هم د جهادی قیادتونو او تنظیمونو په وړاندی کوم مخالف او ځانگړی سیستم او سازمان ندی اود هیڅ ډول چیلنج بنه نلری .
بلکی ددغه شورا عمده هدف د جهادی قیادتونو تر منځ د بشپړ او ریښتینی اتحاد ټینگښت دی تر څو ددغه ډول شوراگانو د متحدو پریکړو له مخی تنظیمونه او قیادتونه دی ته اړ کړی شی چی یو متحد قوت جوړ او د یو مشترك پلان اوطرحی له مخی د راتلونکی نظام اداته رامنځ ته کړی.
لکه مخکی مو چی وویل د قوماندانانو د شوراگانو لومړی هدف په توگه‌دگډې ستراتیژی متحدو او یو وختی عملیاتو د ترسره کیدلو په رابطه په بشپړ اتفاق تصمیم ونیول شو پدی رابطه به په ټول هیواد کی نهه حوزې تشکیل کړی شي چی د متحدی قوماندی او قوت له خوا به اداره کیږی.
د قوماندانانو شورا له ټولو سمتی، گوندی ، مذهبی، ژبنیو او سیاسی ملحوظاتو څخه لوړه د اسلا م او افغانستان په دائره کی یولې داسی تو افقات، پرمختگونه او بر یالیتوبونه تر لاسه کړل چې زمونږ پوخ باور دې چې د جهاد په سطحه موجود زیاتره مشکلات، خلاگانی،نیمگړتیا وی او بی اعتمادی به له منځه یوسي او دهمدغو شوراگانو د تصمیمونو او متحدو فیصلو له لاری به د هیواد د بشپړی آزادی او د اسلامی حکومت د قیام ارمان تحقق پیدا کړی.
د شورا د پریکړو له برکته به د جهاد په سطحه واحده ستراتیژی او قومانده رامنځ ته شی د مجاهدینو د اکمالاتی لارو څخه به د پاټکونو اودی ته ورته ربړو مخه ونیول شي. د آزادو سیمو اولارو امنیت به ټینگ شی. د ځانگړو عملیاتو په ځای به گډ، منظم، هماهنگ او په یوه وخت عملیات تر سره شی د هیواد شمال، جنوب ، شرق او غرب تر منځ د اتصال دکړی د ټینگیدو له امله به ټول جهادی ځواکونه په یوه متحدی ستراتیژی سره راغونډ شی او که خدای کول د شورا په راتلونکی ستره او سراسري غونډه کی چی په پسرلی کی به جوړیږی یو لړ داسی نوي پرمختگونه او وروستی مشترك اقدامات تر سره شی چی نوی کال به دبشپړ بری په کال د هیواد د آزادی اوداسلامی حکومت د قیام په بختور کال سره استقبال اوولمانځل شی.



هدایت الله «هجرت»

دپاک هند احتمالی جګړه د افغان داعیې پرضد دوسیلې په توګه

په تیر ژمی کې چی په نیول کشمیر کی دآزادی غوښتنی غورځنګ زیات توند او خپور شونو دپاك هندد جګړې د قوی احتمال ډیری اوازی پیل شوی، په پیل کې له هند ی واکمنو سره دوه امیده وو ، یوداچی شاید قیام ډیرژروځپلای شی،دوهم داچی دپاکستان دپخوانی صدراعظمی په باب ئی داد او تحلیل داوُچی دکشمیر یانو،له مبارزی سره پرملاتړ ا و پیوستون ډیر تینګار ونکړی ، خو وشول ددی پرعکس . له یوی خواقیام ورځ په ورځ توند او ولسی شؤله یل پلوه بی نظیر بوتو دخپل ولس دروحیی ا و ذهنیت او دسیاسی مخالفینود تبلیغاتو فشاردې ته مجبوره کړه چې د هند د توقع پر خلاف د کشمیر قضیه توده کړی .

تر دی راوروسته دا تهکل د یرپیاوړی کیده چی هند به دکشمیر له بحران نه دځان ایستولپاره پر پاکستان برید کوی ، بالاخره دسپتمبر ا و یا ا کتوبر په میاشتوکی دجګړی دوقوع دحتمیت خبری ډیری تودې شوی . هند خپل هوائی پوځ دبشپړی تیاری په حال کې کړ، دتهاجمی پوځ څو فرقی یې دپاکستان پر وروستی پوله دوروستی اشارې په انتظار ودرولی،تقریباً کامل جګړه ایز حالت او دوړومبی ګولی ډز یواځی دهوا دحالت بدلیدو ته ایساروُ ځکه دتودوخی شدت هم دافراد- وعملیات او تحرکات اغیز منول اوهم ئې دځینو وسلو فعالیت متأثراوه .

دی خبری ته اشاره هم بی ګتی نده چی ځینی مبصرین پدی نظر دی چی داګست له (١٦) می سره دبی نظیر بوتو دعزل سمون هم له پورته یادشوی حالت سره بی ارتباطه ندی ځکه پوځ دمیرمن بوتو پرحکومت شدیداً بی اعتباره شوی وُ ، ان تردی چی دپاکستان یوه ممتاز ژورنالیست مشاهد حسین په یوه مقاله کی لیکلی چی: دقول اردو قوماندانانو په یوه وروستی غونډه کې چی دبوتو تر عزل لږ دمخه په راولپندی کی وشوه یو ه قومندان ویلی وُچی دنوموړی دکابینی یو وزیر دهند د جاسوسی شبکی «را» غړی دی نوپوځ او دپاکستان دور اندیش جمهور رئیس غوښتل چی دجګړی دپیښیدوپه وخت کی ددی هیواد حکومت دمطمُینو اشخاصو په لاس کی وی .

په هرحال اوس چی دسپتمبر میاشت تیره شوه او ددی مقالې دلیکلو تر وختـه د اکتوبر څو ورځی هم وتلی دی حالات داسی معلومیږی چی فعلاً دجګړی فوری خطر نشته که څه هم دا کتوبر په لومړیوکی دپاکستان داردو دقوماندان جنرال میرزا اسلم بیګ وینا بیا دحالاتو دخطر ناکتوب اړخ راڅرګند کړ، جنرال بیګ وویل چی: « په هیواد کې یو خطر ناك تخریبی پلان کشف شوی دی په کشمیر کې دپاك هند دقراوو نښتی زیاتی شوی او پر نوموړی پوله هندی پوځونه راوړاندی شوی او دهمدی حالاتو له مخی مادچین او جاپان سفرونه منسوخ کړل» مګر دجنرال

بیگ لـه دی ځرګند ونو سره سره زیاتره مبصرین عجالتاً دپاك هند دجګړی فوری خطرناست بولی او دخپل تحلیل دپشتوانی لپاره دخلیج له بحران نه پر راپیداشوی حالت او ځینی نورو فاکتورونو حساب کوی

وائی چی په خلیج کی وضعه انفجار ته بیخی نژ دی شوی هره شیبه یو کوچنی حرکت کولای شی تولـه سیمه داورپه لمبوکی راګیر کړی ، نوکه دهغه تر څنګ دهند په وچه کی هم ددوومجهزو طاقتونو تر منځ جګړه ونښلی او بیا دهند اوخلیج دالویه ساحه دجنګ په اورتون واوړی بیا نا ممکنه ده چی ددریمی نړی والی تباه- کونکی جګړی دپیښیدومخه ونیوله شی له دی امله ممکن هند په اوسنی حالت کی دجګړی دپیل حماقت ونکړی .

بله داچی دخلیج بحران چی دتیلو دکمښت کومه ستو نزه راپیداکړی ده هغـی پـه عادی حالاتـو کـی هند له جدی کړاو سره مخامخ کړ نو دجګړی په وخت کی چی دیرو زیاتوتیلو ته اړتیا لری هغه به څه ورپوره کړای شی.

بله داچی هندی واکمن پوهیږی چی دبی نظیر بوټو تر عزل وروسته به پر پاکستان ددوی یر غل د پاك پوځ ملت او حکومت لـه یوه هماهنګ منسجم او متحدانه توند قاطعا نه ځواب سره مخامخ کیـږی او د پخوانی حکومت دموجودیت په صـورت کی یـی چی دتـزلـزل او ګډوډی کوم امیدونه ووهغه ختم شول تردی مقدمی وروسته راځم دی خبری تـه-لکه پاس موچی وویل دپاك هند جګړی دفوری خطر دکینا ستوقوی عامل دخلیج له بحران نه راپیدا شوی خطر بلل کیږی خو نوری چی دجګړی

> بریژنف غوښتل پر پاکستان دهند د یرغل په وسیله پر مجاهدینو د خپل برلاسی لارو مومی البته ددې خبری معنا دانده چی هند خاص د همدی لپاره یر غل کاوه بلکی غوښتل یی د پاکستان د تجزیې له لاری په سیمه کی خپله بر لاسی هم واکمنه کړي.

د پیل داحتمال کومی اصلی انګیزی دی هغه تولی پرځپل ځای پر تی دی زه دلته پردی خبره غږ یدل غواړم چی که دخلیج وضعه بدلون ومومي او هغـه اثـرات ئـی ختم شـی چی عجالتاً ئی هند پر پاکستان باندی له بریدنه منع کړی نو شاید امریکا او روس په افغانستان کی د خپلو پلانو- نو د تطبیق په لار کی د مجاهـدینو د مقاومت اود پاکستان دمعقول دریځ په وجه تر مایوسید وروروسته پرپاکستان د هند برید دیوی وسیلی پـه تـوګـه استـعـمـال کـړي . پر افغانستان باندی دروسی یرغل پر وخت په هند کی د«مراجی دیسای» حـکـومـت ؤ. زه د«مـراجـی » دشخصیت او دده دحکومت دسیاست دځرګندوالی په برخه کی نورهیڅ معلومات نلرم خو یواځی دومره پوهیږم چی شهید ضیأ الحق له پاکستان سره دښوارېکو نشان ورکړی ؤ او بی نظیر بوټو بیرته تری واخست نودشهید ضیأ له پوړتنی عمل نـه داسی پوهیـدای شو چی «مراجی دیسای» بـه دروسانو پـه خوښه او طبع چندان برابر نه ؤ،خو متأسفانه دمراجی دیسای حکومت زیات دوام ونکړ، له منځه ولاړ او پر ځای ئي دمیرمن ګاندی حکومت راغی، میرمن ګاندی په سیمه کی دهند دعظمت طلبی او بر لاسی غوښتنی او لـه پاکسـتان سره

ددښمنی دسیاست علمبرداره وه. اغلباً دحکومت په لومړیو وختوکی ئی ؤچی دروسیی دهغه وخت زمامدار « برژنیف » دیلی ته سفر وکړ دنوموړی دسفر لوی هدف په پاکستان باندی دحملی لپاره داندراګاندی تشویق اولمسون ؤ، روښانه ده چی برژنف غوښتل له دی لاری پاکستان خراب او مجاهدین د جارحیت خولی ته تك تنها پرمیدان پاتی ودروي. متأسفانه چی زه دهغه جزیان دسم تحلیل مواد په لاس کی نلرم او دقیقاً نشم ویلای چی وضعه څه وړوه او برژنف ولی په خپل هدف بریالی نشو البته

مجاهدینو تر منځ جګړه په فوق العاده شدت او توندي روانه وه. روسانو خپل وروستی امکانات او وسایل له ۱۷ فرقو پوځ او خپلی تولی بی رحمی، داړه ماری او وحشت سره دمجاهدو افغانانو مقا بلی ته راایستلی ؤ ، مجاهدین هم دبی حسابه او درنډ قربانیو د ورکولو او بی وسیلی توب له پړاونه په یوه مضبوط مجرب او با تاکتیکه جنګی ځواك باندی داوښتو مرحلي ته — نوی پلونه را اخیستی و. دروس او نړی د انتظار پر خلاف نه یواځی دجګړی او ردیدو بلکی دافغان

نښی وروښکارولی. ویل کیږی چی کله د «چرننکو» دښخولوتر مراسمو وروسته شهید جنرال محمد ضیاالحق له ګورباچوف سره کتل نو ګورباچوف ددیپلوماتیکی نورو مونو اومیلمه پالنی دتقاضا پر خلاف په ډیره ځیږه اوبی ادبانه لهجه ورته وویل : « په کلکه خواهش کوم چې نوردې پوستی درتولی کړه پوستی دی د اموسیند ته راورسیدی زمونږ حوصله نور په ختمیدو ده .» داچی دګرباچوف ددی خبرو په وړاندی خپل هیواد ته تر راستنید و وروسته دشهید ضیاالحق عکس العمل څه ؤ، بیل بحث دی چی

> هند اوروس غوښتل چی د ۱۳٦٥ کال په ژمی کی د هند له لاری د یو خطرناك سازش په وسیله پاکستان وران او دافغان ولس مقاومت ختم کړی. د پاکستان ننګیالی قاید شهید ضیاء نه غوښتل په داسی حال کی چی افغانی ورونه یې دخپلې آزادی دجګړی په نازکو شیبو کی په میړنی مقاومت بوخت دی پاکستان له هند سره په جنګ ونښلی.

زمونږ دمسلمان ملت دداعیی پر ضد داندراګاندی ناوړه سیاسي دریځ او په پاکستان کی دتخریبی فعالیتونو په لاراچول او دکابل له مزدوررژیم نه ئی په بیلابیلو ملاتړ سنه راښکاره شول .

بیا د ۱۳٦٥ دمنی په وروستیو کی ؤ که دژمی په لومړیو کی چی دروسیی نوی واکمن ګورباچوف هند ته سفر وکړ، داداسی وخت ؤچی زمونږ په هیواد کی دروسی لښکر واو

مجاهد قام دمبارزی روز افزون پیاوړ-توب او قوت له کرملین او دروسی پوځ دقوماندی په حرکت کی له فوق العاده تشویش او وارخطایی سره ګډ عصبانیت او قهرولو ستی ؤ ، عادی خبره نه وه دهغوی په غوږ ونوکی د وضعی مستقبل د سرو لښکرودماتی نه خوړلو دربکارد دړی وړی کیدوشپیلی غږولی او دیوه بی وزلی مؤمن قام په لاس ئی دهغوی دخوفناك هیبت دطلسم دختمیدو

دلته پری غږیدل موږ له اصلی موضوع لری کوی، پدی وخت کی ګورباچوف دخپل پوځ مشرانوته وویل چی تاسی دافغانستان دمقاومت ټکو-لولپاره دری کاله وخت لری، تردی زیات بیاددي جګړی ادامه دمسکو له وسه وځی پدی موده کی دخپل ټول زور ازمویلو صلاحیت ،فرصت او شرایط برابربری او باید په خپل ټول ځواك ددی قضیی کلم ورټول کړی .
ګورباچف پدی ډول یوه حالت کی هند

ته سفر وکړ هغه غوښتل پر پاکستان باندی دهند دیرغل په وسیله پرمجاهد- ینو باندی دخپل یری لاروموی، البته ددی خبری معنی دانده چی هند خاص دهمدی لپاره یرغل کاوه بلکی غوښتل ئی دپاکستان دتجزیی له لاری په سیمه کی خپله بر لاسی واکمنه کړی او په هند کی دآزادی غوښتو- نکو غورځنګونو حرکتونه وځپی خو دروسانو تر ټولو لویه او ستره ګټه او هدف هماغه وُ چی پورته موورته اشاره وکړه .دهند یو مشهور لیکوال چی ددفاعی چارو په تالیفاتوکی خورا ممتاز حیثیت لری. د ۱۳۶۵کال په ژمی کی په خپل یوه کتاب کی پر

پاکستان باندی دهند دیرید او بیانی د پشاکیدو تصمیم داسی انشا کوی : په ۱۹۸٦ م د ۱۳٦۵ هـ ش په هند کی «براس تیکسن نظامی تمریناتو اصلی هدف پر پاکستان برید کول وُ اصلاً براس تیکسن پلان په ۱۹۸۳ کی پیل شوی وُ تردی دمخه داډول ورکوټی تمرینات شوی

وو، تمرینات د ۱۹۸٦ په دسمبر کی پیلیدل تقریباً په همدی وخت کی یونوی اړخ راښکاره شو هغه داوُچی دپوځ قوماندان جنرال رسندرجي او دهیواد نور مشران پدی فکر شول چی داتمرینات دپاکستان پرخلاف دیوی واقعی جګړی په عملیاتو واړول شی، پلان داسی وُچی ۱۳ فرقی پوځ پاکستانی سند ته داخل شی چی په دریو ورځو کی « میرپورخاص » او په پنځو ورځوکی (حیدر آباد) قبضه کړی او پدی ډول سند له پاکستان نه جلا کړی خو داسی ونشول اوددی مسؤل جنرال سندرجی نه دی هغه کوم حالات وُچی راپیښ

شول او هند نه یواځی دتمریناتو په منسوخولو اړ شو بلکی پدی هم مجبور شو چی پدی بر خه کی دپاکستان له غوښتنی سره سم هر ډول ډاډورکړی، چی دایواځی جنګی تمرینات وو او په هیڅ توګه واقعی جګړه ایز عملیات نه وو . او پر ځای ددی چی پاکستان دهند په وړاندی

سرتیت کړی هند دپاکستان په وړاندی په سر خوځولو مجبور شو . پدی وخت کی چی څه پیښ شول هغه داوُچی د۱۹۸٦ دنومبر په ورووستیوکی په پولوکی دهندی پوځ دزوروړو انتقالاتو په وجه پاکستانیانو خطر محسوس کړ او له هندنه ئی دوضاحتونو غوښتل پیل کړل بهارت په پیل کی یواځی دومره وویل چی بس له معمول نه څه لوی جنګی تمرینات دی خو پدی کی په لوید یزو پولو ټول پروت پوځي ځواك ګډوُ، له دی امله پاکستانیانود تفصیلاتو غوښتلو کار روان وساته. دډسمبر ټوله میاشت دپوځ سرقوماندانی دفترله تفصیلاتو ورکولو ډډه کوله خونور پاکستان په ټوله معنی هوښیار شوی ؤاوددی فکر درلود لوی تر څنګ ئې چی شاید دا رښتیا جنګی تمرینونه وی دخپل پوځ انتقالات هم شروع کړل. د۱۹۸۷ دجنوری په نیمائی کی پاکستان متیقن شو چی هند پر پاکستان باندي دیرید نقشه جوړه کړی ده .پاکستان دهند دجنګی ځواك په وړاندی دخپل قوت دبی توازنی له مخی داسی حرکت نه کاوه چی دجګړی په پیل تمام شی له دی امله ئی یوه بله لاره غوره کړه چی ډیره معقوله او بریالی ثابته شوه، خپلی څو قطعی اویوه فرقه

ګورباچوف د خپل پوځ مشرانو ته وویل : تاسی د افغانستان د مقاومت د ځپلو لپاره دری کاله وخت لرئ. تر دی زیات بیا ددی جګړی ادامه د مسکو له وسه وځی . پدی موده کی د خپل ټول زور از مویلو صلاحیت فرصت او شرایط برابرېږی او باید پخپل ټوله ځواك ددی قضیې ګلم ورټول کړئ.

ئی چی « رحیم یارخان » او «سکهر » تر منځ په تمرین بوخت وو شمالی جبهی ته ولیږل چی په ډیره چټکه قومانده ئی په «پټهانکوټ» «فیروزپور » او «فاضلکا» باندی حمله کولای شوای. دپاکستان دی ساده حرکت هند دومره وارخطا او وویراوه چی نه یوازې ئی سملاسی دخپل پوځ انتقالات بند کړل بلکی ددی ترڅنګ دپوځونو دپه شاکولو پر خبره له پاکستانیانو سره خبرو اتروته هم چمتوشو .

تردی وروسته ئی دتمریناتولوری له شرقاً غر بانه چی پر پاکستان ئی برید آسانا وه شمالاً جنوباً کړ، په تمریناتو کی دګډون کوونکی پوځ شمیر ئی هم کم کړاو په ډیلی کی دپاکستان دسفارت دمسؤلینو په ګډون بی بهرنیو مبصرینو ته هم دتمریناتو دلید ویلنه ورکړه. پوښتنه داده چی دپاکستان دوه فرقی پوځ حرکت ولی هند دومره وار خطا کړ ؟ دایوازې پدی وجه چی پاکستان خبر داری ورکاوه چی موږ پوهیږو ستاسی دپوځونو لوی تمرکز او دتوپ خاني او وسایلو معیار او دهوائي قوی دبرتری له امله دسند دفاع نشو کولای نو که غواړی سند ونیسی موږ به پنجاب نیسو ځکه سیکان زموږ په یوه عادي برید هم پورته کیږي له دې امله موږ سند خوشی کوو یوازې څو دفاعی فرقی پریږدو چی ستاسی پر مخ تلون

> **د پاکستان حکومت او ملت پدی معتقد شو چې دپاکستان ملی ګټی، سالمیت او بشپړتیت دی ته ارتیا لری چی له مجاهدینو او دهغوی له اهدافو څخه پخپل پیوستون ټینګار وکړی.**

وځنډوی خو په پنجاب کی موږ دتوپ خانی او افرادی ځواك څرګنده برتری لرو او که یو ځل مولاروموندله بیا به کشمیر هم را سره یوځای کیږی نو پر مخ ځی ، څه چی کولای شی وکړي »! داوُد هغه انکشاف یو ه برخه چی هند ته دګورباچف تر سفر وروسته پر پاکستان باندی دهند دبرید په برخه کی اوس راڅرګند شوی دی . همدارنګه پدی وروستیوکی داخبره هم را څرګنده شوی چی په هغه وخت کی چی کله شهید ضیاً دکرکټ لوبو دتماشی په پلمه هند ته ولاړ نو دتولو دې تبلیغاتو چی ګویا دهند په وړاندی ئی دکمزوری او تملق سیاست خپل کړی منلو او دهند دصدراعظم راجیو ګاندی دټولوبی مروتیو اوبی ادبیو قبلو لو ته ئی دیوه مهم هدف لپاره تن ورکړ هغه هدف داوُ چی شهید ضیاً له ډیلی نه ترراروانید ودمخه له خپل سفارت څخه راجیوګاندی ته تلیفون وکړ او پنځه دقیقی وخت ئی تری وغوښت چی کله ورغی تر علیك سلیك وروسته ئې ورته په بشپړ قاطعیت وویل :« زه پوهیږم چی زما پرهیواد دی دبرید لپاره پوځونه راټول کړی دی خو واوره که داکارو شو ، زه به پرېږدی ځای چی زه او ته ولاړیواتومی بم غورځوم بیا چی څه کیدل هغه به کیږی دعواقبو پروائی نه لرم ... » مرحوم ضیاً چی کله له ډیلی نه لاهور ته ر اورسید پرهوائی ډګرئی خبریالانو ته وویل. « تاسی دصدر چکه » په کرکټ کی دکوم حرکت نوم دي » ونه لیده »!

په هغو ورځوکی یوبل عجیب کار شو، یو مشهور هندی ژورنالیست « کلد یپ نیر » له پاکستان نه په انګریزی خپریدونکی مسلم ورځپانی دهغه وخت له مسؤل مدیر مشاهد « حسین » سره دپاکستان دنامتو ساینسدان او ددې هیواد داتومی پروګرام ناظم داکتر عبدالقدیر خان ملاقات ته ورغی دچای خوړ لو پروخت « کلدیپ نیر » دقدیرخان دچیړ لوهڅه وکړه ورته وئی ویل چی پکار ده پاکستان داتومی بم جوړولو فکر له سره وباسی،هند ډیر ستر هیواد دی که تاسی یو بم جوړکړی

موږ لس جوړوو که تاسی لس جوړ کړی موږ سل جوړوو. داکتر قدیر خان ځواب ور کړ تاسی سلوته نه، یواځی دربوته اړتیا لری داسلام آباد ،کراچی او لاهور لپاره او موږلسو ته نه فقط ځلورو بموته اړیو دډیلی ، بمبئی ، کلکتی او مدراس لپاره پداسی حال کی چی موږ اوس دپنځو بمونو په جوړ ولوکی هیڅ مشکل نلرو که موکوم شرارت وکړ نو خوله ماتوونکی ځواب به د رکړو. داخبره دهند په مطبوعاتوکی خپره شوه. په هند ، پاکستان او ټوله نړۍ کی ئی غوغا جوړه کړه اوپدی ډول پر شوره تبلیغات پیل شول چی پاکستان دخپلو ټولودی ادعاوو پرخلاف چی اتومی پروګرام ئی سوله ایز دی او داتومی بم دجوړولوهیڅ تصمیم نلری پنځه اتومی بمونه لری دهند پرواکمنو فوق العاده شدیده ویره خپره شوه . په پاکستان کی اعتراضونه راپورته شول چی ولی یو مهم راز افشاء شو او مشاهد «حسین» دورځپانی له مسؤلیت نه استعفی کولو ته مجبور شو .

پدی برخه کی یوه دلچسپه خبر ه داده چی پر هغه وخت مشاهد حسین دچپی تمایلاً تودرلودونکي اوروس پلوه ژورنالیست په توګه مطرح ؤ خو او س داخبره عامه شوی چی نوموړی په پته کی داردو او شهید ضیاء نیژدی سړی واودی .نوله دی نه دانتیجه راوځی چي داکار اصلاً دهند دیرغل دشدید خطر درفع او دهندیانو دویرو لو لپاره دشهید ضیاء په مستقیمه اشاره او هدایت شوی ؤ

او همدلته ده چی سړی دسیاست پر پیچلتوب بانډی اقرار ته مجبور یږی له دی ټولو خبرونه زموږ مقصد دادی چی هند اوروس غوښتل د ۱۳۶۵ په ژمی کی دهند له لاری دیوه خطر ناك سازش په وسیله پاکستان وران او دافغان ولس مقاومت ختم کړی. دپاکستان مایه نا ز قاید شهید جنرال محمد ضیاءالحق نه غوښتل په داسی حال کی چی افغانی وروته ئی دخپلی آزادی دجګړی په ناز کو شیبو کی په میړني غورځنګ بوخت دی پاکستان له هند سره په جنګ ونښلی له دی امله ئی دښمن په بیلا بیلو حربود جګړی له حالت نه په شا کړ .

په تیرو دووکلونو کی چی په نړیوال سیاسی جوړښت کی کوم بدلون راغی پدی معنی چي دروس او امریکا دښمنی په دوستی واوښته اسلام دوارو خپل ګډ دښمن وښود امریکا دکمونیزم له خطره مصئونه شوه ، پاکستان ته چی امریکا پخوا کومه اړتیا درلوده هغه منتفی شوه ، د پاکستان پرتله دامریکا او اروپا تمایل دهند په لوری زیات شو، په افغانستان کی دمسکو او واشنګټن ګټی مشترکی شوی ، دی ټولو مسایلو او انکشافاتو د پاکستان مسلمان وطن دوست او دور اندیش قوتونه ،حلقی او رجال پردی لابنه وپوهول چی د پاکستان ملی ګټی سالمیت او بشپړښت دی ته اړتیا لری چی له مجاهدینو اوهغوی له اهدافو سره په خپل پیوستون ـــــــ ټینګار وکړی او په افغانستان کی د مجاهدینو د حکومت په جوړیدو کی وروسره جدی مرسته وکړی . او سنی ځانګړی نړیوال شرایط په طبیعی ډول دوی دی ته هڅوی چی باید خپل ټول اعظمی ځواك په کاروا چوی تر څو په خپل ګاونډ کی یوآزاد ، مستقل او مجاهد افغانستان ولری . پدی وروستیو کی حالات ښییئ چی په پاکستان کی دا رجحان دذهنیت او روحیی له سطحی عمل ته راوتلی او لا به راوزی ، که خدای (ج) وکړی همدا حالت ادامه ومومی ، بیا به روس او په تیره امریکا او د هغو حواریون حتماً پوهیږی چی وضعه تری په ډیره چټکی پر بله

درومی. پدی صورت کی شاید په ګډه همدی وسیلی ته لاس کړی- چی هند پر پاکستان باندی برید ته ولمسوی .که څه هم ځینی تحلیل ګران پدی نظردی چی د خلیج په بحران کی امریکا پاکستان او راپیدا شوی عارضی حالت د جګړی پیل ځنډولی خو موږ پدی فکر یو چی د خلیج بحران په اوسنی بڼه زیات دوام نشی کولای ، شاید ډیر چټك ئی یا په جګړه لوری معلوم شی او یا په سوله.

نه اعظمی ګټه واخلی ، ځانونه منسجم کړی ، پر امریکا د نفوذ لاری وتړی ، د کابل دمزدور رژیم پر ژرختمولو جدی کاروکړی او هم خپل نظامی قوتونه داسی متحرك او عیارکړی چی له شمال نه ځوك

په تیرو دوو کلونو کی چی په نړیوال سیاسی جوړښت کی کوم بدلون راغی ، پدی معنا چی د روس امریکا دښمنی په دوستی واوښته، اسلام دواړو خپل ګډ دښمن وښود. امریکا د کمونیزم له خطر څخه مصؤنه شوه پاکستان ته چی امریکا پخوا کومه اړتیا درلوده هغه منتفی شوه او دپاکستان پرتله د امریکا او اروپا تمایل دهند په لوري زیات شو.

په تیره ددی هیواد دپوځ ملاتړ ته اړتیالری او هم په غرب ددی هڅه وکړی چی په جنوبی آسیا کی د ځواك د توازن د ګډو ډیدو د مخنیوی لپاره د پاك هند جګړی مخه ونیسی . د لومړی خبری په برخه کی خوموږ مخکی اشاره وکړه چی د خلیج له بحران نه

د جګړی په صورت کی د جنوبی آسیا د سیمی سر نوشت اټکل ګران کاردی، خو د سولی په حالت کی بیا ددی احتمال ډیر قوی دی چی امریکا او روس د پاکستان په ضد د هند د پرغل کارت استعمال کړی ، ددی لپاره پکاردی چی مجاهدین له اوسنی مساعد فرصت

پاکستان ته چپ هم ونشی کتلای . پدی تیاریو هم کولای شی مغرض خارجی طاقتونه د هغوی د هڅوله بی نتیجی کیلو ودارکړی او هم که عملاً اقدام کوی د معقولی مقابلی حالت رامنځ ته شی.



د حضرت محمد (ص) نیکمرغه میلاد د بشري نېکمرغۍ دنجات او سعادت زيری

توریالی ځاځی

داسلام ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) د تاریخ په یوه ذاسي ځانګړي مرحله کي دنیا ته راغی چي بشري ټولنه د جهالت د تورتم په ناپایه سمندر کي ډوبه وه او په تیره بیا د عربستان شبه جزیره چي دروم او فارس د دوولویو امپراتوریو تر څنګ واقع شوي وه د نړۍ تر ټولو تاریکه سیمه ګڼل کیده . دروم او فارس دواړه امپراتورۍ د خپل تفوق او پراختیا غوښتني د حرص په نتیجه کي د پرله پسي ټکرونو او خونړیو جنګونو په نتیجه کي دومره ناتوانه او کمزوري شوی وی چي دعربستان د شبې جزیري د نیولو او اشغال قدرت پکي نه ؤپاتي شوي . سره له دي چي دغي جزیري یو مرکزي منظم نظام نه درلوده .

په عربستان کي ټولنیز جوړښت او اجتماعی ترکیب قبیلوی بڼه درلوده او هرې قبیلي په مشخص ډول سره صحرایي او بدوی ژوند درلود او دخلکو د ژوندانه اصلی او اساسي منبع مالداری تشکیلوله. د دي جزیري هره قبیله د خپل مشر پواسطه چي په حقیقت کي د قبیلي واکمن ګڼل کیده اداره کیده .

دالهی ادیانو ځای په تدریج سره خرافاتو او بت پرستۍ نیولی وو . داداسي زمانه وه چي په ټوله نړۍ په تیره بیا د حجاز په سیمه کي په مطلق ډول سره ظلم او ستم حکومت چلاوه . په دي زمانه کي ښځوته په ډیر حقارت سره کتل کیده او د ښځی بشري کرامات تر پښولاندي پایمالیدل.

دهندوستان په ټولنو کي ښځه په ډیر ستم او وحشت سره د خپل میړه تر مرګ وروسته له هغه سره ژوندۍ په اورکي سوځل کیده ، خو په حجاز او عربستان کي همدغه له وحشته ډک ستم او انساني ضد عمل داسي بڼه اختیار کړي وه چي هر چا به په خپل کورکي د نجونو له موجودیت څخه د حقارت او شرمندګی احساس کاوه مغرورو او کبرجنو خلکو به خپلي لوڼی ژوندۍ ښخولي ، خو بل چاته د هغوی په نکاح ورکول ورته شرم او ننګ ښکاریده .

د مرئیتوب او غلامۍ نظام په خپل وقبیح او ظالمانه شکل سره وجود درلود او د مریانو پیرودل او پلورل

يو معمولي او مروج كارو . او له بلي خوا د مريانوپه‌وړاندي د هغوي د خاوندانو چلند ډير ظالمانه او له انساني مواز نيو څخه ډير ليري و . د آسماني اديانو په ځاى بت پرستى رواج موندلى و. خلک دومره د جهالت او خرافاتو په تيارو كي ډوب وو چي په خپل لاس سره جوړو كړو بتانو ته به يي سجدي كولى . په ورځنيو كارونو كي به يي ورسره مشوري ، او دغم ، درد او مشكلاتو په وخت كي به يي ورڅخه مرسته او امداد غوښته،

د ټولو قبيلو خلكو په خپلو كورونوكي بتان درلودل .

خو دهغو بتانو شمير چي په مكه معظمه كي ايښودل شوي وو (٣٦٠) و. په دوى كي تر ټولو لوى بت هبل و چي له شام څخه يي د عبادت له پاره مكي ته راوړى و . او دهبل تر څنگ اته لوى بتان نور هم موجود وو . چي هر يو په خپل ځاى كي خاص مقام درلود،

په كعبه شريفه كي چي د نړۍ د ټولو مسلمانانو قبله او د خپل سپيڅلتوب او تقدس له مخي د خداى (ج) دكور خطاب ورته كيږى له بتانو ډكه كړى شوى وه او خلكو به په ډيره بى شرمى او وقاحت سره له هغوى څخه طواف كاوه.كه څه هم د حجاز په شا وخوا كي يو كم شمير خلك موجود وو چي دمسيح او يهوديت اديانو پيروي يي كوله خو هغو اديانو په احكامو كى

د حضرت محمد (ص) د مبارك او نيكمرغه ميلاد بركت و چى بشرى ټولنى ته يى د پوهې نيكمرغى او سوله ايز ژوندانه لاره خلاصه كړه او په انسانى ټولنه كى يى د ظلم ، بى عدالتى،وژنو، او زور زياتى پرځاى امن او عدالت رامينځ ته كړ.

ډير زيات تحريفات شوي وو ځكه خوبي نقش بى اغيزى وو .

لنډه دا چي ظلم او استبداد ، قتل او وژنى او نورو بيلو بيلو جناياتو ددي سيمي د اوسيدونكو په وينو او رگونو كي ځاى نيولي و . د كونډو، يتيمانو او بيچاره گانو مالونه او شتمني به يي په زور او جبر سره ورڅخه اخيستي . يو جليل القدر صحابى د عربو د دي دوري د جهالت او خرافات پرستۍ يو دوه خاطري داسي بيانوي :

الف : ديوي پيښى په رايادولو سره مي بى اختياره له سترگو او-ښكى و بهيږي او خپل ځان ته مي غوصه راشي چي مونږ څومره ظالم او جاهل خلك وو چي په خپل ځان او اولاد مو زړه نه سوځيده . هغه داچي يو وخت ماخپله ما شومه لور ژوندى په قبر كي ښخوله ، كله مي چي په قبر كي كيښوده او خاوري مي پري راواړولي ، هغي له ميني څخه خپل دواړه لاسونه زما په ږيره كي ښخ كړل ، خو ما په بى رحمۍ سره په هغي خاوري راواړولي او تر خاورولاندى مي ښخه كړه .

ب : د دوهمى خاطري په يادولو سره مي په خپل ځان باندي خندا راشي. هغه داچي يو وخت مونږ يو ليري ځاي ته په سفر روان وو . زمونږ سره د لاري اذوقه خلاصه شوه . كله چي ډير وږي شوونو مونږهغه بتان چي له خرماوو څخه مو جوړ كړي وو اوپه لاري به مو عبادت ورته كاوه وخوړل خندامي ځكه راځي چي ما هغه بت ته سجده كوله او خپل خداى مى گڼه (نعوذ باالله) چي يو وخت

مي په خپل لاس جوړ کړی ؤ، او بل وخت مي د لوږي په حال کي وخوړ.

لنډه داچي ظلم ، استبداد ، بت پرستي او خرافات پرستي خپل اوج ته رسيدلي وو . او دانسانيت د تقاضا وو مطابق د حقيقي ژوندانه نسبي هم له منځه تللي وي او خپل ټول ارزښتونه يي له لاسه ورکړي وو . ژونديو بنيادمانو هم په حقيقت کي د مړو

شريفي د موجوديت په اساس د اوس په شان له خاص برم او جلال څخه برخوردار ؤ، قريش د مکي د بيلو بيلو قبيلو له جملې څخه يوه قبيله وه چي په مکه کي يي ژوند کاوه ، څرنګه چي د کعبې شريفې د امورو سر پرستي ددي قبيلې په لاس کي وه، نوله دي کبله د خاص احترام څخه بر خمنه وه.

ورته وغوښته .

له واده څخه څو موده وروسته عبدالله شام ته د تجارت د پاره ولاړ چي د راګرځيدو په وخت کي ناروغه شو او د نوموړي ناروغۍ له امله په يثرب (اوسنی مدينه) کي وفات شو.

عبدالمطلب د عبدالله پلار ، او بي بي آمنه دده په مرګ زيات غمګين او متأثره شول او د اميد يوازيني منبع

د حضرت محمد (ص) له مبارك ميلاد سره سم په نړۍ کي ستر بدلونه او حيرانوونکي پيښې مينځ ته راغلې: په دغه مبارکه شپه د اسمان ځلانده ستوري د عبدالله کورته راښکته شول، د مکې له اسمان څخه رڼا وريده، مکه او د مکې په شاوخوا کي دارڼا دومره خپره وه چي ځينو خلکو د مکې د غرونو له جګو څوکو څخه د شام سواحل مشاهده کړي وو. د مکې تر ټولو لوی بت « هبل » په ځمکه نسکور شو، اود کسرا ماڼۍ (۱۲) بر جونه ونړيدل او زردشتيانو «اورتون» خاموش شو.

حيثيت غوره کړی و .

د تاريخ په داسي يوه مړ ژواندي او تبجنه دوره کي نړۍ يې داسي رڼا اولارښودته ضرورت درلود چي د بشري ټولني په رګونو کي دانسانيت د تقاضاوو مطابق د ژوندانه نوي ارزښتونه وځلوي او د بشري ټولني نظام ته ژوربدلون ورکړي.

که څه هم مکه معظمه په هغه زمانه کي يو وړوکی ښارؤ خود کعبې

عبدالمطلب د قريشو له مشرانو څخه يو مشر و چي په پوهه او تدبر کي يي شهرت درلود . نو ځکه په قريشو او نورو قبيلو کي د زيات احترام او عزت څښتن و . عبدالمطلب لس زامن درلودل چي تر ټولو کشر او ګران زوي يي عبدالله نوميده ، عبدالله ښکلي او جذابه ځواني درلوده او پلار يي دابوزهره د قبيلې يوه عفيفه پيغله چي «آمنه» نوميده

يي هغه طفل ؤ چي له عبدالله څخه د بی بی آمنی په بطن کي پاتي شوي ؤ.

شپې ورځې يو په بله پسي تيريدي چي يوه ورځ بی بی آمنې ته ځوك راغی او ورته يي وويل : ته ددي امت په سردار «اميدواره» يې . دهغه له تولد څخه وروسته بی د خدای (ج) په دربار کي دعاوکړه چي: «دحاسدانو له شرڅخه يي تاته سپارم».

پاتي په (۴۷) مخ

مولوی محمد یونس خالص

دافغانستان دمشکل اصلي عوامل

افغانستان ته څو پیړۍ دمخه اسلامي دین راورسید اودي ملت د خداي بند-ګۍ ته سرښکته کړ او په دي وپو-هیدل چي انساني ارزښتونه یوازي په اسلامي دین کي انسان ګټلي شي او دهمدي دین له لاري انسان پوره انسان جوړ یداي شي .انسان ته الله تعالي داسي قواوي ورکړي چي دهغوي په برکت په نورو حیواناتو حکمراني کولاي شي او د (ولقد کر-منابني آدم) مصداق واقعاً چي انسان دي او همدا انسان دي چي لوي خداي ئی ستائي اوفرمائی:(لقد خلقنا لا.نسان في احسن تقویم» «سوره والتین » خوکله چي انسان اسلام ته شاورته کړي ټولي قواوي ئی دانسانیت او انساني ارزښتو نو په خلاف عماریږي او په دغه وخت کي د (اولئك كالانعام بل هم اضل) اطلاق پري کیږي او همدغه وجه ده چي نن دشرقي اوغربي تش په نامه تمدن په نتیجه کي ګرده بشري نړۍ دهلاکت اوتباهۍ سره مخامخ ده.په اسلام کي څومره چي داسلامي ټولني دمشرتابه اطاعت ضروردي او داجتماع د سمبالښت لپاره پدي حکم شوي ؛ (علیکم بالسمع والطاعة ولوأمر علیکم عبد حبشي) «الحدیث»

په همغه اندازه مشرتوب دملت د اسلامي تربیي مادي ضروریاتو د پوره کولو دفکر ي او نظامي مداخلي څخه ئی دساتلو مسئولیت هم په غاړه لري ، او مکلف دي چي تروسي وسي کار اهل کارته دسپارلوله لاري خپل مسئولیت رفع کړي او ملت ته وښیي چي مشرتوب پخپله په اسلام مین او دانساني ارزښتونو یوه نمونه ده. متأسفانه چي دافغانستان په خلکو کي څنګه چي لازم وه هغه شاني اسلامي تربیه لاترسره شوي نه وه چي په نړۍ کي داسلامي لولونو پر ضد حرکتونه پیل شول - افغانستان ته هم دهمجوارو ملکونو څخه ددینداري په نوم ځیني رواجونه راغلل چي په اسلام برابر نه وه مثلاً د صفري میاشتي په نحوست عقیده ، په زیارتونو کي دملنګۍ په عنوان دځینو خلکو ډیره کیدل او دهغوي احترام،په لیونو باندي د بزرګانو خیال کول چي تراوسه ئی نښبي نښانئي موجودي دي،په ملت کي خپاره شول -دبلي خواڅخه دمشرتابه په اطاعت هومره زور واچول شوچي دمشرتابه دنا جائز حکم خلاف هم بغاوت بلل کیدواود؛(لاطاعة للمخلوق في معصیة الخالق)«حدیث» حکم دخلکو هیرشو .

په عین حال کښي له دي کبله چي د وخت دحکومتونو سره اسلامي پوهه پوره نه وه ونې نه شو کړاي دخلکو د دیني تربیي مسئولیت پوره کړی او له دي کبله چی په غیر اسلامی طریقه ملت دخپلو مادی نیمګړ تیاو پوره کولو ته حاضرنه و ځکه نودغه جامعه په

دېښني اودنیاوي ساحو کې د
دېرونیمګړتیا ووسره مخامخ پاتې
شوه .پدې شلمه پیړۍ کې چې
مواصلاتي ذرائع ډېر شول دشرق او
غرب استعماري طاقتونو ولیدل چې
افغانستان لکه څنګه چې دزراعت
اومالداري لپاره مساعد دئ همدغه راز
دصنعت او ماشینرۍ لپاره مساعدت
لري او په عین حال کې دمعادنو
امبارونه پکښې دي ځکه ئې نوهلې-
ځلې پیل کړي ترڅو داملت تر سلطې
لاندې راولي او افغانستان
دمستعمرې په حیث ترلاسه کړي.

-انګلیس چې مستقیماً په افغانستان
وروداننګل او غبس ماتوونکي ځواب
ئې ولید ځکه نو امریکا ، غرب
اوروسانو پیل وکړ تر څو دغه ملت تر
ذهني او فکري استعمار لاندې راولي.
دغه وجه وه چې افغانستان کې خلک
په درې طبقو وویشل شول : یوه
روس نوازه ډله ، بله امریکا نوازه
طبقه اودریمه دسپېڅلو افغاني
مسلمانانو طبقه

ظاهر شاهي حکومت سره له دې
چې دشرقي او غربي استعمار
دمنافعو توازن ئې ساتلو خو بیاهم له
دې کبله چې غربي ذهنیت دآسماني
دین مخالف نه ؤ ځینې نا پوهانو
ورته زیاته توجه وکړه او روسي
استعمار خپلو مزدورانو ته دکودتا
هدایت وکړ چې دغه نتائج ئې
رامینځته کړل . امریکا ونه غوښتل
چې افغانستان روسي استعمار ته
تسلیم شي دمجاهدینو ملا تړیې وکړ.
په تنظیمونو کښې هم دافغانستان
دري واړو طبقو ځای ونیو ځکه نو
دتنظیمونو تر مینځ دوحدت مسئله
دامکان څخه ووتله . روسي مشربه
خلك غواړي په هره پلمه چې دې
خلقیانو او پرچمیانو ته لاره پیدا او
دافغانستان په آینده حکومت کښې
ورته ځای ورکړي او ددې لارې څخه
دروسانو حمایه تر لاسه کړي . غربي
مشربه خلك غواړي او تاندوهي
دتیر حکومت ټول غړي سره یوشاني
تېرنه کړي ، په آینده حکومت کښې

پاتې په (۵۳) مخ

اسلام کې څومره چې داسلامي ټولنې دمشرتابه اطاعت ضروري دی او داجتماع د سمبالښت لپاره پدی حکم شوی په همغه اندازه مشرتوب دملت د اسلامي تربیې، مادي ضروریاتو د پوره کولو-دفکري او نظامي مداخلې څخه یې دساتلو مسئولیت هم په غاړه لري ، او مکلف دي چې تروسې وسې کار اهل کارته دسپارلوله لارې خپل مسئولیت رفع کړي او ملت ته وښئي چې مشرتوب پخپله په اسلام مین او دانساني ارزښتونو یوه نمونه ده.

سمیع الله «بتانه»

دو امپراطوری استعماری درافغانستان

مردم افغانستان در طول پنجهزار سال جنگاوران مختلف را دیده وبخاطری دفاع از وطن با حمله آوران بزرگ چون سکندر، چنگیز تیمور و غیره مصافداده اند،در تمام این نبردها حقیقتی که به اثبات رسیده است تسلیم ناپذیری مردم افغاتستان به بیگانگان میباشد .

افغانستان نظر به موقعیت ستر-تیژیك خود همیشه نظر جهانیان را بخودمعطوف داشته است واز همین رو آنها با ین سرزمین لشکر واردکرده،نبر دها اراستندکه یا به شکست مواجه شده اند ویا به پیروزیهای مؤقت وزود گذر دست یافته اند. برای مردم افغانستان این امر بیك اصل مدل شده است هنگامی که درك کرده اند که سر-زمین ابایی شان مورد تجاوز بیگا-نگان قرار گرفته است،تمام اختلا-فات ذات البینی را کنار گذاشته در برابر دشمنان خارجی بیك مشت واحد مبدل گردیده آنرا عقب زده اند .

این حقیقت امروزی نیست بلکه در گذشته ها نیز مردم ما معمولا" همین گونه عمل نموده اند زیرا اگر چنان میبو دمقابله با جهانگیران بزرگ چون سکندر چنگیز تیمور وسایر جنگجویان محلي ومنطقوی کاری اسان نبود .'

بگفته یك مورخ،افغانستان برای حمله آوران همیشه بمثابه سراب بوده است کدراین بیابان به امید دستیابی به هدف پیش رفته اند تااینکه غرق شدد اند .

این حقیقت است،که تسخیر افغانستان نسبت به اختلافات در-ونی برای اشغالگران اسان بوده، اماحفظ ان برای شان سخت دشوار وگران تمام شده است.

انگلیس ها بعد از تأسیس کمپنی شرق الهند بطرف شمال به اشغا-لگری نظامی ودست اندازیهای سیاسی پرداختند،از انجایکه درهمان روز گار سرحدامپراطوری احمد شاهی به قلب نیم قاره هند میرسید لذا انگلیس ها با اشغالگری جدید خودراهمسر حد و همسایه افغانها ساختند،چون هدف انگلیس ها پیشروی مزید بطرف شمال بود لذا این دو امپراطوری بزودی با هم در تضاد واقع گردیدند بنا" امپراطوری انگلیس بخاطر تضعیف امپراطوری افغانی بەدسایس مختلف چون بذر تخم نفاق و تقویه ،دشمنان محلی وداخلی پر داخته وبزودی توانست سهم بارز را در تجزیه امپراطوری احمدشاه بابا ایفانماید .

برای انگلیسها اضمحلال امپراطوری احمدشاه بابا عایه نبوده بلکه دسترسی به سرزمین افغانها هدف ستراتیژ-یك شانرا تشکیل میداد از همینرو بمرور زمان از نفاق داخلی، ضعف امراوخانه جنگی ها استفاده نمود با وسیله قراردادن شاشجاع به کابل مرکز افغانستان دست یافتند .

باین ترتیب انگلیسها درطول مدت بیش از یك سده بعد از پاگذاشتن

نیم قارد هند به هدف خودرسیده بودند وبه طرف شمال خـودرا همسرحـد ترکستانات ساختند.

منظور سخن دراین است کـه انگلیسها باوجودیکه بخاطرحفـظ منافـع نظامـی و سیاسـی خـود سخت کوشیدند افغانستان را بحیث مستعمره تحت اشغال داشته باشند و در این راه حیل مختلف را بکار بستند به نفاق لسانی ،مذهبـی و ملی در میان مردم افغانستان دامن زدند افراد واشخاص وحتی گروهای مختلف را بخاطر پیشبرد اغـراض شوم استعماری استخدام نمودنـد ولی هیچ سـودی نبخشید.

انگلیس که در آن زمان ازنگاه نظامی سیاسی و اقتصادی سرآمـد ویکه تاز معرکه بود اعتنای بــه مقاومت افغانها نداشت،منافــع بین المللی و ستراتیژیك امپراطوري بریتانیا بزرگ که درآن وقت درسرزمینش افتاب غروب نمیکـرد حکـم میکرد تا سـر زمین پرغروروافغانـهانیـز جـز امپراطوری انگلیس باشـدتـا نگذارد روسها بطـرف جنوب پیـش آمـده خود را به هند نزدیك سازنه افغانها که از انگلیسها بخاطـر دست داشتن شان در تجزیــه امپراطوری افغانی وتشدید نفـاق داخلی وبالاخره اشغال کشور سخت تنفر پیداکرده بودند از ابتـداي مداخله نگذاشتند براحت باشندعلاوه از جنگهای محلی سـه جنگ بزرگ ، را در دهه های چهل وهشتادسده نزده ودر اخیر دهد دوم قرن بیست باانگلیس ها نمودند کد در هر یك انها افغانها با فداکاري و ازخو گذري ثابت ساختند کد دین وطـن و آزادي را بیشتر از جان خویـش دوست دارند ونمی گذارند کد بیگا- نگان بر سرنوشت شان حاکـم باشند

قربانیها وقهرمانیهاي افغانهـا در طی جنگهادرتاریخ استعمـاري امپراطوري انگلیس و در تاریخ پـر افتخار کشور مانقش است افغانهـا ثابت ساختندهرانکه نقش پایش در، وطـن آنها فتاده از قافله چـون برایدن یکنیمه جان نجات یافته است، درینجا ست که مؤرخ انگلیس گفتــه، گرفتن سرزمین افغانها آسان امـا نگهداشت آن سخت ودشوار میباشد.

انگلیسها نتوانستند درکشورمـا در اثـر مقاومت شدید مـردم بـه اهداف ستراتیژیك خـویش نایــل ایند همان بود کـه در جنگ سـوم یعنی ۱۹۱۹ شکست قطعی خورده – افغانستان را بـه افغانها واگذار- شـدند،این نخستین شکست امپـرا- طوری بریتانیای بزرگ در شرق بو د واین در حالی بود کـه هنوز امپرا طوري بیکتاز وحاکـم میدان نظامی، سیاسی واقتصادی جهان بحسـاب میامـد .

امپراطوری انگلیس با شکسـت در افغانستان رویـه اضحـلال گذاشت وکشورهای تحت استعمار آن یکی پی دیگر ی به آزادی رسیدند، باین ترتیب دور سقوط ونــزول ، امپراطوری بریتانیا یکبیـر ازشکست نظامی وسیاسی اش در افغانسـتان آغـاز یافـت .

افغانستان بعد از نایل آمدن بـد

با شکست کمونیزم این حقیقـت تاریخی یکبار دیگر به اثبات رسیـد که افغانستان مدفن متجاوزین جبار تاریخ است ویا با عباره دیگر افغا- نستان وافغانها در طول تاریخبرای متجاوزین وفاتحان سنگ محك بود- انـد.

آزادی باز هم اهمیت سوق‌الجیشی خود را حفظ نمود وقدرت هـای منطقوی و بزرگ جهان این اهمیت را از نظر دور نداشتند.

روسها کاز دوران تزاریها درتب رسیدن بد آبهای بحرهندمی‌سوختند هنگامیکه امپراطوری انگلیس باتجاوز بر افغانستان خود را بد شمـال هندوکش رسانید روسها نتوانستند درانوقت باین ارمان دست یابند.

باسقوط امپراطوری روسید تزاری توسط کمونستها ارزوی دستیابی بـه آبهای گرم بحرهند باز هم شامل لست اهداف ستراتیژیك نظامیگران کمونستی روسید گردید، کمونستها در عوض سیاست زور ازمایی تـزاری، پالیسی مخیلانـد(دوستی وهمزیستی مسالمت امیز)را عنوان نمودندتـا مناطق وکشور ها را اشغال نمود ه بتوانند. این مداخلد گران طماع‌که بد افغانستان بحیث دروازه بحرهند چشم دوخته بودند بابهانـه هـای مختلف از در دوستی پیش امـده بشکل تدریجی بخش های‌حیاتی

مملکت چون نظامی ،سیاسـی و واقتصادی راتحت تاثیر وادارمخود قرارداده بد تاسیس و پرورش سازـ مانهاوایجنت های خدمتگزار اقدام نمودندتا بتوانند بااستفادد ازین‌گروه های نوکر صفت دراینده به اهداف شوم خود برسندکه تاسیس احزا ب کمونستی خلق ـپرچـم به همیـن سلسلد بـود.

از طرف دیگر رژیم کمونسـت روس بخاطر رسیدن بد آبهای گـرم نمیتوانست مانند قرن های گذشتـه عمل کند لذا کوشش کرد تا بـه لباس افغانی داخل افغانستان‌گردد همین بود که ازطریق نوکران حلقه بگوش خود دست بد کودتای خونین هفت ثور ۱۳۵۷زد .

کودتای خونین هفت ثور کـه بدستور روسها توسط نوکران گـوش بفرمان روسها در افغانستان عملی گردیدگامی‌بود از طرف روسهابخاطر رسیدن بد آبهای گرم بحرهندکـه این حقیقت با مداخلـد نظامـی روسها به افغانستان جامـد واقعیت ؛ حقیقت رابیرکـرد.

ارمان تزاری ها به افغانستان لشکر کشی نمودندآنها نیز مانند انگلیس ها فکر کرده بودند کد باایجادنفاق بزودی میتوانند افغانستان را تحت تصرف درآورند اما روسها نیز مانند انگلیس ها کور خوانده بودند.

کمونستهای روسی باقوای قریب به یکصدوپنجاه هزار عسکر که بنـام، اردوی سرخ از نام وشهرت عالـی جنگی بعد از جنگ جهانی دوم‌برـ خوردار شده بودند وارد افغانستان شدد تمام ساحات را اشغال وبا در نظرداشت اهداف آتیه در مواضـع ومناطـق مختلف بد احداث پایگاد های مدرن وجایگزینی قوای خویش، پرداخت تابتواند هم افغانستان را

امپراطوری انگلیس با شکسـت در افغانستان روبـه اضمحـلال گذاشت وکشورهای تحت استعمار آن یکی پی دیگر ی به آزادی رسیدند باین ترتیب دور سقوط ونـزول ، امپراطوری بریتانیا یکبیـر ازشکست نظامی وسیاسی اش در افغانستان آغـاز یافـت .

روسهای کمونست بخاطرتحقـق ، اداره نماید وهم خودرا بد هد ف

ستراتيژيك نزديكترسازدروسها باوارد نمودن قواى خود همه چيز را ختم شده وافغانستان را جز قلمرو خود وجمهوريت شانزدهم خود فكر كردند بد همين‌سلسلد نقشد نيز انتشاريافت كه افغانستان درآن جمهورى‌شانزدهم روس نشانداده شدد بود .

حكمروايان جباركمونيزم درمسكو باتبانى كمونسها هاي وطنفروش، خلقي وپرچمي در كابل بايـــن انـديشد بودند تا ملت راپيش از انكه بپا خيزد ازپادراندازنـد لذا بد دستگيرى وقتل افرادبـا شخصيت و مردم دار وبا ديانت و مسلمان افغانستان اقدام نمود ه هزاران تن را بدون هيچ گناهـى بد پوليگونها وجوخه‌هاى اعـدام دسته جمعى فرستادند چنانچـه حفيظ الله لعين گفتد بود :مـن از هفده مليون دو مليون آنرا كـار دارم .

خلاصد مردم مسلمان و قهرمان افغانستان با درك نيات شوم كمونستها ى وحشى با ساده تريـن ، وسايل چون شمشير تبر كاردوتفنـگ ابتدايى،در مقابل اردوى سرخ روس كد بامدرن ترين سلاح تادنـدان مسلح بودند با نعره‌الله اكبر قيام كردند. نعره الله اكبر بزودى در ميان كوهها و دره ها وصحراهـاى كشور پيچيده و مردم مسلمان افغانستان با قهرمانى وشجاعت بى‌مثل به قواى مزدور كمونست كابل واردوى روسى هجوم برده سلاح ومهمـات شانراابتياع ودوباره عليد آنهابكاربردنـد .

اين جريان چنان بسرعت بـه سودمجاهدين بر حق وآزادى خواد افغان ادامد يافت كد همه جهانيان با تعجب با حقيقت مقاومت سـرسختاند ملت قهرمان افغان در برابر ابرقدرت ظالـم روس وقواى وحشى آن مواجه شدند .

ملت مجاهد افغان دد سال در برابر ابر قدرت جهان كه هدفـش اشغال افغانستان ودستيابى به بحر هند بود چنان جنگيد كد بالاخره ابر قدرت روس را به شكست شوم‌آورمواجـه ساخت و روس ها بعد ، از دادن هزاران كشتد ومعلول و مصرف مليارده‌ا دالـر قواى نيمه جان وبـه ستوه رسيدة بد اصطلاح اردوى سرخ خود را از افغانستا ن خارج نمودوارمان اشغال افغانستان را باخود بگور بردآنچد دربن‌بخش بيشتـر دلچسپ است اينست كـد امپراطورى خونخوار كمونستي روسيـه نيز بعد از شكست نظامـى اش در افغانستان مانند امپراطورى انگليس ها روبد اضحلال وتجزيه گذاشـت مردم كشورهاى اروپاى شرقـــى كد بيش از چهل سال تحت ستـم كمونستى نفس براحت كشيده نميتوانستند وباشنيدن نام اردوى سرخ‌روس موبر اندام شان راست مى‌شد بعد از پيروزى افغانها بد ميان‌تهى بودن اين اردو پى برده علم مبارزات سياسى وازادى خواهـــى، را برافراشته يكى بعد ديگر بـه پيروزى رسيدند تا اينكه چايسسكو اين جانى ترين واخرين رهـبر كمونستها در اتش خشم ونفرت مردم سوخت،ديوار برلين كد كمونستهـا ى المانى بفرمايش دكتاتوران كمونست كرملين در قلب ملت المان ددمنشانه اعمار نموده بودند در برابر قهـر وخشم مردم چون يخ آب شـد.

در داخل كشور روسيه‌نيزمردمان تحت ستـم كد بنام ديكتاتورى‌پـرولتاريا سخت كوبيده شده وتمـام افتخارات‌وارزش هاى ملى،مـذهبى، اجتماعى ،سياسى و اقتصادى شان يا نابود ويا توسط كمونستها به يغما برده ميشد بپاخاسته علاود ازاسترداد حقوق سلب شده شان‌خواهان ازادى كامل از مسكوگرديدند.

اينها همه ارمغان انقـلاب، اسلامى افغانهابه آن مردم جها ن است كه تحت ستم سيستم كمونير م بودند .

لذا اين امر بمردم جهان‌بحيث يك حقيقت مسلم به اثبات رسيد ه است كه شكست واضحلال د كتاتورى كمونستى روسيه از شكست نظامى‌و سياسى روسيه در افغانستان اغا ز يافته است‌دكتاتورى كه بتيلرش بـه ادم كشى،ضد يت‌باانسان،استثمار انسان وبزنجير كشيدن ملت هـا استوار بودوباين ترتيب امپراطور ى

بقيه درصفحه (٧٢)

هیش خلیل

دتاجکستان

د آزادی غورځنګ

تیره میاشت د تاجکستان په مرکز دوشنبه کی حکومت هنګامی حالات نافذ او کرفیوو لګولی شوه، د دغو سختو اقداماتو منطقی نتیجه دا راووتله چی د کرفیو او هنګامی حالاتو د نفاذ باوجود حالات ښه نه شول او هلته حالات د پوځ له کنترول څخه وتلی دی د اخباری اطلاعاتو له مخی هغه وخت حکومت دوشنبه کی شپږزره پوځ او ټینکونه تعینات کړی وو. ولی د خلکو له خوا په مظاهرو او ورځو روز کی هیڅ کمی ونه لیدل شو. د بین الاقوامی ابلاغی ذریعو مطابق دا فسادات د دارالحکومت خواو شا علاقوکی هم خواره شوی وو، ښارکی مظاهرینو د خپلی دفاع د پاره تنظیمونه جوړ کړی وو او هر کله چی موقع به په لاس ورغله ګاډو او موټروته به یی اوورونه اچول. د دغو حالاتو له مخی حکومت دغه علاقه د غیر ملکی صحافیانو د پاره (ممنوع علاقه) ګرځولی وه او روسی پوځیانو به د سختو اقداماتو له مخه د کمونسټ ګوند په هیڅ کواټرو باقاعده پیره ورکوله.

دوشنبه کی د یوه مسلمان تاجك د وینا مطابق ښاکو نه د دوه نیمو زرو ارمنیائی عیسایانو په ورتللو مقامی مسلمانان مشتعل شول او تاجك مسلمانانو په فوری ډول د هغوی د ویستلو مطالبه وکړه، ځکه چی د ارمنیا دغه عیسایان په هغو کورونو کی آباد کړی شول کوم چی مقامی مسلمانو ته د تیرواتو کلونو راسی نشو ورکولی. مقصد یی دا ؤ چی د روسی حکومت تاجك مسلمانانو کی د انتشار په ذریعه خپل مقاصد ترلاسه کړی.

روس کی د مسلمانانو آبادی پنځه کروړه ده چی د روس د مجموعی آبادی پنځمه برخه ده، ځکه نو په دومره لوی تعداد کی د

مسلمانانو حقوق نظر انداز کول او س د حکومت د پاره څه آسانه کارندی، هلته ټول ولس د آزادی په جذبه مست د اویا کلن کمونستی مستبد نظام خلاف دی او په قومی مفاداتو، ذاتی نظریاتی یو والی‌ته ترجیح ورکوی. د نن نه الضمیر واضح اعلان وکړو،نو د روسی قومیتونو مذهبی، لسانی او ملی اختلافات‌رامخی ته شول او د روس هر ـ شعور دا محسوسوی چی د روس اولس خپل قومی او مذهبی تشخیص ته په کمونیزم ترجیح ورکوی،ولی لکه مسلمانان شهیدان کړل. ولی د دی هر څه باوجود بیاهم مجاهدینو روسی پوځونو ته یو عبرتناك شکست ورکړو او بیا د مجاهدینو د دغه عظیمی فتحی په نتیجه کی پوره ختیز یورپ د روس له غلامی نه آزاد شو.

په روس کی د مسلمانانو آبادی پنځه کروړه ده چی د روس د مجموعی آبادیۍ پنځمه برخه تشکیلوی، ځکه نو په دومره لوی تعداد کی د مسلمانانو حقوق نظر انداز کول اوس د حکومت له پاره څه اسانه کارنه دی، هلته ټول اولس د اسلام او آزادیۍ په جذبه مست د کمونستی نظام خلاف دی.

اویا کاله د مخه چی روس کی کمونست پارټی اقتدار تر لاسه کړو نو هغه وخت دا دعوی وکړی شوه چی دا یو اولسی انقلاب !!! وو او اولس د بادشاهت تخته واړوله او اوس د کمونست نظریی بالادستی قایمه شوه،ولی اوس چی گورباچوف د حقیقت پیژندنی په نوم د خپل مافی په دی حقیقت پوهیدل څه گرانه نه ده چی د وسطی ایشا په مسلمانانو ظلم او ستم د روسی سامراج په تابوت ورروستی میخ ثابت شی ځکه چی د هغه ځای اولس دی حقیقت ته رسیدلی دی چی روس د ولس کاله د مخه په افغانستان پوځی جارحیت وکړ او هلته یی پنځلس (۱۵) د روس صدر میخائل گورباچوف د ماسکو د پارلمنټ اجلاس کی دا خبره تسلیم کړی ده چی اوس روس کی مذهبی جذبات دومره را پاریدلی دی چی د حکومت تقدیر هم بدلولی شی.د هغه د وینا مقصد دادی چی د روس مسلمانان او نور اقلیتونه د

خپلو حقوقو ترلاسه کولو د پاره د حکومت خلاف خپل آخری جنگ ته لاسونه اچولی دی .

تر اوسه خو کمونسټ گوند په اصطلاح د اولس تقدیرونه بدلول، ولی اوس آینده د پاره دا د کمونسټ گوند روس خبره نه ده اوس نوی حالات د مخه دی ، نوی سیاسی او مذهبی حالات را پیدا شوی دی چی نه صرف د ملك تاریخ به بدل کړی ،بلکی جغرافیه به یی هم بدله کړی ، گوربچوف بیا بیا خپلو ملگرو ته وایی چی : (ملگرو راغونډ شی) هره هغه هڅه به وکړی چی د آزادی دا راپورته شوی لمبی سړی کړی ولی اوس گورباچوف او د هغه کامریدان په دغه پوزیشن کی نه دی . د کمونسټ گوند د ترجمان اخبار (پراودا) مطابق روس کی د انتها پسند و د برسراقتدار راتللو خطره زیاته شوی ده،ملك کی په محاذ آرائی ، گروډی او عدم تحفظ د خپلی فکرمندی د اظهار په موقع خلکو ته خواست شوی دی چی د گورباچوف د اصلاحاتو د منصوبی تحفظ وکړی ځکه چی انتها پسند د جمهوریت د نارو په پلمه د اولس د اضطراب او بی چینی نه فائده ترلاسه کوی او په ملکی سطحه د هر ټالونو او مظاهرو د پاره په اقتدار د قبضه کولو منصوبی جوړوی دغو حالاتو او واقعاتو کی کومی خبری چی بیا بیا مخی ته راځی د هغو نه دا اندازه لگیدلی شی چی روس په مظاهرینو د ټینکونو د حملو په قوت خپله دفاع کړی ده .

د روس جمهوریتونوکی د ماسکو خلاف چی کومو پا څونونو سر پورته کړی دی د هغی دائره ورځ په ورځ پراخیږی،د ماسکو حکومت ټولو جمهوریتونو ته په یوه سترگه نه گوری بلکی ځینو طبقو سره امتیازی سلوك کوی . د دغه سلوك نتیجی هم روسی حکومت ولیدلی او نړۍ په دغه حقیقت رسیدلی ده چی د روسی جمهوریتونو خلك په حقیقت کی څه غواړی ؟

د دوشنبی حالات خپل عروج ته رسیدلی دی درانه ټینکونه او پوځونه د ښار گشت کوی ـ ولی بل خوا تاجك مسلمانانو د ښار د سترو علاقو کنټرول ترلاسه کړی دی .

د تاجکو د تحریك د ختمولو لپاره روسی پوځونو جدید ترینی وسلی استعمال کړی دی چی د هغی په وجه تقریباً په سوونو خلك مړه او له څوارلس سوه څخه زیات کسان سخت ژوبل شوی دی د تاجکستان د کمونستی گوند علمبرداران آوس په دی خبره مجبور شوی دی چی استعفی

گانی ورکړی، ځکه چی تر اوسه (۳۹) روسی پوځیان هم سخت ټپیان شوی دی او د تاجکستان د کمونسټ گوند د سربراه له خوا د پرامنه اوسیدلو خواست بی اثره شوی دی .

د تاجکستان د کمونسټ گوند سربراه له خلکو نه بیا بیا غوښتنه کوی چی د علاقی روسی ټینکونو مقابله کوی او کله کله خو د کمونسټ گوند د مرکزی کمیټی عمارت نه د چار چارپیرو پوځیانو حلقه هم ماته کړی او روسی پوځیان لگیا دی د هغوی په ویشتلو خپله دفاع کوی . د بخارسټ ریډیو نشریات د دی خبری گواه دی چی د مسئلو بنیاد پرته د بیروزگاری ځخه ورځ دومره مجبوریږی چی د اولس خبری ته د زړه نه غوږ ایښودلو ته هم تیار نه دی ، اوس تاجکستان د هغه د پاره دومره مهمه مسئله جوړه شوی ده چی په قول د هغه (گورباچوف) د دغو خلقو خلاف د سختو اقداماتو ځخه کار واخیستل شی .

گورباچوف دا هم وایی

د روس په جمهوریتونو کې چی د مسکو په خلاف کومو پاڅونونو سر راپورته کړی دی د هغی دایره ورځ په ورځ پراخیږی. د مسکو حکومت ټولو جمهوریتونو ته په یوه سترگه نه گوری بلکه د ځینو طبقو سره امتیازی سلوک کوی.

د کشیده حالاتو له مخی خپل ځانونه په هر ډول چی وی مسلح وساتی چی د خپلو کاروبارونو او ځانونو دفاع وکړی شی او س د دی خبری نه هیڅوک هم انکار نشی کولای چی د تاجکستان مسلمانان د روس خلاف د د تاجکستان په خلکو کی د اسلامی جذبی تجدید دی .

میخائل گورباچوف چی له دغی مخکی هم د قسما قسم مسئلو سره مخ دی اوس ورنه د روس هر ریاست (جمهوریت) د خپلی آزادی حق غواړی او هغه ورځ په چی د روسی اولس مستقبل او د هغوی د حفاظت معامله د سختو مشکلاتو سره مخ ده ځکه نو د دغو بغاوتونو د ختمولو د پاره به هر ممکن قدم پورته کولی شی . ولی د روس حکومت اوس هیڅ نه شی کولی، ځکه چی دا معامله

اوس د هغه د،وس خبره نه ده . تاجکستان د روس په سرحدی علاقو خپور مشهور اسلامی مرکز دی . دا د بالټيك رياستونو جنوب ته پروت دی . د تاجکستان د آزادی تحريك د روسی حکومت د پاره لوی سرخوږی دی.دلته چی کومی

انتظامی په ستونزو کی هره ورځ اضافه کيږی . د آزادی دا تحريك لکه د اور د لمبو لگيا دی خپريږی ، تاجك لگيادی په دغه خبرهٔ احتجاج کوی چی د ارمنيا مهاجرو ته د حکومت له خوا بهترين رهايشی سهوليتونه ورکولی

محروم ساتلی شوی دی ، ځکه نو اوس په دی خبره کی د شك او شبهی هيڅ گنجايش نشته چی د روس د جمهوريت تاجکستان په دارالحکومت دوشنبه کی د قيام اورلگيدلی دی او کيدلی شی چی د اور دا لمبی د روس ټول ـ

د دوشنبی حالات خپل عروج ته رسيدلی دی، درانه ټينگونه او پوځونه د بيارگشت کوی، ولی بيا هم تاجك مسلمانانو د بيار د ستړو علاقو کنټرول تر لاسه کړی دی.

هنگامی احتجاجونه او جلوسونه ويستلی شی هغه حکومت بغاوت تصور کړی دی . د تاجکستان د مسلمانانو د آزادی لار خپله کړی ده ، ځنگه چی تاجکستان د روس له ټولو نه د يو مهم اسلامی مرکز حيثيت خپل کړی دی . په دغه حواله دلته نه په وړو مبی ځل د آزادی د تحريك په زړه پوری آغاز شوی دی چی د هغی په وجه د ماسکو

شی هر کله چی تاجك مهاجرين له دغو سهولتونونه

جمهوريتونه پخپله لمن کی راونغاړي .

محمد ظاهر باهری

دزندان له خاطرو څخه:

...او هغه يې په بې دردۍ شهيد کړ

دوير او وحشت نه په ډك چاپير-
يال كې دلوړو لوړو اوسپنيز و،
ديوالو او پولادي پنجرو شاتـه
د رنځونو، كړاوونو اوواويلانــــه
ډكه فضا كې ،يوازي او يواز ى
د زولنو او اتكړويو شر نګهار، د
اسيرو مظلومانو د فريادونو سر ه
يو ځاي د وحشتناك سكوت ګر -
يوان ته لاس اچولى و٠٠
هغوي چې د اسلام او -
اسلاميت پخاطر ؛ دوطن دآزا-
دۍ پخاطر او د روسي يرغلګرو
سره د مقابلې پخاطر د وحشت
په تورو پنجروكې بنديان شوي و٠
دخاد په تيارو كوټه قلفيو كې د
روسي وحشي صفته غلامانو پــه
هغوي د هيڅ ډول شكنجو ا و
تعذيبونو دريغه نكوله ،دچابـــه
يې نوكان ايستل چاته به يــى
الكتريكي شكنجى وركولى ،څينى
به يى د خوړونكو سپيانو ســره،
اچول ،دچا بهيى زيږشكوله ،
ځينى به يى پر ټانك پوري تړل ،
او كشول به يى دځينو په و-
جود باندي به يى ګرم قيراچاوه
اود هغى د سوزيدلي غوښىنــه
به چې كومه توره لوخړ ه جګهشوه،
نوسرې وژونكو بى رحمه خادستانو
به ورنه داسي خوند اخيسته لكه
د كباب اوسګرټونهـ او ددغـــــو
ټولو شكنجو په پاى كى به دغو
بى رحموسرى وژونكو د اسلام-
مينانو ته ويل :اصلي جزا خــو
مولاپاتىده ... رښتياهم چــى
هغو وحشي صفتو جلادانو دډيرو
پلرونو او ميندو اولادونه د ډيرو
ماشومانو پلرونه او د ډيرو كورنيو
غړى په بى رحمى سره شهيدان
كــړل. دزندانيانو هيڅ خوب نه
و٠ او هرد شيبه به بى د. هغــه -
حالت انتظار كاوه چې دهغوى پــه
مخ كې هره شپه د هغوى پر نـــور و
مسلما نو،باشهامتو، متدينو او پــه
اسلامينو ورونو باندى تيريده. نـه
پوهيږم په هغه وختكى چې زههم
د هغو تورو پنجرو تر شا د
ظلم او شكنجو په زولنو كى لــه
خپلو مسلمانو او دينداړو وروڼو
سره يو ځاى بندى وم د كــوم
يوه حالت بيان كړم د كوم يود
د زړه پرهارونه وسپړم او پــــه

کومه ناکرده وژارم د کوم یـــوه
شهید یادوخیرم ...

***

د ۱۳٦٦ کال د میزان پـه
وروستیو شپو ورځو کی د چهار-
شنبی په یوه ورځ د زندان د
تورو پنجرو تر شا تولو زندانیا-
نو د خپلو پایوازانو انتظارایسته
پدی وخت کی د جارچـی پـه
لاس کی د هغو زندانیانو لست
وُ چی پایوازان یی د زندان په
لویه دروازه ننوتی وه .همدا وُ
چی ماهم خپل نوم واوریده -
ورغلم گورم چـی زما د کورنی،
تول غری زما د لیدلو د پاره
راغلی دی ستړی مـشی مـــو
وکړه گورم چـی د دوی په منځ
کی یو ناپیژندل شوی سپین‌ږیری
هم ناست دی هغی سره می هم
ستړی مـشی وکړه او بیا می د
خپل پلارنه پوښتنه وکړه چی دا
سپین ږیری خو می ونه پیژند ،
څوک دی ؟پلارمی وویل زویـه!
داهم ما غوندی د یو زوی پلار
دی چی یو کال کیږی دخپل ،
ځگر په توته پسـی سرگردانـــه
او لالهانده گرځی خو او س،
چا ورته پته ورکړی چـی ســتا
زوی د ننگرهار په عمومی زندان
کی بندی دی ما چی دخپل ،
پلار خبره واوریده نو سپین‌ږیری
نه می پوښتنه وکړه چی بابازوی
دی څه نومیږی هغه راته وویل ،
چی یاسین.او د هغه تولی‌نښی
نښانی یی بیان کړی ،ماچی‌کله
د سپین ږیری له خولی نه د
هغه د پتمن او په اسلام مـین
زوی نوم واوریده نو په ســو ځ،
کی دوب شوم چی دی سپین-
ږیری ته څنگه ځواب ورکړم ځکه
چی د هغه پر زوی باندی د
روسی پلورل شوی حاکمانو لخوا
د اعدام حکم شوی وُ.سپین-
ږیری راته مخ واړوه‌او وویل چی
زویه په کوم سوچ کی دوب شوی
آیازما زوی پیژنی؟دلته شته دی؟
وژل شوی؟ او که ژوندی دی او
کم څوک یی نه پریږدی چی زما
څنگ ته راشی چی زه ورسره -
وگوړم ده زیاته کړه که زماپه زوی
باندی هره پیښه شوی وی نوماته
ووایه چی زما زړه داده شی او
که نه تول عمر به د هغی پــه
انتظار لالهانده اوســم ،اوکـــه
شهید شوی‌وی‌خو دابه زما د پاره
زما د کورنی دپاره لوی افتخار،
وی چی زوی می په داسی مقد-
سه لارکی د خپلی اسلامی‌عقیدی
نذرانه کیږی . ماچی کله د
هغی خبره واوریده ورته ومـــی
ویل بابا رښتیا هم څوک چی‌د
اسلام په مقدسه لاره کی شهید
شی او یا تکالیف وړباندی راشی
دهغـی او دهغی د کورنی
دپاره به دالوی ویاړ وی اوستا ،
زوی چی د اعلای کلمة الله په
خاطر جهاد شروع کـری او بیا
د جهاد په جریان کی‌دروسانو،
لخوا نیول شوی او داعدام -
فیصله پری شوی او په هر
چا چی د اعدام فیصله شوی
وی او یا ترمحاکمی لاندی و ی
له هغی سره د لیدلو کتلواجازه
نه ورکوی کله چی سپین ږیر ی
زما خبره واوریده نو افسوس یی
وکړ او وویل چی داد خدا ی،
رضا ده خو دا ارمان می په -
زړه کی پاتی شو چی یوځل می
دخپل زوی آخری دیدن کړا ی
وا ی.دلته د هغه زړه بی طاقته
شو، له سترگو نه یی اوښکـــی،
روانی شوی اووویل چی زمازوی
د هغی ورځی نه چی روسی -
یرغلگر و زمونږ پر مقدسه خاوره
باندی تیری کړی دی د خپلو،
مسلمانو مجاهدو ورونو په صف ،
کی د روسیی او دهغوی دغلا-
مانو په مقابل کی په جهادشروع
کړی، ـــــــ له واده څخه یی
شپږ میاشتی تیری شوی وی چی
بیرته یـی د سنگرونو خواته د
اسلام د دښمنانو مقابلی تـه و
دانگل او بیا کله چی د روسانو

لخوا نیول کیده نو مونږ دوه اطلاع تر لاسه کړه چی لــــه روسانو سره د څو ساعتو مقاومت په اوږدو کی د مهماتو دخلاصون له امله نیول شوی او بیا مونږته تر اوسه دا پته نه وه چی دی به په کوم زندان کی بندی وی. مور دهغی په لټه کیشو ده د غمونو توپانی څپو ته پریښود او اوس می چیڅه درك پیداکړ هم دهغه دیدن‌می پــه نصیب نه شو اودهغه د اعدام ، اطلاع‌می تر لاسه کړه ده زیاتــه کړه چی هغوي چیرته وژني او چیرته یی اچوي ؟ که چیري د هغی مړی‌پیدا کړم نوبیابه می ، هم په زړه کی ارمان پاتی نشي چی هغه پخپلو لاسو ښخ کړم . ما ورته وویل چی بابا خفه کیږه مه هغه چی دخداي په لاره‌کی‌د کفر مقابلی ته وتلی و ٔ نوکه د سري وژونکو لخوانه هرچیرتـــه شهیدشی نو خدای ورته جنتونه ورکوی او د هغه ځاي به جنت وي. سپین ږیري پاڅیدو ـــــ مــــونږ سره یی خداي‌پاماني وکړه او وویل چی تاسو او خپل زوي می‌په خدای سپارلی زه ـ لاړم خدای پامان په داسی ، حال کی چی د سترګونه‌یٔ اوښکی روانی وي د زندان له لوئی ـ دروازي نه ووت. لږه شیبه‌وروسته پایوازي ختمه شوه زما پایوازان ، هم له زندان څخه بهرشول‌کوټی ته ورغلو هریوبندي به د بل‌نــه دکور احوال پوښتنه کوله خو زه د هغه سپین ږیري په غمونوکــی ډوب ناست ؤم ورځ سو چونوکــی را باندي تیره شوه دشپی می‌هم سترګی پټی نشوي او تړوله شپــه را باندی په ناکراري تیره شوه سهر لمر لا نه وختلی چی په ، دهلیزونوکی بیا اوازي‌خپري شوي چی دشپی یی څوتنه دمرګ پــه لور ایستلی کله چی داخبره زما تر غوږشوه‌نو رهم ناکراره شوم‌او چی لمر لږ تود او د تفریــح وخت شو په هغه ورځ تفریح تــه یی هم پری نښودلو خو کله چی د عسکرونه مو پوښتنه وکړه نــــو هغو ی وویل چی یاسین هــم‌د دوی په ډله کی ؤ.

هــوکــی! یاسین هــمــاغــه پټمن مجاهد ؤ چی سپین‌ږیری پلار ئی پــس له ډیری مودي ، سرګردانی نه دده له شهادت، نه یوه ورځ مخکی‌یدي باندي‌یوه شو چی زوي یی په زندان کــی دي اوپه هغه باندي د اعـدام حکم شوي . هغه سپین‌ږیري ـ پلار چی پرون د زندان لــــه دروازي څخه پداسی حال بهــر ووت چی خپل زوي یی هم‌ونــه لیده اود سترګونه یی‌اوښکی‌روانی وي خیال کورته به هم نه ؤـ رسیدلی چی مجاهدزوي یی لـه خپلو نورو ورونو سره د سري ـ وژونکو لخوا شهید کړل شول .

اناالله وانااليه راجعون

نویسنده: شهید دکتور عبد الله عزام
مترجم: ف فاضل

سرطان سرخ

پیوسته بگذشته:

مبحث دوم :
تطبیق نشدن مارکسیزم و ناکامی انقلاب کارگری انقلاب بلشویکی از عوامل زیادی استفاده کرد، تا سرپا ایستاد یعنی. بعد از ینکه روسیه در جنگ جهانی اول پیروز بدر آمد و مردم هم از تزاران و روحانیون مسیحی ستم دیده بودند. بلشویک ها ازین مسئله استفاده کردند.

همچنان از خلای سهمگینی که بعد از جنگ جهانی اول به میان آمد و بعد ازینکه ملت های امریکا و انگلیس به عصر سقوط ارزشها از آغاز سال ۱۹۲۰ م پاگذاشتند و شعار «حلول شراب را در شرابین عوض خون» سر دادند و ارزشهای اخلاقی ایکه قبل از جنگ برجامعه حکمرانی میکرد یکسره سقوط نمود. مردم گمان بردند که مارکسیزم یگانه کاندید برای پرساختن خلای روانی درمیان اروپائیان است. مارکسیزم در دهه سی از اوج گرفتن پیروزی های فاشیزم و نازیسم استفاده کرده و در مقابل نویسنده و جوان روشنفکر جز فرار به بلشویزم راه دیگری نماند، زیرا در آن زمان بزعم آنها یگانه نیرویی بود که امکان داشت در برابر «بربری ها» (حاملان صلیب منزوی) مقاومت کند .

مارکسیزم از آزمندی غرب برای مکیدن خون بشریت آزمندی آنها برای ابقای نرخهای بلند استفاده برد، زیرا ازطرف غرب هزاران تن میوه وده ها هزار خوگ دردریا انداخته می شد، در حالیکه گرسنگی گلوی مردم را می فشرد.

طوریکه آرتر کستلر در همین مورد اشاراتی دارد.

مارکسیزم از پیروزی متحدین در جنگ دوم جهانی استفاده کرد و دول اروپای شرقی را بلعید.

همه این عوامل و یکسلسله عوامل دیگر منجر شد تا جوان اروپایی در آغوش کمونیزم سقوط کند، اما سرانجام عدم کار آیی اش را دریافت و بانومیدی و خشم از آن روگرداند «سئیلونی» دوستش «توکلیائی» را مخاطب قرار داده از آن خشمی در سینه آن ناراضی ها موج می زند چنین تعبیر میکند:

«نبرد فیصله کن سرانجام میان کمونیستها و آنانیکه از کمونیزم روگردانده اند، برپا خواهد شد»

برتر اندراسل فلسیوف فرانسوی از جمله کسانی است که سقوط و عدم تطبیق مارکسیزم را از سال سوم پیروزی انقلاب درك کرده اند او در کتاب «بلشویزم در میان تئوری و پراتیك» که آنرا در سال ۱۹۲۰ تالیف کرد. در همین مورد است. راسل کتابش را بار دیگر تجدید چاپ کرد حتی یك کلمه آنرا هم تغییر نداد.

از جمله اشخاصی که از کمونیزم نومید شده اند، یکی هم فیلسوف فرانسوی «اندره ژید» است او قبلاً از طرفداران پروپا قرس کمونیزم بود و گمان می برد که رهایی بشریت از

دردهایش تنها در بهشت خیالی کمونیزم امکان پذیر است.
اما اندرژید در نخستین دیدارش در سال ۱۹۳٦ م، همه آروزهایش را از هم پاشیده یافت، و از کمونیزم نومید شد و گفت: آیا دولت دیگری هم در جهان وجود دارد که روح و عقل در آن نسبت به روسیه از آزادی کمتر بهره برده و ذلیل تر، برده تر و تر سو باشد».

کمونیزم از چند ناحیه سقوط کرده است:

۱ـ مساوات:

از ناحیه مساواتیکه کمونیستها کارگران را فریفتند، و چقدر درخشش عوام فریب کمونیزم پروانه های انسانی را واداشت تا در آتش آن بسوزند، و بعد از پیروزی انقلاب بلشویکی، کمونیستها گفتند که مساوات امر نا ممکن است و مساوات در حقیقت نابودی طبقات است.

لنین در ۱۹۱۹/ ۲/ ٦ میگوید: انگلز هزار بار در این توضیح خود راست گفته است که هر خواهشی که خواهان مساوات باشد و از مرز مقاومت با محو طبقات تجاوز کند ان یك جانبداری سخیف از دایره معقول است»

ستالین در راپور خود به کنگره هفدهم حزب در سال ۱۹۳٤ م میگوید: ما فرق های فاحشی را در مزدها میان بالا و پائین در روسیه می بینیم و این فرق ها از آنچه در جامعه های غربی وجود دارد بیشتر است گاهی ده برابر آن وگاهی بیست برابر آن و گاهی هم بیش از آن می باشد» باوجود آن محو طبقات کجا وجود دارد؟ اعضای حزب کمونیست زندگی مرفهی دارند اما بقیه مردم گرسنگی می کشند و از در دمی میرند و می توان در این مورد کتاب «طبقه حاکم» نوشته، نویسنده یوگوسلاویایی میلوان دوگلاس» مردشماره دو بعد از تیتو را مطالعه کرد، تا از حقایق تلخی راجع به خونخواران کمونیست آگاهی حاصل کنیم، کمونیستهای که از برجهای عاجی به انسانهای محروم می نگرند. و نویسنده آن کتاب بجرم نگارش همین کتاب «نه» سال را در زندان سپری کرد.

۲ـ آزادی و دموکراسی:

مارکس نظر دارد که در آغاز به دکتاتوری پرولتار یا ضرورت است تا ارتجاع و بورژوازی تصفیه شود و بعداز آن به سلطه و حکومت هم نیازی احساس نمی شود، و

بصورت طبیعی حکومت سقوط می کند و کشور بدون ارتش و پولیس اداره می شود.

از همینرو کشور های سوسیالیستی اکثراً خود را « دموکراتیك خلق» می نامند، ولی ما می بینیم که دکتاتوری و ستم روز بروز بیشتر شده و ساکنان جامعه سوسیالیستی خود را اسیر دز زندان های آهنین می یابند.

فرد در روسیه از گذر نامه (پاسپورت) و از یك جای به جای دیگر رفتن محروم است، هر گاه مردم در روسیه به آزادی سفر دست یابند، در روسیه صرف سه ملیون کمونیست باقی خواهد ماند.

در روسیه همه ملت درمیان پتك کمیته های مرکزی حزب و سندان اعضای آن حیات به سر می برند.

برلین در سال ۱۹٤٥ م به دو بخش غربی زیر سلطه غربی ها و شرقی زیر سلطه کمونیستها تقسیم شد و میان آن دو دیواری احداث شد که

کدام انسان است که در روسیه بتواند ضد حزب حرفی به زبان راند، کدام انسان است که بتواند از خود دفاع ویا وکیل مدافع برای خود تعین کند.

بنام دیوار برلین مشهور است که مشاهده آن دیوار و روشنی ای که برآن پرتو می افگند انسان را به شگفت و امیدارد. در آن جا سیم های برقی هم وجود دارد که هر کسی که به آن دست بزند وبه آن نزدیك شود، او را برق میگیرد. و بسا از مردمی که خواهان گریز از دوزخ کمونیزم به سوی بر لین غربی بودند، در همین دیوار گیرماندند.

روزنامه های غربی در ماه سپتمبر سال ۱۹۷۹ م داستان عجیبی را نقل کردند و آن داستان فرار دو خانواده از برلین شرقی بود، داستان چنین است که: دو خانواده به گرد آوری پارچه های از دکان های مختلف پرداختند تا دو بالون ساختند و خطر را متقبل شده بوسیله آن دو بالون به برلین غربی پرواز کردند. این داستان که باخیال شبیه تر است اما حقیقت دارد.

پناهندد توفی های سیاسی شخصیت های چیره دست و از تمام طبقات و همه سویه ها همیشه از شرق به غرب

بقیه درصفحه (٤٩)

د جهاد د قوماندانانو شورا یه بریالیتوب سره پای ته ورسیده

د افغانستان د جهاد د قوماندانانو د شورا غونډه د ۱۳۶۹هـ ش د میزان د میاشتی په ۱۹ نیټه د بدخشان ولایت توپخانی ته نږدی جوړه شوه.

غونډه د ماسپښین په ۳ بجو د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره شروع شوه. په پیل کی اختر محمد ټولواک په لنډه توګه د قوماندانانو دشوری د دوو مخکینیو غونډو چی لومړی یی په ۱۳۶۹/۲/۱۷ نیټه اود وهمه یی په ۱۳۶۹/٤/۲ نیټه د پکتیا ولایت په یوی آزاده سیمی کی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی په جهاد ي مرکز « ژوره » کی جوړه شوي وه د جریان او پریکړو په باب خبری وکړی.

وروسته الحاج مولانا جلال الدین حقانی د قوماندانانود اوسني غونډي داهمیت او هدف په هکله خبري وکړي او د خپلو خبرو په ترڅ کي يي انجنیر احمد شاه مسعود چی د ځینو مصروفیتونو له کبله یی په مخکینو دووغونډوکی ګډون نه ؤ کړی ددی غونډی د متصدی په توګه پیشنهاد کړ چی د برخه والو له خوا ومنل شو.

وروسته بیا دغونډی د اجنداء د ټاکلو په هکله خبری وشوی. دغونډی په سبا د سهار په (۹) بجو د غونډی دوهم مجلس پیل شو. او په هغه کی په اجنداً کی د شاملو موضوعاتو په هکله هر اړخیزی خبری او جرو بحث وشو. په همدغه جریان کی دغونډی له برخه والو قوماندانانوڅخه یو (۹) نهه کسیز کمیسیون وټاکل شو تر څو په جهاد پوری مربوط مسایل په ژوره توګه و څیړی ، تصمیمونه ونیسی ، د حل لاری چاری په ګوته کړی او د تصویب له پاره یی عمومی غونډی ته وړاندی کړی.

(۹) کسیز کمیسیون په غړیو کی: د پکتیا له ولایت څخه محترم الحاج مولانا جلال الدین حقانی او محترم اختر محمد ټولواک

د پروان - کاپیساله ولایت څخه محترم انجنیر احمد شاه مسعود.

دکابل له ولایت څخه محترم عبدالحق، ښلال نیرم اومحمد انور

د بغلان له ولایت څخه محترم عبدالحی حقجو

د کندهار له ولایت څخه محترم صالح محمد (مشهور په ملا ملنګ)

اود غزنی له ولایت څخه محترم سید جګړن شامل ؤ.

ددغه (۹) کسیز کمیسیون په شمول د قوماندانانو د شوری په دغه غونډه کی د هیواد له بیلا بیلو ولایتو نوڅخه (۳۳) تنو نومیالیو قوماندانانو برخه درلوده چی نومونه یی دادی:

دغزنی له ولایت څخه تاج محمد (قاری بابا) او الله یار له وردګو او



میـدان څخـه امـین وردګ او جوادی دهـلـمـنـد لـه ولایت څخـه خلـیـفـه عبدالواحد ، له کندوز څخه سید اکرام الدین او ډاکټر شمس ، له بغلان څخه مولوی محمد عمر (مشهور په ګجر آخوند زاده) لـه کابل څخـه علوی او فضل کریم، له پروان څخه عظیمی ، قانونی اوډاکټر نجیب الله، له تخار څخه عبدالاحد، له بلخ څخه مولوی عـبدالعزیز لـه هرات څخـه د تـورن اسمعیل خان نماینده حاجی قاری تورن غلام محمد نظری او ظاهر زمانی،له پکتـیـا څخه حـاجی عـبدالبـاری او حاجی محمد امین او له ننګرهار څخه نصرالله.

غـونډه پـه ۱۳٦۹/۷/۲۰ نـیـتـه د یوپریکړه لیك په صادرولو سره (چی په همدی ګنه کی خپریږی) پای ته ورسیده.

د غونډی له پای ته رسیدو وروسته د جهاد یو شمیرنومیالیو قوماندانانو د دغی غونډ ي د جریان او نتایجو په هکله د مطبوعاتی کنفرانس او له نـړیـوالـو خـبـری ذ رایـعـو لـه لاری څرګندونی کړی چی دلته یی ځنی مهمی برخی رااخلو.

الحاج مـولانـا جلال الـدین حقـانـی دقوماندانانو په هغه مطبوعاتی کنفرانس کی چی د میزان د میاشتی په ٢٤ نیتـه په پیښور کی جوړ شوی او پـه هغـه کـی یو شـمـیـر داخلی، محلی او بهرنیو خبریالانو ګډون کړی ؤ، وویل:

((دغه شورا دقوماندانانو د شوری د سرتاسری کیدو لپاره یو مهم ګام ؤ چی په نیتـجه کی یی د افغانستان د شرق - غرب، شمال او جنوب تر مینځ داتصال کړی ټینګه شوه))

حقانی صـاحب دخپلو خبرو په یوه برخه کی دی ټکی ته اشاره وکړه چی؛ د قـومـانـدانـانوپـه دغـه شوری کـی د افغانستان سنی او شعیه او هر ژبنی واحد نماینده او غړی موجود دی.

نـوموړی زیاتـه کـړه : د یوی واحدی ستراتـیـژ ـبـی جوړول د قوماندانانو ستر هدف دی، په دی توګه چی مجاهدین باید د غیر

منظمو او تیتو پرکو عملیاتو پر ځای په هر ولایت او سیمه کی ددښمن پر پوځی تأسیساتو او پوستو په یو وخت عملیات سرته ورسوی.

حقانی صاحب د یو خبریال ددی پوښتنی په ځواب کی چی د قوماندانانو د شوری غونډی یوه په بلی پسی ډیر ناوخته کیږی آیا دا کار دجهاد ګړندیتوب ته صدمه نه رسوی؟ وویل:

« داسی نه ده چی ددوو غونډو په مینځ کی د جهاد په ټپه دریدلی وی، بلکه دهری غونډی په نتیجه کی د مجاهدینو فعالیتونه لاپسی منظم او مستحکم کیږی.»

نومیالی قوماندان انجنیر احمد شاه مسعود د امریکا غږ راډیو له خبریال سره د مرکی په ترڅ کی د قوماندانانو د شوری په هکله داسی څرګندونه کړی ده :

« (د افغانستان د جهاد د قوماندانانو د سراسری شوری په جوړیدو او فعالیدو سره د شمالی ولایتو «نظار شوری» ته هیڅ ضرورت نه پاتی کیږی.»

قوماندان مسعود زیاته کړه: دجهاد قوماندانانو ځکه ددغه شورا له لاری د هیواد د ټولو جهادی قوتونو د وحدت لپاره متی راونغښتی چی له بده بخته تنظیمونو او جهادی قیادتونو ونشوای کولی په یوه دوامداره او واقعی اتحاد کی راغونډ شی. ده زیاته کړه : مونږ ډیر انتظار وکړ تر څو د تنظیمونو په منځ کی یو واقعی اتحاد رامنځ ته شی څو وکولی شی ددښمن په وړاندی یو متحد او مستحکم صف او قوت جوړ کړی خو د ډیر انتظار وروسته بیاهم تنظیمونه پدی ونه توانیدل له بلی خوا حالات ډیر نازك او شرایط ډیر حساس دی او یقیناً نور د وخت او فرصت له لاسه ورکول جهاد له سختی ضربی سره مخامخ کوی.

ده زیاته کړه: ګومان نه کوم د تنظیمونو مشران د قوماندانانو د شورا مخالفت وکړی کوم چی هدف یې د جهادی قوتونو بشپړ یو والی دی.

ده هیله څرګنده کړه چی د قوماندانانو د شورا په برکت به د مقاومت جنګی چاری او جریان منظم ، هم آهنګ او



متحده بنه غوره کړی.

د کابل پیاوړی قوماندان حاجی عبد الحق د امریکا غږ راډیو له خبریال سره دخپلی مرکی په یوه برخه کی د قوماندانانو د شوری په هکله خپل نظر داسی څرگند کړ:

« د قوماندانانو شوری یوه سرتاسری شوری ده څکه چی پکی د سنی او شیعه مذهبونو او دافغانستان پښتون هزاره او تاجك قوم نمایندگان او استازي موجود دی.»

قوماندان عبدالحق دخپلو خبرو په ترځ کی د قوماندانانو تر مینځ د اعتماد

راپیدا کول او په یوی واحدی ستراتیژی توافق ته رسیدل د قوماندانانو د دغی غونډی اساسی هدفونه وگڼل. قوماندان سید جگړن د قوماندانانو په مطبوعاتی کنفرانس کی د یوی پوښتنی په ځواب کی وویل:

« دقوماندانانو د شوری دغه مجلس یو لوی مجلس ؤ چی په نیتیجه کی یی د افغانستان د ټولو جهادی قوماندانانو تر مینځ پوره هم آهنگی او انسجام راوست.»









درکود له روان حالت څخه دعبوري حکومت وخت کي ديو بيا وړي عبوري حکومت موجـ

"دجهاد هنداره "خبريـال پـه دی وروستيو وختونوکې د جهاد د اوسنی وضـعی او روانو سياسی حالاتوپه اړه له الحاج مولانا جلال الدين حقانی سره مرکی کړی او دجريـدی په بيلوبيلوګڼو کی خبري شوی «منبع الجهاد» مجله يي يوځل بيادهغی داهميت له مخـــی درنولوستونکـو تـه وړاندی کوی : " اداره "

پوښتنه : داسي خبرونه خپاره شوي دي چي دمجاهدينو مشران په دي متفق شوي چي نوي عبوري حکومت جوړ کړي او په دي رابطه يوه عمومي شورا جوړه کړي.تا سي داڅنګه ارزيابي کوئ ؟

ځواب :بسم الله الرحمن الرحيم
نحمده ونصلي علي رسوله الکريم
اما بعد :

داخو يو واضح حقيقت دي چي د جهادي مشرانووحدت او د رکود له حالت څخه د موجوده عبوري حکومت وتل ډير ښه او پر ځاي کار دي مونږ او تاسي وينو چي مو جوده عبوري حکومت او جهادي مشران چي په کوم حالت کي واقع د ي هغه دپوره تشويش وړ دي او دا کار دجهاد په ضررتماميږي . په اوسني وخت کي ديو پياوړي عبوري حکومت مو جوديت او دافغانستان داخل ته دهغه ليږ ديدل جهاد ته ګټه رسوي .

دموجوده عبوري حکومت دجوړيدو پروخت پريکړه شوي وه چي ديو کال په دننه کي بايد داخل ته انتقال شي ، خو له بده مرغه چي دا کارونه شو او دشورا په پريکړو چا عمل ونه کړ. دااوسني عبوري حکومت ديو ي شورا له خوا چي په هغي کي دټولو جهادي تنظيمونو او جهادي قوتونو په شمول زيات شمير علما ؤ او روحانيونو ،جهادي قومندانانو ګډون کړي ؤجوړ شوي ؤ او که اوس کوم بل عبوري حکومت جوړيږي او که يا هغه پخواني تجديديږي بايد دا کار ديوي سرتاسري شورا له خوا ترسره شي چي

په هغي کي دټولو جهادي قوتونو نمايندګان او دافغانستان د مؤ من ملت دبيلو بيلو طبقواستازي ګډون ولري .ددغه موجوده عبوري حکومت جوړيدو پر وخت يوه سهو ه شوي وه او هغه دا چي کله دشورا له خوا عبوري حکومت انتخاب شو شوری سم له لاسه منحل شوه ، خو دا ځل چي کومه شورا حکومت ټاکي بايد چي هغه شوري له منځه ولاړه نشي او ټاکل شوي عبوري حکومت بايد له دغه شورا څخه داعتماد رايه تر لاسه کړي دغه شورا بايد بشپړ صلاحيت ولري . او تر څو چي هغه عبوري

اوس چې دکوم عبوري حکومت دجوړيدو اوازې خپرې او خبرې اترې پرې رواني دي ، زما په عقيده دا دعبوري حکومت د ټاکلو سمه طريقه نه ده اوددي په نتيجه کې چې کوم حکومت مينځته ته راځي هغه به په تنظيمونو پورې منحصر پاتې شي .

ایستل ډیر ښه او پرځای قدم دي ، په اوسني ـو دیتاو داخل ته دهغه انتقال ضروري کار دی

حکومت موجود وي او دانتخاباتو له لیاري د بل حکومت دجوړیدو شرایط نه وي برابر شوي ، شورا بایدمنحل نه شي اودحکومت په چوکاټ کې دیو مقتدر ارگان په توگه پاتي شي .

خو اوس چې دکوم نوي عبوري حکومت دجوړیدو اوازي خپري ا و خبري اتري پري رواني دي زما په عقیده دا دعبوري حکومت دټاکلو سمه طریقه نه ده اوددې په نتیجه کې چې کوم حکومت مینځته راځي هغه به په تنظیمونو پوري منحصر پاتي شي . او اوسني عبوري حکومت سره له دې چې دیوي لویې شورا له خوا جوړشوي ځني خلك يې دافغانستان دټول مؤمن ملت نماینده نه گڼي او وایي چې په دې کې ټول جهاد ي قوتونه او دملت نمایندگان برخه نه لري ، نوځکه داعتماد وړ نه دي خو دانوي حکومت به چې دځو جهادي تنظیمونو له خوا وټاکل شي څنگه به يې څوك ومني ، نوره نړۍ به يې کله په رسمیت وپیژني او که چیري داخل ته انتقال شي ټول مجاهدین او جهادي قوماندانان به ورسره کله په کلکه ملاتړوکړي ، نو په دې برخه کې زما غوښتنه داده چې زمونږ جهادي مشران باید له پوهې ، فکر اوزغم څخه کار واخلي ، غفلت دي نه کوي او که عبوري حکومت جوړوي دیوي داسي قانوني شورا له لاري دي هغه جوړ کړي چې په هغي کې دافغانستان دمسلمان ملت دټولو طبقو استازي برخه ولري ، تر څوچې پخپله مؤمنو افغانانو ته هم د منلو وړ وگرځي او دنړۍ هیوادونه يې هم په رسمیت پیژندلو ته چمتوشي.

پوښتنه : دافغانستان دکشالي دحل په باره کې ستاسي نظر څه دي ؟

ځواب : دافغانستان دکشالي دحل له پاره ډیر تعبیرونه شوي او دحل ډیري لاري سنجول شوي دي . او هر څوك دخپلي خوښي او گټي په نظر کې نیولو سره دحل لاري چاري پیشنهادوي . ددې قضیي اصلي اړخ مجاهدین دي اومجاهدین ددې قضیي اصلي حل دکفر او الحاد پر ضد دوسله وال جهاد ادامه گڼي او داهغه وخت کیداي شي چې مجاهدین په یو واحد صف کې ددین او وطن ددښمنانو مقابله وکړي . دیوي سرتاسري شورا له لاري چې په هغي

کې عالمان ، جهادي قوماندانان او دافغانستان دمسلمان ملت دټولو طبقو مؤمن ، بادیانته او دنظر خاوندان وگړي ـ برخه ولري ، یو اسلامي حکومت انتخاب کړي .

په دې باید وپوهیږو چې دافغانستان کشاله تش دخبرو له لاري نه حل کیږي ځکه چې دادعقیدي خبره ده اودلته د اسلام اوکفر مسله مطرح ده مؤمنو افغانانو دکفر اوالحاد پرضد وسله وال جهاد پیل کړي ، ترهغي پوري چې په افغانستان کې دروسانو مزدور اوملحد رژیم موجود وي له روسانو اویا دهغوي دمزدورانو سره خبري کول او یا دامنل چې د سیاسي خبرو اترو له لاري دافغانستان قضیه حل کید اي شي ، داهي ځایه اوبې

معني خبره ده ، او لکه دااوس چي
ځني مشران روسيې ته دمجاهدينو
دهثيت ددعوت کولو تود هر کلي
کوي او پرهغې خوښي څرگندوي
اودي ته نه گوري چي روسانو له
مؤمنو افغانانو سره څه وکړل او
لانورڅه شوم هدفونه او اغراض لري،
بياهم دروسانو دعوت دځان لپاره
وياړ او افتخار گڼي که دروسانو له
خوا ورته داهم وويل شي چي مونږ له
نجيب څخه اقتدار اخلو او تاسو ته
يې سپارو ، بياهم داز مونږ لپاره
دمنلو وړنه ده او مونږ دا کار دجهاد
او اسلامي انقلاب سپکاوي ، او خپل
ټول افتخار ات دروسانو پښنو ته
غورځول بولو . دروسانو سره هغه
وخت خبري پکار دي چي په کابل کي
له خپل مزدور رژيم سره په تمامه
معنى مرستې قطع کړي ،
دافغانستان په کورنيو چارو کي له
لاسوهني څخه په بشپړه توگه لاس
واخلي اومؤمن افغانان پرېږدي چي
په افغانستان کي يو اسلامي
حکومت جوړ کړي او بيا روسان
دمجاهد ينو هغه حکومت په رسميت
و پيژني ، خو داچي تر اوسه دايو
کار هم نه دي شوي دمجاهدينو
دعبوري حکومت مشر څنگه دروسانو
دعوت نامه قبلوي او دهثيت دورلېږ
لو لپاره چمتوالي ښيي.

زه يو ځل بياهم داخبره تکراروم چي
دافغانستان دقضيې دحل يوازينۍ
لار دوسله وال جهاد ادامه ده او
ترهغه چي دمجاهدينو په لاس
اسلامي حکومت نه وي جوړ شوي له
وسله وال جهاد څخه لاس اخستل او
دمهاجرينو بيرته ستنيدل روسانو
اوکفري طاقتونو ته دتسليمۍ معنا
لري .
دمؤمنو افغانانو او دروسانو له

هيوادنه هجرت او ړول-ړول کړا وونه
په افغانستان کي ديو اسلامي
حکومت دقيام لپاره زغملي دي، نو
په افغانستان کي دمجاهدينو له
حکومت څخه پرته دبل هيچا حکومت
اوقيادت نشي منل کيداي .
پوښتنه : په کابل کي ديوي سپيني
کودتا دکيدو آوازي خپري شوي دي
او ديو تنظيم له خواچې په دي رابطه
يې مخکي هم يو قدم پورته کړي ؤ

دموجوده عبوري حکومت دجوړيدو پر وخت يوه اشتباه شوي وه اوهغه داچي
کله دشورا له خواعبوري حکومت انتخاب شو ، شورا سملاسي منحل شوه ،
خوداځل چي کومه شورا حکومت ټاکي بايد هغه شورا په ځاي پاتي شي او
ټاکل شوي عبوري حکومت هغه ته مسوول او ورڅخه داعتماد رايه واخلي او
دا شورا ديو مقتدر ارگان په توگه پاتي شي.

مزدورانو (خلقيانو او پرچميانو) تر
منځ دگډ حکومت جوړول هم امکان
نه لري ، په افغانستان کي ديو بي
طرف حکومت جوړيدل هم مجاهدين
نشي منلي ، ځکه چي په افغانستان
کي ددغه اسلامي انقلاب په اوږدو
کي هيڅوک بي طرفه نه دي پاتي ،
ځني په مستقيم يا غير مستقيمه
توگه دروسانو اودهغوي دمزدورانو په
خدمت کي واقع شوي او نورټول
مؤمن ملت مستقيم او غير مستقيم
دمجاهدينو په صف کي ولاړ دی .
مجاهدينو دا دومره ، قربانۍ او له

داسي څر گندوني کيږي چي ډير ژر به
ديوي بلې کودتا له لاري دنجيب رژيم
نسکور شي تاسي دداسي اقداماتو
په اړه څه نظر لرئ ؟
ځواب : ددستوري کودتا وامکانات
شته او لکه دمخکني پوښتني په
ځواب کي چي مي څر گنده کړه چې
دمجاهدينو دعبوري حکومت مشر
دروسانو دعوت قبول کړي ، کيداي
شي چي په پاي کي کومه دستوري
اوفرمايشي کودتا وشي،خو
دافغانستان مجاهد ملت خصوصاً
جهادي قوماندانانو لپاره هيڅکله

دمنلو وړ نه ده داچي بیایو تنظیم دمخه ددغه ډول سپیني کودتا دپیښیدو اعلان کوي کیداي شي چي په دي باب یي له چاسره خبري کړي وي،خوزه بیاهم داخبره تکراروم چي دادول کود تاوي چي دروسانو په دستوراوفرمایش سرته رسیږي زمونږ دمجاهد ملت له پاره دمنلو وړ نه دي.

جهادې مشران که جمهورې حکومت جوړوې دیوې داسې قانوني شورا له لارې دې هغه جوړ کړې چې دافغانستان دمجاهد ملت دټولو طبقو اُستازې پکې برخه ولرې.

داخو ټولو ته معلومه ده چي اوس دروسانو دمزدور رژیم په اردو کي داسي مسلمان پوځیان نشته چي واقعاً دخپلي اسلامي جذبي له مخي په داسي یو اقدام لاس پوري کړي چي هغه دافغانستان دمسلمان اومجاهد ملت په ګټه وي . فعلاً داردو زیاتره صاحب منصبان او افراد دکمونست ګوند غړي دي او کمونستان هیڅ وخت دمسلمانانو دخیر او ګټي لپاره کارنه کوي ، اوس نوکه داردو له خواکود تایي اقدام کیږي هغه به دروسانو په دستور اومشوره وي اوترشابه یي دروسانو یي شمیره‌شوم اغراض او اهداف پراته وي . په دي طمع کیناستل او له جهاد څخه لاس اخستل هم داسلامي انقلاب او جهاد سره جفا ده .

پوښتنه : ستاسي په نظر دمجاهدینو داتحاد لپاره لنده مؤثره او بریالۍ طریقه کومه ده ؟

ځواب : زما په نظر دمجاهدینو داتحاد لپاره تر ټولو ښه مؤثره طریقه دا ده چي دمجاهدینو داوو جهادي تنظیمونو مشران او همدارنګه نورجهادي قوتونه ټول دزړه له کومي اتحاد وکړي او په بشپړ توافق سره له خپل منځ څخه یو مشروټاکي او بیاټول پر هغه راټول شي ، اطاعت یي وکړي ، اسلامي حکومت جوړ کړي او دپوره انصاف له مخي دشرعي احکامو مطابق ټولي چاري دهغوي اهل ته وسپاري .

بله طریقه دا ده چي ټول علما، جهادي قوماندانان ، داسلامي پوهي او بصیرت خاوندان هغه افغانان چي په داخل او یا بهر کي دي سره راټول شي یوه شورا جوړکړي او دهغي له لاري داسلامي حکومت لپاره قیادت وټاکي او دهغه تر مشرۍ لاندي اسلامي حکومت جوړ او بیا افغانستان ته انتقال شي دجهادي چارو اداره اوقومانده هم په لاس کي ونیسي او دروسانو دمزدور رژیم دنسکوریدو څخه وروسته دقدرت واګي تر لاسه کړي . خوداټول کارونه هغه وخت کیداي شي چي مجاهدین پخپل منځ کي متحد او دشرق اوغرب دډول ډول توطیو اودسیسومخه ونیسي.

پوښتنه : دخلیج د کشالي اودهغي د حل په رابطه تاسي څه نظر لرئ ؟

د خلیج دموضوع داسي حل چي په هغي کی په عامه توګه د ټولو مسلمانانواوپه‌خاصه توګه د هغي سیمي د خلکوخیروي دادي چي عراقي پوځونه چي مستقیماً یي دکویټ پرخاوره تیري کړي ،هغه هیواد یي نیولي ، د خلکو شتمنۍ یي لوټ کړي او کویټ یي د خپل هیواد یوه برخه اعلان کړي باید چي خپل پوځونه بي له قید او شرطه‌له هغي خاوري څخه وباسي ، خو که عراق دا کارنه کوي او خپل بي شرمانه تیري ته همداسي په سپین سترګۍ سره دوام ورکوي نو دټو لي نړۍ پرمسلمانانو لازمه ده چي له اسلامي خاوري څخه ددفاع له پاره راپورته شي او پر اسلامي خاوره دظالمانو دتجاوزاو زور زیاتي مخ نیوي وکړي خو داسي نه ده پکارچي له اسلامي خاوري څخه ددفاع له پاره کفري او طاغوتي طاقتونه (امریکا ،انګلستان ،فرانسه ،او...) راوبلل شي ، کفري طاقتونه خو غواړي چي په دغه ډول پلمو په‌اسلامي هیوادونو کي نظامي پایګاوي جوړي کړي او په بیلو بیلو طریقو د مسلمانانو مادي او معنوي شتمنۍ لوټ کړي .

د قوماندانانو شورا له جهادي تنظيمونو پرته کوم ځانګړی سازمان او تشکل ندی، بلکي د دغه شورا یو هدف د همدغو جهادي تنظیمونو تر منځ د واقعي اتحاد د ټینګښت د معقولو طریقو لټول دي

پوښتنه:- لکه چې ښکاري د عبوري حکومت مؤثریت ورو - ورو په ختمیدو دی د ځینو معلوماتو له مخې داسې ښکاري چې د مجاهدینو تر منځ د یوه بل حکومت یادی ته ورته متحد ارګان د جوړیدو په رابطه خبرې رواني دي آیا د قوماندانانو په دغه دریمه شورئ کې پدې باره کې څه تصمیم ونیول شو که څنګه؟

ځواب:- بسم الله الرحمن الرحیم نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد:

زما په خیال د عبوري، حکومت مؤثریت لاهغه وخت ختم شوی ؤ چې عبوري، حکومت پخپلو تعهداتو کې پاتې راغی، او کوم شرایط چې تیاکل شوي وو هغه یې تر سره نه کړل حکومت یې تر پیښور پورې منحصر وګرځاوه ، داخل ته یې انتقال نکړ او هلته یې د فعالیت په رابطه عملي قدم پورته نکړ ، ټول دفترونه او د وزارتونو چارې یې یواځې تر پیښور او کوټې پورې محدودې وګرځولې، ټول پرسونل یې په همدغو ځایونو کې په کار واچوه او ټول مصارف یې همدلته ولګول او بې نتیجې یې د جهاد بود جه د پیښور په دفترونو کې مصرف کړه. له همدې ځایه وه چې دعبوري حکومت مؤثریت له تهدید او مشکلاتو سره مخامخ شو، ځکه خو موږ دا ویلی شو چې له ابتداءنه د عبوري حکومت مؤثریت له ستونزو سره مخامخ ؤ. بنا پر دې چې له وروستیو جریاناتو څخه زه پوره خبر نه یم چې په رښتیا هم بل عبوري حکومت جوړیږي که نه خود کومې طریقې آوازې چې موږ اوریدلي او داسې ویل کیږي چې د هغې له مخې به عبوري حکومت جوړیږي هغه په بشپړه توګه بې قانونه او غیر عملي طریقه ده او زه په ډاګه وایم چې که ددې په اساس کوم حکومت جوړیږي هغه به له موجوده حکومت نه هم بې تاثیره او له مشکلاتو او ناکامیو سره مخامخ وي. ځکه موجوده عبوري حکـــــــــــــو مت خو بیا هم د یوې شورا له خوا جوړ شوی ؤ او تقریباً د یو منتخب حکومت بڼه لري خو اوس چې د څوکسانو یا څو تنظیمونو له خوا کوم حکومت جوړولی شي نو هغه به څرنګه قانونیت او مقبولیت تر لاسه کړي که داسې کوم کوشش روان هم وي د مثبتې نتیجې توقع تري بیځایه ده.

تر کومه چې د قوماندانانو په شورا پورې اړه لري او تاسې ورته د دریمې شورا نوم ورکړې خوزه وایم چې د قوماندانانو دریمه شورئ به د پسرلي په موسم کې جوړیږي چې د ٦٠٠ په شاوخوا کې قوماندانان که هغه شیعه وي که سني ، واړه تنظیمونه دي که لوی او همدا رنګه کوم افغانان چې په نورو هیوادونو کې مهاجر دي ،

قومی مشران او مخور اشخاص به په هغه کی گډون کوی او وروستی پریکړه به کوی.

کله چی مخکی په پکتیا کی د قوماندانانو شوری جوړه شوه هلته تصمیم ونیول شو چی د شورای نظار او محترم ورور قوماندان احمد شاه مسعود سره پدی اړه رابطه ټینگه کړی . په همدی منظور د دعوت یو کمیسیون وټاکل شو چی پدی لار کی کار وکړی، که څه هم ورور مسعود موږ ته هغه وخت ددی ډاډ راکړی ؤ او دا شوری یی په بشپړه توگه تائید کړی وه خو په هغه شورا کی یی د مسافی د اوږد والی او وخت د کموالی له امله برخه وانشوای اخیستلی خو بیا وروسته د دعوت کمیسیون دا تجویز وړاندی کړ چی که امکان ولری ځینی قوماندانان هم له ورور مسعود سره ملاقات وکړی او په مسایلو له نژدی بحث او خبری وکړی، هماغه ؤ چی قوماندانانو د کمیسیون دا تجویز مناسب وباله او یو شمیر قوماندانان ددی ته اماده شول چی له ورور مسعود سره له نژدی ملاقات وکړی، الحمد الله دا ملاقات ډیر په زړه پوری ؤ ډیر مثبت نتایج یی لرل او موږ ته دا ثابته شوه چی ټول قوماندانان د وحدت هیله من دی اود زړه له تل نه غواړی چی د یوه قوی اوریښتینی اتحاد له لاری د کابل رژیم نسکور او اسلامی حکومت قایم شی.

که خدای کول د قوماندانانو په راتلو نکی ستره غونډه کی چی په پسرلی کی به جوړیږی وروستی او قطعی فیصلی اعلان شی په اوسنی غونډه کی د ورونو له خوا په پکتیا کی د قوماندانانو د شوری قطعنا مه په بشپړه توگه تائید شوه.

د قوماندانانو شورا د جهادی تنظیمونو او مشرانو له پاره واحد چانس دی څکه ددوي په منځ کی واقعی اتحاد له همدی لاری منځ ته راتلی شی.

پوښتنه:- تاسی د قوماندانانو د شورا د پریکړو د تطبیق او منلو په هکله د تنظیمونو د مشرانو له موافقی څخه مطمین یاست او پدی اړه له هغوی سره د شوری ارتباط موجود دی که څنگه؟

ځواب:- موږ وخت په وخت له جهادی مشرانو سره په دی رابطه خبری کړی دا باید ووایم چی د قوماندانانو شوری له، تنظیمونوکوم بیل سازمان او تشکیل ندی بلکی په شورا کی ټول برخه وال قوماندانان له تنظیمونو سره ارتباط لری موږ څو واره داخبره کړیده چی د قوماندانانو دشوری هدف د کوم ځانگړی سیستم او سازمان رامنځ ته کول ندی، بلکه دهغو لارو چارو لټول او پیدا کول دی چی دجهادی مشرانو او ټول ولس په ریښتینی اتحاد منتج شی.

همدا رنگه دا شوری به د داخلی امنیت په رابطه، مثبت قدم پورته کړی په آزادو سیمو کی د امنیت مسئله د ډیر غور وړ ده او هلته امنیت دومره ډاډمن ندی څکه خود امنیت د منځ ته راوستلو لپاره د قوماندانانو د سرتاسری شوراگانو جوړیدل او پدی لار کی د مشترك قدم پورته کول پخپله د تنظیمو په گټه دی. لنډه داچی داشوری په هیڅ صورت له تنظیمونو څخه کوم بیل ارگان نشی گڼل کیدی.د جهاد مشران له دی شوراگانو څخه ډیره

ستره گټه اوچتولی شی . دهمدغو شوراگانو د پریکړو په نتیجه کی جهادی تنظیمونه کولی شی له دغه جوړ شوی متحد قوت څخه گټه ترلاسه کړی د مثال په ډول کله چی انتخابات کیږی نو ددی اړتیا به نه پیښیږی چی له بل یوه قوت څخه د امنیت له پاره درسته وغوښتل شی یا بین المللی او خارجی، پوځونه راوستل شی که دا قوماندانان او جهادی قوتونه منظم او متحد شی نو د دوی تر مراقبت او اداری لاندی د انتخاباتو انعقاد په ښه توگه ښه نیولی شی په لنډه توگه ویلی شو چی دعبوری حکومت او د تنظیمو هر پروگرام هلته مثبته نتیجه ورکوی او کامیابیدلی شی چی د ارتباط ، اتحاد او مشترکه لایحه عمل او پالیسی وجود ولری. که د مهاجرینو د لیږد مسئله وی او که دامنیت او بیا ودانولو موضوع او یا هم د نورو خیریه مؤسسو عمرانی فعالیتونه وی دا ټول په هغه صورت کی ښه نتیجه ورکولی شی چی په داخل کی قوماندانان منظم او متحد وی او په گډه توگه ددغه ډول طرحو او پروگرامو په رابطه تصمیم ونیسی او ټول ابعاد یی په مشترکه او متحده توگه ارزیابی اوڅیړل شی.

همدارنگه که د عبوری حکومت مسئولین او یا جهادی تنظیمونه حکومت په داخل کي پلی کړی نو دا یواځی په هغه صورت کي امکان لری چی قوماندانان متحد او منظم وی او د پوره اتفاق او مشترکی پالیسی او طرحی له مخی هغوی ته عملی امکانات برابر کړی .

پدی رابطه باید وویل شی چي د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت دواړه د قوماندانانو د قوت ، همکاری او نقش له مخی تشکیل کړی شی بیا نو داحتمی خبره ده چی داوزارتونه داخل ته پخپله انتقالیږی او پیاده کیږی او د عملی چاروپه ترسره کولو به پیل کوی . په پیښور کي له یوی یوی نماینده گی پرته به یي نور ټول قوتونه په داخل کی متمرکزوی دا ځکه چی قوماندانان همیشه په داخل کی وی او له داخل څخه د مقاومت او جهادی صفونو تنظیم او بسیج کول په ښه توگه ترسره کیدلی شی .

همدارنگه په آزادو سیمو کی د تعلیمی او صحی فعالیتونو پراخول او د امنیت ټینگول هم په دغه صورت کی په سمه توگه تأمینیدلی شی ، د پاټکونو اچولو ستونزه چی اوس هر تنظیم په لارو کی بیلا بیل پاټکونه اچولی او ، لدی لاری یي خلك او ولس له ډیروکړاوونو سره مخامخ کړی دا هم له همدی لاري حل کیدلی شی داټول پروگرامونه او طرحی هغه وخت پیا ده کیدلی شی چی د قوماندانانو د دغه ډول سرتاسری شورا گانو پریکړی عملی شی او لدغی لاری بیا د یوي واحدي اداري د رامنځته کیدوله اړخه دا ټول مسایل او ربړی حل کیدلی شی .

دا پخپله د تنظیمونو د مشرانو او عبوری حکومت لپاره یو طلایی چانس دی ځکه تر اوسه د رهبرانو په منځ کي کوم مخلصا نه اتحاد منځ ته ندي راغلی او نه هم په نزدی راتلونکي کي چندان متوقع ښکاری د دوی تر منځ که اتحاد راځي نو هم له همدی لاری به راځی ځکه د هر ډول پروگرام د عملی کولو لپاره دا

د قوماندانانو شورا به په هیواد کی د یوه منلی حکومت د پلي کیدو - د جنگی ستراتیژی د توحید او تنظیم په آزادو سیمو کی دامنیت د ټینگښت -د اسلامی نظام د قیام او د نجیب د مزدور رژیم د ړر نسکوریدو په مؤثروطریقو او لارو چارو غور کوي او متحد تصمیم به نیسی .

ضروری ده چې عبوری حکومت او د تنظیمونو مشران د قوماندانانو له شوری څخه نتایج واخلی .

مونږ خو څو واره پدی ، رابطه له جهادی مشرانو سره ملاقاتونه کړی او دوی هم د خپلی همکاری ډاډ راکړی دی . له بلی خوا لدی پرته د حل بله لار فکر کوم نه وی .

همدارنګه دا له سیاسی درایت او حکمت څخه لیری خبره ده او د شریعت دا تقاضانده چې څوك دی د دغسی نیك مؤثر او بریمن پلان مخالفت وکړی .

داسی تصور باید پیدا نکړی شی چې ګنی تنظیمونه او عبوری حکومت بیل او مستقل دی او قوماندانان بیل . قوماندانان یواځې د جهادی مشرانو د اتحاد د پروګرامونو او د حل د یوی معقولی او مناسبی طریقی او آسانه لاری د پیداکولو په لټه کی دی خو جهادی مشران خپل منځی اتحاد ته ورسیږی او حکومت څنګه پلی شی ، انتخابات څه وړ ترسره شی او مهاجرین څنګه په داخل کې په آزادو سیمو کی ځای په ځای شی ، د ستنید و مشکل څنګه حل شی او د بیا ودانولو چاری څه ډول پر مخ بوتلل شی . اسلامی احکام تطبیق شی او امنیت رامنځ ته شی او د مزدوررژیم د ړنسکورولو په خاطر جنګ، څنګه منظم شی .

الحاج مولوی جلال الدین حقاني د قوماندانانو په مطبوعاتی کنفرانس کې :

د قوماندانانو د شورا د سر تاسري کیدو په نتیجه کي د افغانستان د شرق - غرب - شمال او جنوب تر منځ د اتصال کړی ټینګه شوه

د ۱۳۶۹ هـ ش کال د میزان د میاشتی په (۲٤) (۱۹۹۰ کال د اکتوبر په ۱٦) نیټه د ماسپښین په دری بجو په پیښورکي د افغانستان د جهاد د قوماندانانو یو مطبوعاتی کنفرانس جوړ شوي ؤ چي په هغه کي داخلی ، بهرنیو او محلی خبریالانو برخه اخیستی وه .

په پیل کي د جهادی قوماندانانو په نمایندګی الحاج مولانا جلال الدین حقانی د قوماندانانو د شوری لنډه تاریخچه بیان کړه .

حقانی صاحب د خپلو خبروپه ترڅ کي وویل :

دغه شوری د قوماندانانو د شوری د سرتاسری کیدولپاره یو مهم ګام ؤ چي په نتیجه کي د افغانستان د شرق - غرب او شمال او جنوب ترمنځ د اتصال کړی ټینګه شوه .

نوموړي د خپلی وینا په یوی برخه کي دی ټکی ته اشاره وکړه چي اوس په دغه شورا کي د افغانستان سنی او شعیه او هر ژبنی واحد نماینده او غړی موجود دی .

حقاني صاحب زیاته کړه :

دیوي واحدی ستراتیژي جوړول د قوماندانانو ستر هدف دی .په دی توګه چي مجاهدین باید د غیر منظمو او تیتو پرکو عملیاتو پر ځای په هر ولایت او سیمه کي د دښمن پر یو- ځي تأسیساتو او پوستو باندی په یو وخت عملیات سرته ورسوي ، مثلاً که مجاهدین په قلات حمله کوي نو په قندهار او شینډنډ کي دی نور مجاهدین په هوایی ډګرونو بریدونه کوي چي د دښمن الوتکی پر زابل کي پر مجاهدینو بمباری ونکړای شی او که څمکنی قواوي ورته د مرستی لپاره راځی نو باید په لاره کي دي

ځاي په ځاي د هغوي پر قطارونو حملې وشي . او دا منظم او پر يو وخت عمليات اوس مجاهدين د مخابراتي ارتباط له مخې کولای شي .

حقاني صاحب وويل :
ددغه شورا يو بل عملي اقدام د مجاهدينو د اکمالاتو له لارونه د تنظيمو نو له خوا جوړوشويو پاټکونو او نورو خنډونو لري کول دي .

حقاني صاحب د خپلو خبرو په پاي کي وويل چي د جهاد دقوماندانانو د شورا لويه ستر • غونډه به دراتلونکي کال په پسرلي کي کيږي چي په هغې کي به داوسنيو پريکړو دعملي کيدو رپوټ واوروړل شي او نوري لازمي فيصلي به وشي .
وروسته بيا قوماندان انورخان د قوماندانانو دشوري ګډه اعلاميه ولوستله او دهغې انګليسي متن په بهر نيوژورنالستانو وويشل شو.ددغې اعلاميې دوه عمده او مهم ټکي دادي:
لومړي ديوې واحدې ستراتيژي جوړول چي دهغې له مخې به ټول مجاهدين افغانستان کي په يو وخت عمليات وکړي.
دوهم داچي ټول هيواد دي په زونونو اوهم زو وويشل شي او په هر زون کي دي يو باصلاحيته شخص وټاکل شي، چي داکار به د عالمانو قوماندانانو او قومي مشرانو له خواسرته رسيږي .وروسته بيا ژورنالستانو خپلي پوښتني مطرح کړې چي په مقابل کي د جهاد د بيلو بيلو قوماندانانوله خوا ځوابونه ورکړل شول .ديو نيښتنو په لړ کي يوه پوښتنه داسي مطرح شوه چي د جهاد دقوماندانانو دشوري غونډي يوه په بلي پسي ديرنا وخته کيږي آيا دا کار د جهاد ګرنديتوب ته صدمه نه رسوي؟
محترم حقاني صاحب په ځواب کي وويل داسي نه ده چي د دووغونډويه مينځ کي دي جهاد په ټپه دريدلي وي ،بلکه دهري غونډي په نتيجه کي د مجاهدينو فعاليتونه لاپسي منظم او منسجم کيږي . بله پو ښتنه داسي رامخي ته شوه چي آيا داسمه ده چي د مجاهدينو قوماندانانو په کابل باندي ديوي ګدي حملي پلان جوړکړي دي؟
حقاني صاحب وويل: دقوماندانانو دشوري په دغه غونډه کي په دي خبرهٔغورا وبحث وشو چي په اوسني وخت کي پر کابل باندي دمجاهدينو عمومي عمليات او حمله مناسب کاردي که نه؟
قطع نظر لدي نه چي د حکمتيار صاحب پروګرام که د بل چا مور. په عمومياتو خبري وکړي او عمومي صورت حال موتربحث لاوندي ونيو.
د پوره غور بحث څخه وروسته دي نتيجي ته ورسيدل چي په اوس وخت کي چي د يوخوا ژمي او ديخني موسم راروان دي دبلي خوا هلته په کابل کي تقريباً دري مليونه عام خلك او سيږي او د حملي په جريان کي هلته د هغوي پاتي کيدل مشکله خبره ده نو په اوس وخت کي قوماندانانو په کابل باندي دمجاهدينو د هراړخيز فشار وتغوي عمليات او محاصره مناسب کار وباله . پاتي شوه په کابل باندي د حکمتيار صاحب د حملي

دجهاد اداره او پدی رابطه د هر ډول تصميم نيول په افغان مجاهد ولس پوری اړه لري، افغانانو هيڅ بهرنی هيواد او قوت ته د لاسوهنی او فشار راوستلو حق نه ورکوی.

خبره په شورا كي په هغې هيڅ بحث نه دي شوي . ځكه چي نوموړي تراوسه پوري له قوماندانانو سره كومه مشوره او مفاهمه نه ده كړي، .خو قوماندانان هغه له دي حملي څخه منع كوي هم نه.

حقاني صاحب د يوي بلي پوښتني د ځواب په ترڅ كي دي خبري ته اشاره وكړه چه د قوماندانانو په دوهمه شورا كي د حكمتيار صاحب داسلامي حزب قوماندانان حاضر وو او اميد شته چي په راتلونكي غونډه كي به هم دهغه نمايندگان گډون وكړي.

حقاني صاحب زياته كړه چي له يوي خوا دي غونډي ته قوماندانان دحزبي ارتباط له مخي نه دي بلل شوي اوبله دا چي د مخابراتي وسايلو دنشتوالي له كبله له ټولو جهادي قوماندانانو سره ارتباط نه دي ټينگ شوي .

محترم حقاني صاحب ديوي پوښتني په ځواب كي وويل چي : زه فكر نه كوم چي د پاكستان حكومت يا (رائي ، ايس ، آئي) دي په قوماندانانو فشار راوستي دي چي هغوي د كابل په عملياتو كي گډون وكړي .هغه وويل چي جهاد دافغانانو دي، په افغانستان كي چي هر عمليات كيږي هغه به د مجاهدينو په اراده او تصميم سر ته رسيږي.

هيڅكله داسي‌نشي كيداي چي بو بهرني هيوادي په دغه برخه كي په مجاهدو افغانانو كوم فشار راولي.

دحضرت محمد (ص) نيكمرغه ...

د (٥٦٩-٥٧١) م كال د ربيع الاول د مياشتي ١٢ شپه يوه تاريخي ، نيكمرغه او له بركت ډكه شپه ده ، چي په دغه شپه د بشريت تر ټولو ستر او بهترين رهنما حضرت محمد (ص) نړۍ ته راغی .

د حضرت محمد (ص) له مبارك ميلاد سره سم په نړۍ كي ستر بدلونونه او حيرانوونكي پيښي منځ ته راغلي . په دغه مبارك شپه د آسمان ځلانده ستوري د عبدالله كور ته رانښكته شول . د مكي له آسمان څخه رڼا وريده ، مكه او د مكي په شاوخوا كي دارڼا دومره خپره وه چي ځينو خلكو د مكي د غرونو له جگو ځوكوڅخه د شام سواحل مشاهده كړي وو.

دمكي تر ټولو لوی بت هبل په ځمكه نسكور شو . دكسراد مانۍ ١٢ برجونه ونړيدل او د زردشتيانو مشهور «اورتون» خاموش شو . دغه حيرانونكی بدلونونه او له اعجازه ډكي پيښي ددې ښكار ندوی وي چي د حضرت محمد (ص) مبارك ميلاد دظلم ، استبداد ، كبر او غرور په تيارو كي ديوي نجات ښنونكی رڼا زيری او خلكوته د خرافاتو ، جهالت او بت پرستۍڅخه د واحد خدای په لوري بلند او په نړۍ كي د الهی نياومن حكومت د استقرار پيل دی .

د حضرت محمد (ص) د مبارك او نيكمرغه ميلاد بركت وو چي بشري ټولني ته يي د پوهي ، نيكمرغۍ او سوله ييز ژوندانه لاره خلاصه كړه او په انساني ټولنه كي يي د ظلم ، بی عدالتۍ ، وژنو ، زور او زياتی په ځای اجتماعی عدالت رامنځ ته كړ.

د افغانستان دجهاد دقوماندانانو دشورى گډه اعلاميه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وكفى والسلام على عباده الذين اصطفى

اما بعد:

په دې وروستيو وختو کې (١٣٦٩هـ ش دميزان په ١٧ نېټه) دجهاد قوماندانانو دسراسري شورا دکميسون گډه غونډه په داسې حال کې چې الحاج مولوى جلال الدين حقانى، انجنير احمد شاه مسعود، جنرال سيدمحمدحسن (سيد جګړن)، قاري بابا، عبدالحق، ملا مانګ، خاينه عبدالواحد، محمدامين وردګ، محمدانور، بلال نيرم، نورن نظرى او يوشمېر نورو ستروجهادي شخصيتونو يکې برخه درلوده دبدخشان ولايت په توپخانه کې په يوې آزاده دوروري، خلوص او صميميت نه ډکې فضاء کې جوړه شوه.

په دغه غونډه کې دجهاد دقوماندانانو دمخکېنيو دوو شوراګانو دتصميمونو او پرېکړو په رڼا کې دجهاد په اوسنې پړاو دحالاتو دغوښتنو او اوضاع هراړخيزه څېړنه وشوه او دشورا داهدافو او پرېکړو دعملي کولو په برخه کې بشپړ توافق ته ورسېدل.

د دغو غونډو په ترڅ کې چې څلور ورځې يې دوام درلود لاندېنې تصميمونه ونيول شول:

١- دنظامي فعاليتونو په برخه کې ديوې واحدې ستراتيژۍ ټاکل او پر يو وخت دهېواد په بېلا بېلو برخو کې دمنظمو او منسجمو عملياتو پيل کول.

٢- ټول هېواد په (٩) اداري حوزو ويشل او دهرې حوزې لپاره دعلماؤ، قوماندانانو او قومي مشرانو له خوا ديوتن مسؤول ټاکل.

٣- دمجاهدينو ترکنترول او ادارې لاندې سيمو کې دامنيت دتأمين په خاطر ديو منظم اداري سيستم تشکيل او دمجاهدينو داکمالاتي لارو مصوئنيت.

٤- دقوماندانانو دسراسري شورى دفعاليتونو دپرمختګ او هم آهنګ کولو په منظور ديوې ګډې نمايندګۍ او ادارې تشکيل.

٥- دروسانو مزدورانو ګوډاګي رژيم ته اعلانوو چې په هېواد کې دوينې توېولو او دمملکت دلا ړنګېدلو په خاطر له (١٢) کلنې جګړې، ظلم او زور زياتي څخه وروسته دې سياسي قدرت د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته پرېږدي، په داسې حال کې چې مزدور رژيم زموږ دمسلمان ملت دغه ستر آرمان ته غاړه کېښېږدي زموږ وسله وال جهاد به دغه لاسپوڅي رژيم تر رانسکورېدلو او ديو اسلامي حکومت ترقيام پورې ادامه ولري.

٦- د مزدور رژيم هغه افراد چې له عمومي عفو څخه په استفادې سره له مجاهدينو سره يوځاى کېږي، ځان او مال به يې په امن وي.

«والسلام»

سرطان سرخ...

جریان دارد. و همه در آرزوی انتقام از کمونیزم اند و برکمونیزم خشمگین، و خواهان اینکه به راحتی نفس کشند و همه باز شدن قفلهای آن پرده سرخ آهنین را انتظار می کشند.

انقلاب بلشویکی ده ها ملیون دشمنانش را نابود کرد، سپس به تصفیه ارتش پرداخت. و سه برچهار حصه اعضای کمیته مرکزی حزب کمونیست در سال ۱۹۳٤م هفتادویك تن بودند در سال ۱۹۳۸ م از آنجمله تنها ۲۱ تن باقی ماند که سه نفر آن به مرگ طبیعی مردند و یکی سر بریده شد و ۳٦ تن ان در تبعید گاه های سایبریا نابود شدند و نه تن با شلیك مرمی کشته شدند و یکتن از مار شالهای آن خود کشی کرد.

کدام انسان است که در روسیه بتواند ضد حزب حرفی به زبان راند؟ کدام انسان است کـه بتواند از خود دفاع و یا وکیل مدافعی برای خود تعیین کند. که در این مورد تجربه چکسلواکیا بهترین دلیل است، چه زمانیکه چکسلواکیا خواست کمونیستی را کنار گذارد، روسیه توسط هوا پیما ها و تانک ها به اشغال نظامی آن دست یازید.

در سال ۱۹٦۸ م چهار روزنامه چکسلواکیایی در زمان منشی (دبیر) حزب کمونیست « دوبچك » اعلامیه ای را بچاپ رساندند که از دو هزار کلمه تشکیل یافته بود و در آن اعلامیه که از طرف یکعده انتقادیون و دموکرات ها صادر گردیده بود حزب کمونیست چنین معرفی شده بود که:

بقیه در (٥٣)

دکتاتوری وستم در جوامع سوسیالستی روز بروز بیشتر شده وهمه ساکنان جامعه سوسیالستی خود را اسیر در زندان های آهنین می یابند. فرد در روسیه از پاسپورت و ازیك جابه جایی دیگر رفتن محروم است.

کا در های رهبری حزب را در روسیه درهم کوبید:

شورای ملت ها که در سال ۱۹۳٦م به بیست و یك تن می رسید که بعد از دو سال تنها پنج تن انها زنده بودند، دیگران همه نابود شدند.

جهاد دشعر او ادب په پنوشوکی

ويښ تودېشه!

کله به بلې کړي لمبې د رقيبانو په کور
کله به بیا هم توپاني کاندي ځپې دغورځنګ؟!
کله به بارکړي زمونږ له کليونه دوير کږې
کله به بېرته کړي تودې سرې جذبې دغورځنګ؟
چې د يا غي انسان وپښوته زولنې اچوي
کله به وپاروي هسې ولولې د غورځنګ؟!

په هکومه وينه کې چې مينه نه وي شور نه وي
چې پکې بل دانتقام دجذبې اور نه وي

ويښ تودېږه نور مې هسې وينه نه ده پکار
چې داحساس په ولولو مې ګډ توپان نه کړي
له ساړه ژوند څخه بېزار يم غورځنګونه غواړم
چې رانه هېر د ننګ په لار د ننګ ميدان نکړي
هسې فريا د غواړم چې وينې پرې لټوجهان کړم
چې رانه لوټه يې وينې ضمير غله لوټماران نه کړي

ويښ تودېږه سوړبدن ته مې ګرمي را کړه
د ننګ په لاره کې جذبه د قربانۍ راکړه
نانک مهال دی قافله دانسانيت لوټېږي
ما ته همت راکړه چې مخې ته يې سپر شمه
دجهل توره تروږ ميو دی يرغل را وړي
وينې خوټېږه! چې شفق د سپين سحر شمه
دا د وحشت، لوټ او تاوان لښکرې وشړمه
د هر ظالم په خېټه بنخ لکه خنجر شمه
ويښ تو ده شه نور له دې ژونده نجات غواړم
چې مرګ يې نشي لوټوی هسې حيات غواړم

چې د سکوت تياره تياره ګوټونه ولړزوی
ويښ تو ده شه! چې د ژوند په کوڅو شور ګډ کړم
بېرته دمينې او شرف د ژوندون زيرې را وړم
په ورانو مېښو يې په نوره لور په لور ګډ کړي
د خدای (ج) پر ځمکه چې د مينې ترانې ووايي
په هغو سرو رګو کې بېرته د ژوند اور ګډ کړم

ويښ تودېږه! چې دې مړو تنوته سا ورکړم
مظلوم انسان ته د قيام په لار امسا ورکړم



خاین خوك دى ؟

په ماسكو كې دسړك پر سر يو ه بزگر په زوره دځان سره نعرى وهلى : « روسيه خائينه ده ...... روسيه خائينه ده ..... » په دى وخت كې يوه پوځى چى په پيرى دريدلى وه هغه ونيوه او په تروشه تهنده ئې ترى وپوښتل :
« وواپه ! خوك خاين دى ؟ »
بزگر ځواب وركړ :
بس كړه ! .... ما خو ويل امريكا خائنه ده .
دپوځى په تهنده كې كونزى راښكاره شوى:
« ته فكر كوى چى زه كوم احمق يم » ماته نه ده معلومه چې خاين څوك دى »

دكمونيزم زوال

دى هــره خــوا دكـــمو نــيزم دزوال خبرى
په ختميدودى دى لړاو بر دسره دجـال حبرى
دنړى خـــلك دماركـــسيزم فلســـفه ردوى
دغــه باطلــى بى بنياده دجنـــجال خبرى
پهشرق‌اوغــرب‌كــى‌ولسونه‌جنبشــونه‌كــوى
غواړي چى ختمى كړى دنيا كى دهيره جـال خبرى
په رومانيه كى شل كلن روســى نظام نســكور شو
كوى پوليند دنوى ژوند اونوى جال خبرى
غواړي چكيان چى دروســانو باداری ختــمه كړى
كړى دليتن دنظرياتو دابطال خــبرى
دالمـــان‌خـــلكودسكيلاك‌نقشـــى‌ايره‌ايره‌كـــړى
دولس قهر كړى ختـــمى ديـــوال خبرى
په هنگرى كى دى پاخون دخپلواكى لپاره
ستكارى بـدلى دويتـنام دنوى كال خبرى
دكيــو بازړه كى زنځيرونه دكمون ماتيږى
نورى به نه وى د پـرديو دچنگال خـبر ى
دروسيې زړه هم ولسونو په لړزه راوستــى
ردوى خـلك دكمون دقيـل او قـال خــبرى
محكومو ځــكو كى قيـام داسلام دبچو
نه مــنى خــلك دروســانو داغفــال خبـرى
نصرته نن وى كه سباوى سورنظام خاتميږى
دى رانــژدى دافـــغانـــانــو دوصال خبرى

امان الله «نصرت»

لنډۍ

د پاسه غبرگ جاز ونه راغلل
الله دی خیر کړی په بهړی بمبار کوینه

شهید دقام شمله کړونغه
په قبر یې ځلي جهنډوچې میرنه یشنه

ملا دې تړه ټوپک راواخله
راځه چې دواړه د سنگر په لوري ځونه

خدایه مې دې در ولي وطنه
داځه ژوندون دی چې بې تا بندم قلاره

یاس په څوکه کې دې غن ورکشو
وړه کیه شهید شوي که مرمه دې ختي دینه

ټولونکی: محمد هاشم جنیفی.

له هغه ځايه چى اوږد ژوند موږ ته نه ميسرېږى بايد داسى ژوند وكړو او له ځانه داسى نښنى پرېږدو چى وروسته موږ هم ژوند تير كړى .

ستکل

ژوندی پیغام

زبیر شفیقی

پر مخامخ دیوال د ډیرو نورو تصویرونو او پوسترونو تر څنګ یو تصویر دي، زه چي ورته وګورم ناڅاپه یې دسترګور نها زما د ذهن تیاره ګوټونه روښانه کړي. له ځانه سره وایم: داخو عاطف صیب ته ورته.. خو لامي د زړه خبره نه ده خلاصه کړي چي په غټو تورو د شهید او اتل د لقب سره جوخت مي سترګي پر محمد سلیمان «عاطف» لګیږي او زه بیا تریوي ښي شیبي پوري د پیښور د بازار له ګڼي ګوڼي او د موټرو او ریکشا ګانو له هارنونونه بلکل بي خبره شم لکه ژوند چي په ټپه ودریدلي وي هره خوا چوپه چوپه شي چي په هوش راشم یو ځل بیا د دیوال پر مخ ننبلیدلي تصویر ته ځیر شم.

هوکي، عاطف دي، همغه عاطف! په سترګو او څیره کي ئې انساني مینه او ورورګلوي له لري جوته ده، په تندي کي یې د محبت او شرافت دروښنا یې ډیوي بلي دي. نا څاپه مي د زړه په تل کي د غمونو ویدي قافلي راویښي شي او په خوشحالیو او هوسونومي داسي یرغل راوړي لکه د روس پوځونو چي زموږ پر هیواد راوړي وُ، او بیا زما د ذهن پر پرده څوکاله وړاندي خاطري راژوندي شي؛ داسي لکه زه چي د ژوند پرستړي منزل یو ځل بیا مجبور وم چي له سره راوګرځم. ماته تصویر تیري خاطري رایا دوي او ورو ورو په خپلو خاطرو کي داسي ډوب شم لکه ټول هیواد وال مي چي نن د غمونو په ګرداب کي ډوب دي.

زه د پیښور د ګلبهار په یوه زړه حویلي کي اوسم او بیا له نورو زما په شان راورکو سره هره ورځ د شاهي باغ د فوتبال میدان ته ځم، هلته زمونږ د لوي کور «افغانستان» ډیر نور پردیس زلمیان دي زمونږ پر اوږ و د دین وطن، کورکلي او دوستانو د بیلتون درانه غمونه پراته دي، او ټول د ګډویر، او شریك درد خاوندان یو، هلته زمونږ تر منځ د اوسنیو دردونو ود رزونو او رنځونونښه نشته، نه څوك چوکي پیژني او نه موټر او نور نعمتونه، نه اختلاف شته او نه یو له بله بغاوتونه، ماته همغه وختونه رایادیږي همغه ګډ غم، شریك درد، یو له بله بي مثاله او بي پایه مینه او محبت، زه د مهاجرو زلمیانو په منځ کي د اسلامي غورځنګ په خونړي لاره کي دیوي مبارزي کورني یو تنکي ځوان وینم، چي لګیادي د هجرت په دیار کي د خپل مشر ورور د ورورولي او محبت پیغام خوروي.

زه عاطف وینم، همدغه سلیمان عاطف د شهید سیف الدین نصرتیار د کورني چراغ، د هغه په سترګوکي د وروري پیغام دي په شونډویي د میني او محبت موسکاده او په کړو وړو کي یې د خپل شهید ورور د سپیڅلي اسلامي روزني نښي نښاني.

زه د سلیمان عاطف یادونه او خاطري راسپړم، له ګلبهاره تر سکندر پوري بیا تر ورسکه د هغه شیبه شیبه ژوند او ګام په ګام مزل یادوم، هغه بالاخره د خپل ورور د لاري په تعقیب د کونړ په سردرو کي ګورم، وروسته بیا دغه د قرباني قافله تر پروان او اندرا به تعقیبوم او بیا نه پوهیږم څنګه په یوه جټګه زه د تیرو خاطرو له دریا به راوزم.

زه د پیښور په یوه کوڅه کي ولاړیم او زما مخی ته په دیوال د عاطف تصویردي، د هغه په سترګو او تندي

کي پښتو کي د ژوند، ولسونو او ټولني د ارزښتونو په اړه یو مقاله

کي پخواني ټول صفات شته او د زماني گردونو او بارانونو تر اوسه د هغه له سترگو او څيري نه د محبت او ورور گلوي نښي نه وي مينځلي،

په سترگو کي يي خو ښي ده، دادي، مينه ده، عاطف دعا طفي سمبول دی او نن يي تصوير دوروولي، محبت او عاطفي يو ژوندي پيغام دي. پر عاطف نن د ميني په لار کي د وفا «شهادت» وياړلي لقب هم ور زيات شوي.

د عاطف تصوير ماته د سپيڅلو يادونو هنداره وه چي ورته گورم په زړه کي مي همغه خلوص او مينه په ځوښ راشي خو چي خپل اوسني ماحول ته مي پام شي، تير يادونه راته تر ورخ تيري او به ښکاره شي چي په آهونو او حسرتونو بيرته نه راگرځي.

زه وروستني ځل تصوير ته گورم، بيا مي د خپل غيرتي ولس بی شميره قربان شوي زلميان سترگوته ودريږي او لکه ټول چي له مانه پوښتنه کوي چي زموږ دوينو مستقبل به څه وی؟ هك حيران شم يو ځل بيا مي په زړه کي د غمونو قافلي راويښي شي او د زړه هوسونه او خوشحالي مي داسي تيت او پرك شي لکه دا نن چي زموږ د قرباني پر ډگر ولاړه قافله تيت او پرك ده.

دافغانستان د...

قدرت ورکړي او له دې لاري څخه د امريکا حمايت وگټي خودغه دواړه پرلي نشي کولای په هغه صورت کي چي حکومت ترلاسه کړی د دې ملت د اسلامي تربيي او ما دي پرمختگ مسؤليت پوره کړي.

زما په عقيده نن سبا دغه شاني خلك چي يا روسي مشربه دي او يا غربي مشربه هم ډېرو مجاهدو او مسلمانو ورونو ته معلوم دي او د اسلام طرفداران هم هرڅوك پيژني، يقيني خبره ده چي د پيسو او وسلو په زور به په پردېو پلورل شوي خلك دې ملت ته هرڅه وړاندې کړي او دې بدبخته مجاهدين به ځان سره ملگري کړي، خو باور لرم تر څو چي په دې مسلمان ملت کي اسلامي نظام رامينځته نشي په افغانستان کي استقرار نشي راتلای او د وينو تويېدل نشي متوقف کېدلای او نه د ا ملت د نيکمرغۍ پړاو ته رسېدلی شي. څکه نو په دې وسيله مهاجرو مجاهدو او عامو افغاني

مسلمانانو ورونو ته يو ځل بيا ور اعلانوو چي خپل دښمنان او د دښمنانو پلويان وپيژني. په دې نازکه مرحله کي د وکه ونه خوړي او په الهی امتحان کي د ناکامۍ په سيند کي ځانونه لاهو نه کړي او د هغو خلکو سره شريک حکومت افغاني اسلامي حکومت ونه بولي چي دا وطن يي کمونستانو ته ورپرېښود او بايي د يو نيم مليون مسلمانانو وينې تويې کړې. مونږ به تر آخره سنگر پورې د يو اسلامي نظام د راوستلو لپاره تورره په لاس کي ساتو او هر هغه حکومت به غندو چي ياخو د پخوانيو حکمرانانو برخوته پکي اهميت ورکړ شي او يا خو د خلقي او پرچمي موجوده يا پخواني همکاران پکي لاس ولري.

سرطان سخ...

حزب کمونیست، سازمانی است برای بدست گرفتن قدرت، نیروی جذب آن زیاد و کسانی به آن رومی آورند که دارای چنین او صافی اند:

۱ـ. خود نگرانی که دست یافتن به چوکی و مقام دلچسپی شان است.

دادامه داره

ولسی ادبیات

عوض الدین صدیقی

دجهاد ولسی شاعری

افغانستان روښانه تاریخ لري ، دافتخار ونو اوو یاړونو ډك تاریخ : ددی هیواد اتلو او قهرمانو وګړو دتاریخ په او ږدوکي په خپلو مړانو اوسرښندنو سره خپل تاریخ ساتلی او دخپلو وینو او ځان په قیمت یی دخپل پلرني هیواد څخه دفاع کړی . زمونږ هیواد دخپل حساس موقعیت له امله تل داستعمار ګرانو په سترګو کي دازغي حیثیت لري ، او هغوی تل دا هڅه کړی تر څو داد شهید انو او اتلانوهیواد تر خپلی قبضی او سلطی لاندی راولي ، نو میالي شاعر ، علامه اقبال څومره ښه ویلي :

آسیایك پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر چون دل است

از فساد او فساد آسیاست
از کشاد او کشاد آسیاست

خواستعماري تو ټونه هیڅکله په خپلو شومو اغراضو کی نه دي بریالي شوی ، هر کله که ورته کوم جابر ، ظالم او باغي فرعون پیداشوی ، ددی هیواد بیا پتو میندو ورته په غیږ کی موسی روزلی ، او کله که بیاددوي پروړاندی چادخدائي دعواکړی ، دوي ورته بو ابراهیم رامخی ته کړی . که چا ددی هیواد تارا جول او غصبول غوښتي ، ددی هیواد با ایمانو وګړو ورته دجهاد په نیت دهجرت لارغوره کړی او ظالم یرغلګران ئي په زور دتسلیمی سجدی ته مجبور کړي . او چی کله استعمار ګران او یرغلګران په دی هیواد کی په ګونډو شوي او داهیوادئی په تیښته پر ېښی دا بیا په ټوله نړۍ کی دهغوی دزوال سبب ګرځیدلی ، د انګلیسانو هغه . امپراتوري چی لمر به پکی نه ډو بیده زوال دهمدی شهید پالونکي خاوری څخه پیل شوی او بیاچی کله روسانو پری یرغل وکړ نو دمومنو افغانانو دجهادي مقاومت په نتیجه دداسی رسوا ماتی سره مخامخ شول چی پوځیانو ئې دتیښتې په حال کی شاته هم ونه کتل د هیواد دویاړ ونو اتلو لیو او باتو ریو د روښانه او زرین تاریخ په ساتلو کي ټول افغانان ونډه لري ، که دهیواد شازلمو دجنګ په ډګر کی خپله وینه نذرانه کړی نوزمونږ باتور وخوېندواو میندو دځوانانو درزمي مورال داوچتولو په خاطر پری غږ کړی :

که په میوند کی شهید نشوی
خدایږ ولالیه بی ننګي له دی ساتینه

همدی لړۍ دتور دکرغیړنی کودتا اودروسانو دو حشیانه یرغل وروسته هم دوام موندلی ، که دجهاد سنګر زموږ . تهی مانو مجاهدینو

دوینو په نذرانه کولو سره ګرم ساتلی ، زمونږ په خویندو ، میندو اوځوانانو کی داسی شاه زلمي را پیدا

شوي چې دځان په قيمت ئې ادبي او فرهنګي سنګر ګر م ساتلي څولندې دبيلګې په توګه ولولې :

ته دې غزاکوه جانانه !
زه به مور چلی ته ډوډۍ در خیژومه

شهيدان واړه تل ژوندي دي
مړ خوهغه دی چی دروس په څنګـ کی مرینه

غازيانو ګوري په شانشي !
پښتني پيغلې موتر ځنګ ولاړې دينه

په همدې ډول زموږ دهيواد ټولو شاعرانو ، ليکوالانو ، شايګرو (ولسّي شاعرانو) او باآيمانه خوېندو خپل مسؤليت تر سره کړی ، که زموږ ځوانانو دجنګ په ډګر کی دروسي يرغلګر انو ګوليوته سينه سپر کړې ، نوزموږ ليکوالانو ، شاعرانو او شاريګرو (ولسّي شاعرانو) نړۍ ته د مجاهدينو دغږ رسولو زيار ګاللی ، موږ دلته په دې ليکنه کی په ټولنه او دمجاهدينود جنګي مورال په او چتولو کی دشاريګرو (ولسّي شاعرانو) پر نقش درسره غږيږو .

د« شاري » کلمه د «شعر» له کلمي اخستل شوی او ورو ، ورو د شاري په نامه دخلکو په منځ کې مرو جه شوی چی ويونکي ئی «شاريګرو » بولي ، تر کومه ځايه چی ماته معلومه شوی «شاري» يا «ولسي سندرې» يواځې دپښتنو په سيمو کی رواج لري ، چی داپه هر سيمه کی په جلا ، جلا نامه سره يا دوي ، څوک ئی «شاري » بولي او څوک يی ولسي سندرې ، خو په اکثرو سيمو کی خلك « شاري » بولي ، چی ويونکي د«شاريګرو» يا «ولسي سندغاړو » په نامه يادوی ، ددی «شاريګرو» اصلي دنده «شاري » کول نه وي او نه دوي سندرغاړې وي چی ولسي سندرې ووائي .دوي اکثريت په ټولنه کی نورې چارې پرمخ بيائي ، اودليك لوښت له نعمته محروم وي ، خود خدائي استعداد له مخې چی ددوي په برخه شوي وي ديوې موضوع په باب داسي « شاري » يا نظم » جوړوي چي دحيرانتيا وړوي ، ترکومـه حده چی ماليدلي ددوي اکثريت کوم نظمونه پاشاري چی وائي ليکلي نشي .

شاري یاولسي سندرې دپښتنو په اکثرو سيمو لکه ، پکتيا ، ننګرهار ، وردګ ، پکتيکا او ... کی رواج لري ، خوپه ځينو ولا يتونو کی داسلامي انقلاب په پيل کيدو سره يا ورکي شوې يا کمې شوې :اوپه ځينو سيمو بيا داسلامي انقلاب پيل سره او ج ته رسيدلي خصوصاً دځا ځينو خوست او ...... ولسواليوکی ، دا اکثره هغه سيمی دي چی دروسانو او دهغوي دمزدورانو زياتی ککرې په کی خاورې شوي او دمجاهدينو او دشمن تر منځ دمعرکو ډګر ؤاو دی ، راځی چی وګورو يو « شاريګر» قمر جان اده خيل ، چی اصلي دنده ئی ډريوري ده او دځاځيو په شاريګرو کی جوت مقام لري ديوه شهيدمقام څنګه ستائي :

« چوني [1] » مور چوني وختي په يوه تکبيره
شهيده « خان وزيره [2] » تا ته سلام دي

غاړيه تانه شم قربان
محکم ولاړوي په ميدان
تاقرباني کړلو خپل ځان
، نړۍ [3] » خونخورکړې ريز مريز په زړه زهيره
شهيده «خان وزيره » تاته سلام دي
او ... ...

شاري دولسونو ، ټولنو او وګړو دښاديو ، غمونو ، قهرمانيو او جنګونو انځورونکی دی، دشاريو ويوونکي (شاريګر) دټولنی له زړه څخه زاٌ پورته شوی او خلکوته دهغوی دزړه خبره کوي ، ګورو کله چی په يوې سيمی کی يو مجاهداتلو لي کوي يا په ميړانې سره دشهادت او سرښندنی ډګرته وردانګي او

دزیاتو اتلو لیوتر ګټیلو ورووسته ئی
دشهادت افتخار په برخه کیږي
یادمعرکوقهرمانان را څر ګند یږي ،
که څه هم چی خلك هم ددی اتلا نو
قهرماني ستائي خو « شاریګر»
دخلکو دزړه خبره او غوښتنه په داسی
انداز کی وړانـدی کـوي او ددی
قهرمانانو اتلولي په داسی انداز کی
ستائی چی اوریدونکي په وجدراولي
د هغوي احساسات را پاروي او هر
اوریدونکي ته دا احساس پیدا کیږي
چی کاش ددی اتلانو په قطار کی
راشم : «شاریګر » معمولاً په واده
او ښا دیو کی دخپل فن مظاهره کوي
، کله چی چیرته واده یا ښادي وي نو
« شاریګر» هغه دقهرمانانو په
ستایلو سره ګرموي ، راځئ وګورو «
نیازولی » « حسن خیل » دشهید
«رحیم شاه » اتلولي څنګه ستائي :

« رحیم شاه(۴) وختي پتنګ غوندی ـ
مور چوکی
درب حضور ته لاړی په سرو جاموکی
ته به دچانه نشی ویره(۵) ،
روسیان دتانه وه چاپیره
تابه دچانه نکړه ویره(۶) ،
(۷) ویړدکړه غیږ ودنیول په ګریوانوکی
درب حضور ته لاړی په سروجاموکي
رحیم شاه ډیرو جنګیدلی
نه وي فولادو نه نیمګړي
روسیي مړمیو وخوړلی
حورو سره ګرځی به جوړه په جنتوکی
درب حضور ته لاړی په سرو جاموکی

ګورو چی « شاریګر » په څومره
سوچه انداز کی یو شهید ستائي ،
مـادرحیم شاه دشهادت کیسه او ـ
ریدلی ، کټ ، مټ همدا شانی لکه
چی ئی شاریګر بیانوي « رحیم شاه
» په داسی حال کی چی شا اوخوا
ورڅخه روسان تاو ؤو دهغوي څو
مورچی ونیولي او بالاخره دمرمیوتر
خلا صیدو ورووسته غیږ په غیږ نښتیه
کی دروسانو دلاسه په شهادت ورسید
، هغه په رښتیاچی ډارنه پیژانده او
هری معرکی ته به ئی په شوق او
میړاني ور دانګل .

زمونږ دټولنو قبیلوي جوړښت ،
دارتباطي وسایلو کمښت ، دسیمو
ورووسته پاتی والی ، او دهر چا
دخپلی سیمی او کلي څخه
نشلیدونکی ژوند چی کالونه کالونه
، تیرشي حتی په ژوند کی دښار یا
بلی سیمی له لیدو محروم وه ټو ل
هغه عوامل دي چی شاریګربايد
دخپلی سیمی قهرمانان وستائي .

که چیرته زمونږ«شاریګرو » یا
ولسي سندر غاړو دا حماسي شعرونه
یا شـاري خـونـدي شـوي واى
اودکتابونو پاڼوته سپارل شوي واى
دابه زمونږ دولسي ادب او دولسونو
دتاریخ په ساتلو کی یو ډیر مهم ګام
واى ، که څه هم په دی برخه کی لږ
کارشوی او په کابل کی دځینو ولسي
شاعرانو شاري او نظمونه راټول
شوي او دشاریګرو دتذ کر ی تر څنګ
دهغوي دنظمو نواو شاریو نمونی هم
چاپ شوي او ویل کیږي چی په دی
برخه کی لومړی ګام میجر «راوټي »
پورته کړی ، خو دا کار ډیر کم او نا
چیز دی . که په دی برخه کی
کاروشي دابه دولسي ادب دژوندي
ساتلو په لاره کی مهم کاروي زمونږ
شار یګرو یا ولسي شاعرانو تل
مونږ سره په غم او ښادي کی ځان
شریك کړی او تل ئی دخپل دردمند
زړه غږ دټولنی دردمندو پرګنوته
رسولي ، بیا هلته احساسات را
پاریدلي ، خلك را پورته شوي او په
شوق او میړانی سره ئی دخپلو پولو
ساتلو ته ملا تړلی ، او دخپلو پلرونو
دلاري په تعقیبو لو سره بري تـه
رسیدلي دي . ، راځئ چی اوس
دیوی دردمندي او غم ځپلی ټولنی له
زړه څخه دیوه دردمند « شاریګر »
«حکم جان » غږ واورو :

سر کال هر چاپه مالـوو کړی ـ
داخترقربانی
آریوب ځاځیو خدای ته ورکړي په ـ
خپل سرقرباني
سر کال دنیا کی لوی اختر کی ډیر ـ
خوندونه و و
آریوب ځاځیو کي خو کورپه کو ر ـ

ویرونه وو
دنیا نه تلل د شهیدانو کاروانو نه–
وو
کور په کوروینو باندی سره تهول–
لاسونه وو
بیشکه خدای ته دي منظوري دسنگر–
قرباني
سږ کال هر چاپه مالوو کړی داختر–
قرباني

« شاریگر » کتو ، متو، پیښه بیانوي ؛ د "۱۳٦٤" کال وروسته کله چې دکابل رژیم گو ډاگیانو دافیصله وکړه چې باید دځاځیو سرحد دمجاهدینو پر مخ وتړل شي ، په پرله پسې توگه به هر کال دروژې په میاشت کې دی سیمې باندی یرغل پیل شو اودري ، دري نیمي میاشتي به دی جنگ دوام موندە چې دواړه اخترونه به په کې تیر شول خو دښمن هیڅ ځلي نه دی بریالی شوی چې داسیمه ونیسي او مجاهدینو به هر ځل دخپل سر په قربانو لو سره خپله سیمه ساتله او په اختر کې به ئې دمال پر ځای سرقرباني کاوه رښتیاهم همداشانی ؤ په ځاځیو باندی به اختر کې او رېل ؤ ، داسی بمباريږبه کیدی ، داسی « بي ، ام ،یوځلویښت » دستگاوی به چلیدی ، او دروسانو داسي لوی قوابه پری یرغل وکړ چې حساب ئې نه کیده دټانگونو یو سربه ئی «نري» کی ؤ بل به ئي گرد یز کي ، الوتکوبه شپه او ورځ بمباري کوله ، ځنگلونو به داسی اور واخیست چې میاشتي میاشتی به ئی بیا اورنه مړکیده ، په هغو کیمپونو کی به چې ددي سیمي خلك او سیدل غم ؤ ، کورپه کورپه ویراو ژړا وه ، داسی کورېه نه لیدل کیده چې د ژړا ، کوکو ، اند یښنو او غمونو خپسی به منگولی نه وي ور باندي لگولی .

زمابښه په یادیږي د "۱۳٦٤" کال په لوی اختر کی چې کله روسانو پرځاځیو باندی یرغل وکړ په کیمپونو کی ویراوماتم ؤ ، زموږ په کیمپ کي چې د « بگن » په نامه یا دیږي هغه اختر کي دغم فضاء حاکمه وه ، دکیمپ او دانصارو وروڼو دکلي ترمنځ ډیره کمه فاصله ده تقریباً شل ، پنځه ویشت متره ، خوپه اختر کي تو پیر دآسمان او دځمکی په شان ؤ هلته ماشو مانو نوي کالي اغوستي ؤ ، خوشحالي ئی کولی ، کورپه کور گرځیدل او داختر مبارکي ئی کولی خودلته په کیمپ کی ماشومان هك پك ؤ چې ورور ، پلار او تره ئی چیرته دی او داموراو خوېندي ئی ولی ژاړي ، هلته به دجومات له « لو- دسپیکر » څخه داختر دلمونځ غږ راته او دلته دکیمپ له « لودسپیکر» څخه به پر له پسی دا اعلانونه کیدل چې ډوډۍ او خوراکي مواد را وړمي چې مجاهدینو ته ئی ورسوو .

هلته به پیغلو او ر بل گو منځاوه ، خو شحالي به ئی کوله ، خپلو ، خپلوانو ته به داختر مبارکي لپاره ورتلي ، دلته په کیمپ کی به پیغلو ویراو ماتم کاوه اولاس په دعابه وي چې خدایه روسانوته ماته ورکړي او زمونږ ورونه وساتي ، هلته به ماشومانو ، پیغلو او ځوانانو لاسونه په نکریزو سره کړي ؤخودلته دټولو

لاسونه په وینو سره ؤ ، زمانه هیر-
یږي دیوه ګاونډي کورته ورغلم چې
لیدل مي پیغله لورئی دکور په انګړ
کي ژاړي ، ما ورځني وپوښتل : ولي
ژاړي ؟
پر مخ ئی او ښکي راوبهیدي او وي
ویل :
ولي به نه ژاړم ، هغه افضل ورور
مي چي ځاځیو کي سنګر کي دي .
ماځا ن قابو نشو کړای ستر ګو کي
مي او ښکي راغلي او بیرته راووتم
هلته خلکو داختر قرباني په مالو
کولي خو دلته په کیمپ کي خلکو ،
زامن ، ورونو او ... ...دخداي
په لاره کي قرباني ته لیږ لي ؤ ،
شاریګر » څومره ښه وائي :
« بیشکه خداي ته دي منظوري د
سنګو قرباني »
دابراهیم (ع) پر تګ لاره تلل
همداسي وي چي مسلمان دخداي په
لاره کي دځان قرباني کولوته ملاو-
تړي ، دقرباني اصلي هدف همدا دي
، خو دېده شامته چي « سنتي »
شکل ئی په تړلنو کي ژوندي دي
اواصلي جوهر تر ګردونو لاندي پټ
شوي .
«شاریګر » په خپلو ...
«شاریو » کي غواړي په ژوند کي چي
څه تیریږي هما غسي وښیي او
دخلکو ، ښا دیو او اتلو لیو حا دثي
او پیښي تمثیل کړي . « شاریګر »
په خپل نظم کي دجها دکلك ملا تړ
کوونکي او مخلص دوست څومره
ښکلي انداز کي ستایلي :

خدایه دنیا ولړزوي چي قیامت شینه

خپلو جامو کي ضیا الحق خاور وته -
ځینه
ضیا الحقه سردي په حق ورکړ و
دجنت خوري به سلام درته کوینه
لورځي سوري وهي باباته
مورځي پلمي ورته کوي چي اوس را-
ځینه
خدایه دنیا ولړزوي چي قیامت شینه
خپلو جامو کي ضیا الحق خاوروته-
ځینه

ضیاالحق واقعاً چي دحق په لار کي
سرور کړ ، هغه شهید شو ځکه په
خپلو جامو کي خاوروته وسپارل شو ،
هغه یو مدبر ، قاطع او ایما نداره
جنرال او سیاستمدار ؤ زړه ئی دمیني
او اخوتـه ډك ؤ خو یر غلګرو ،
ظالمانو او جابرو په مقابل کي
دفولادوپه شان کلك غر ؤ
او بیا ګورو کله چي « شاریګر »
دخپلو شهیدو لتلانو او قهرمانانو
ارمان کوي دو ... دومره یو دمه مره
» متل مصداق په څومره ښکلي انداز
کي وړاندي کوي :

پکتیا په دنګو ، دنګو غرو کي څه
ښکلي ځوانان وتاریخ قهرمانان ؤ
تراوسه پوري پاتي که ژوندي په
دادنیاوي
آزاده به پکتیاوي

«شاریګر » په ښکلي انداز کي
دخپلو شهیدانو ارمان کوي ، هغه
اسداله جهادوال ، رحیم شاه او ...
ارمان کوي چي دنامه په
اوریدلو سره به ئی دروسانو
کمونستانو پروجود وژغو ني را
جګیدل ، هغه په خاص ترتیب سره
دپکتیا ټول سرښندونکي شهیدان
ستائی ، دهغوي کارنامي ستائی ،
دهغوي تګ لاري ته خلك را بولي او
دهغه په یادولو سره د هغوي یاد
ژوندي ساتي او بیا چي دهجرت په
دیاراو مهاجرو په کیمپونو کي
ناخوالي او ظلمونه ګوري دهغوي
پردي نا خوالو او ظلمونوژاړي :

مهاجرو په کمپو کي بي حسابه-
غداران دي
ځیري شوي بدلي تور مخونه دوز-
خیان دي
مهاجرو په کمپو کي مي لیدلي ډیر-
عیبونه
وړکي دي ناجائز ، ناروا اوډیر-
ظلمونه
ټول خوري دکونډو ، ترنډو یتیما نو -
نه حقونه
ځیني غداران ګورم چي کوي-
تجارتونه
وپاسي په ډګر دکیمپ نه دتهلو-
بیلرونه

په هره میاشت کې وړې دکیمپ نه—
دغوړ یو کارتنونه
بې ننګه ، بې غیرته تیتوي ترینه—
سرونه
څوك نشته چې تجارپه سرکې جوړ—
کړي پر هرونه
رسیږي هر مهاجرته دتجاردلاسه تا—
وانونه = مهاجرنه ورکو ي داسي
مړتت ته ځواېونه او ... ...
واقعاً مهاجروپه کیمپونو کې او س
دځینو مفرضو او ناوړه اشخاصو
دلاسه همداورځ روانه ده ، هلته
مهاجروته حقوق نه ورکول کیږي ، که
په پاس کې ورته لیکل کیږي چې
سل کیلو غنم ور کړ شول نو ورکو
ي (٦٠) کیلو که شیدي او غوړي ،
بوره ، تیل یا بل کوم خوړکي مواد
راغلل دا غداران ورته رنګ رنګ ، بهاني

کوي او په یوه بل نامه ځي خرڅوي او
که بیا چاور باندې انتقاد وکړ چې
ولې داسې کوي پاس یې هم کښل وي
اود (٩٠) کیلو غنمو هم محروم
کیږي ، « شاریګر » په څومره ښکلي
انداز کې دا نا خوالې بیانوي «
شاریګر » دغمونو ، مصیبتونو ،
ظلمو، قهرمانیو ، قربانیو ، ویاړنو او
اتلو لیو په شیبو کې مور سره او ږه
پڅه او ږه روان دي ، مورسره په ښادي
او غم کې ځان شریك بولي اوز مور
ښادي ، زموږ داتلانو په ستایلو او
زموږ په منځ کې دنا خوالو په غندلو
سره یوبه دوه کوي .
که خداې توفیق راکړ په راتلو نکي
کې به دهر شاریګر دسوانحوا وشاریو
په باب په جلا ، جلا ډول معلومات
درته وړاندې کړم .

لمنلیك :

١ "چونې" — دځاځیو ولسوالي "چونې" څخه مقصد دي.
٢ "خان وزیر" دځاځیو "دبلوټ" سیمې یو تکړه مجاهدو.
٣: "نړۍ" — دکړي احمدخیلو "په ولسوالۍ کې یوه سیمه دد چې دمز— دوړ رژیم یوغونډ یکي پروت و.
٤: "رحیم شاه" — د "ځاځیو" سیمې، یوتکړه قوماندان و.
٥: "ویره" — د "ځاځیو" په سیمې کې یادبه ونوځې" پرځای استعمالیږي.
٦: "ویره" د "ځاځیو" سیمې کې "ډار" په ځای استعمالیږي.
٧: "ویرموکړه" د "ځاځیو" په سیمې کې "ورد کړه" په ځای استعمالیږي.

محمد عمر اختر

نظامي ښوونه او روزنه

رفتار او د رفتار امنیت

دمنظمو قوتونو انتقالات پداخل دقطار کی په سرکو نو پهٔ لارو پـه موقع سرد معینی منطقی او یا تعیین شوی خط درسیدو په مقصد دمکملنو محاربوی احضاراتو په درلودلو سره عبارت د رفتارڅخد ده.

رفتارددښمن سره د احتمالی تصادف او یا عدم تصادف پـه صورت کـی اجراٴ کیدلی شی رفتار چـه ځمکنی دښمن سرد د احتمالی تصادف سرد مخامخ کیږی هغه معمولاً"د دوستو قوتونو پـه شا کی اجواٴ کیږی.

دجزوتامونو قطعاتو درفتار دمحرمیت د تأمینولو پـه منظور قاعدتا "رفتار دشپی لد خوا او یا پـه تیاروکی دنـه لیدلو پـه صورت کی اجراٴ کیږی.

دمحاربوي فعالیتونو پهٔ جُریان‌کی کد چیږي ضیاع دوخت مجاز نه وی او هم د دوستو قوتونو پـه شاکی فعالیت وی نو رفتار دورځی اجراٴکیږی.

پیاده،موټریزه جزوتامونه قاعدتا " رفتار پد زرهپوشونو اوموټر اجراٴکوی پـه نږدی مسافاتو کی جزوتامونه رفتار دپیاده نظام پـه داخل کی‌اجراٴکولای شی اوهم سرعت د حرکت مهمترین وصف د رفتار بلل کیږی

سرعت دحرکت پـه رفتارکی په لاندی عواملوپوری مربوط دی.

محوله وظیفه (دوظیفی څرنگوالی دلاروضعیت او حالت.

موسم ،شپه ورځ هوا وضعیت.

دتخنیکی وسایطو وضعیت.

د دریورانو تجربه اوتعلیمی سویه.

د رفتار ترتیب او تنظیم او د هغه تأمینول.

سنجش دٔ رفتار د لارو اوږدوالی د حرکت وسطی سرعت د ورکړ شوی‌وظیفی مطابق.

وسطی سرعت:ـ

د لاری اوږدوالی حاصل تقسیم وسطی سرعت:ـ

د لاری اوږدوالی حاصل‌تقسیم د هغه مدت چی په رفتارکی مصرفیری.

یا‌هغه وخت چی رفتار بدون لـد استراحت "موله" څخه پلان‌ـ گذاری شوی وی او هم تجربی ښودلی دی چی وسطی سرعت د حرکت مختلط قطارونو د رفتار د اجراٴ پـه مقصد په هغد لارو کی چی نیمه عرضه داروی‌او نسبتاٴ ښه سرکونه وی پـد ورځ کی ۲۵- ۳۰ کیلومتره او په شپد کی ۱۵-۲۵- کیلو متره دي.

په هغه صورت کی چی رفتار په خرابو سرکونو او ځنګلونو کی اجرأ کیږی سرعت په مختلفو قسمتونو کی کم اوزیاتیږی .

د پیاده نظام رفتار وسطی سرعت د شپی او ورځی (٤–٥) کیلو مترفی ساعت وی .د لار و په اوږدو کی سرعت د حرکت نظریه مشخصو وضعیتونو او شرایطو سره فرق کولای شی .

په ټولو مواردو کی رفتارباید په ممکنه سرعت سره په موجوده شرایطو کی اجرأشی.

د وسایطو او جزوتامونو لپاره په قطار کی مسافه نظر په سرعت او د نه لیدلو په شرایطو پوری اړه لری چی هغد ۲٥–٥٠ متره وی په هغه اندازه چی سرعت زیات وی په هغه اندازه مسافه د وسایطو تر منځ زیاتیږی .کله چیری حرکت په هغه لاروکی چی خاوره زیات پیچومی ،لونګ او ګولائی زیادی ولری او سرعت زیادوی نو مسافه د وسایطو تر منځ زیاتیږی.

په موقع سره د حرکت شروع او د حرکت سرعت د عیاررولو لپاره جزوتامونو ته د مبداء نقطه تجمع دمحل څخه په مسافه د ٥–١٠ کیلو متره لری تعین یږی او نقطه د عیار پس لد هریو (۳–٤) ساعته رفتار څخه ورکوله کیږی .

د مبداء نقطه او دعیار نقطه څخه د جزوتامونو حرکت په تثبیت شوی زمان کی سرقطارباید عبور وکړی د دریورانو او پرسونال د انرژی د محافظی دتخنیکی وسایطو او نواقصو د برطرف کولو په منظور په رفتار کی "موله" استراحت تعین یږی .

د ورځی یادشپی استراحت جزوتامونو ته په هغد صورت کی ورکول کیږی چی رفتار د څو ورځو شپو په اوږدو کی اجرأشوی وی.

پدی شرایطو کی جزوتامونه د ورځی استراحت کوی او دشپی رفتار اجرأکوی که چیری وضعیت ایجاب وکړی نو د شپی استراحت او د ورځی رفتار اجراء کړی.

د مزدور رژیم په زندانونو کې

د

بندیانو لیدلی - اوریدلی حالات

س، م، د
"هاشمی"

په تېرپسې: (٨)

احمد گل حیران چې اصلاً دخورد کابل دچکړی اوسیدونکی دی، څو میاشتي یی دروسانو د مزدور رژیم په زندانونو کې له کړاوه ډکی شپې ورځی تیری کړی، په بیلابیلو محبسونو کې لیدلی کتلی حالات داسې بیانوی:

«زه یی د ١٣٦١ هـ ش کال دجوزا په (٢٥) نیټه د ننگرهار دپولیسو په قوماندانۍ چې په همدغه ځای کی می وظیفه درلوده، ونیولم او بیا یی د ننگرهار دخاد درياست ودانۍ ته چې دننگرهار دپوهنتون روغتون ترشا واقع وه بوتلم او په یوه وړه او تیاره خونه کی یی واچولم. بله ورځ یی زه د تحقیق لپاره وغوښتلم، کله چې زه دمؤظفو کسانو له خوا د تحقیق خونی ته وروستل شوم یو چاغ او بدشکله سړی د میز تر شا په چوکۍ ناست ؤ، دری څلور تنه یی نورهم یوه خوا بله خوا پر چوکیو ناست وو لومړی یی مجاهدینوته په ستغو سپورو ویلو پیل وکړ او بیا یی له مانه په ډیره قهرجنه لهجه وپوښتل چې وایه له چاسره ارتباط لری؟

ده که هر څومره یو ځل خپله لهجه ستوغه او بیا نرمه کړه ما اعتراف ونکړ. مستنطق ناستو کسانو ته مخ واړاوه او ویی ویل: ډاخلك داصلاح وړنه دي باید چې له دوی سره له کوټك څخه کار واخیستل شی او یا دتاریخ کندو ته وسپارل شی.» او بیا یی نوموړو کسانو ته زما دوهلو امر وکړ. او دغو څلورو تنو په لغتو اوسوکانو زما په وهلو مسابقه شروع کړه. ما بیا خپل ځان ونه لید، چې څنگه په ځمکه ولویدلم او چې څه شیبه وروسته په هوښ راغلم او ځانته می پام شو نو له پوزی او خولی نه می وینی روانی وی.

په دغه ځای کی ماشل ورځی او شپی ډیر کړاوونه او شکنجی ولیدی، خو دوی و نشوکړای چی له کوم جهادی تنظیم سره دارتباط لرلو په اړه له مانه اعتراف واوری.

بالاخره دشلمی ورځی په سهار یی زه او یو بل بندی چی اصلاً دمیدان ؤ په داسی حال کی چی لاسونه مو ولچک‌وو د ننگرهار هوایی ډگر ته وروستلو او هلته یی دخاد نمایندگی ته وسپارلو. مازیگر دالوتکی په ذریعه کابل ته انتقال شوو او بیا یی په ششدرك کی د خاد ریاست ته بوتللو او زه یی په یوه داسی زیر زمینی خونه کی له نورو بندیانو سره واچولم چی ډیره تنگه او تیاره وه او په ډیر مشکل سره موپکی پښی غځولی شوی، په خونه کی د بدبوی او ډول ډول خزنده گانو په یادمی اوس هم غونی زیږ زیږ اوخواگرځي. او چی څو ساعته می هلته تیر کړل نو وپوهیدلم چی له ما سره په خونه کی نور پنځه تنه بندیان ټول لیونیان دی او بیا وروسته راته دا پته هم ولگیده چی ځنی بندیان د روحي شکنجو په خاطر دیو څه وخت لپاره له دغو لیونیانو سره اچوی. ما دغلته پوره یوه میاشت تیره کړه داچی ماله دغو لیونیانو سره په کوم چل او هنر شپی او ورځي تیری کړی دهغی ټوله تشریح زه دلته نشم کولی. زه د مستنطقینو او دخاد د نورو مؤظفو کسانو له وهلو او ټکولو څخه دومره نه ویریدم لکه څومره چی می له دغو لیونیانو څخه دویری او خطر احساس کاوه.

یوه به راته کنځلی کولی او بل به راپسی گواښونه یوه به می له مخی نه ډوډۍ او دکتغ لوښی اخیست یوه به ځان لوڅ کړی ؤ او بل به خپل کالی څیرول چا به په لوړ آواز سندری او څوك به روسانو او د هغوی مزدورانو (خلقیانو - پرچمیانو) ته په بد رد ویلو سر ؤ،

سره له دی چی زه له دغه ډول روحی او جسمی فشار سره مخامخ وم، دتحقیق په جریان کی می وهل ټکول، برقی ټکانونه او ډول ډول شکنجی او کړاوونه ولیدل خو بیا هم د خاد مؤظف کسان په دی ونه توانیدل چی له ما څخه کوم اعتراف تر لاسه کړي.

یوه ورځ یی مونږ (۳۷) تنه په یوه‌مخصوص موټر کی چی د بندیانو ترمنځ په دیگ بخار مشهور ؤ واچولو. لومړی خو زمونږ دا خیال ؤ چی ښایی دا زمونږ په باب وروستۍ فیصله او زمونږ دژوند وروستۍ شیبی رارسیدلی وی. دشهادت کلمی مو په ځانونو هم وویلی، خو دیوی ښی شیبی مزل څخه وروسته چی موټر ودرید او دروازه خلاصه شوه نو

مو لیدل چې مونږ یې کومې بلې بندیخانې ته راوستي یو او بیا وپوهیدو چې داهماغه د پلچرخي عمومي محبس دی . زه یې د دریم بلاك په دوهم پوړکې په یوې خو نه کې له نوروبندیانو سره واچو لم . په خونه کې د بندیانو شمیر زښت زیات ؤ او په هرودوو توشکونو به پنځه تنه پریوتلو . د معذرت رفع کولو او ځان مینځلو لپاره خو دوه دری ساعته انتظار عادي خبره وه . د بندیانو ترمینځ دویری او ترس فضا موجود وو ، ځکه چې د بندیانو په جامه کې ډیر دخادغړي او جاسوسان موجودوو، نو له ویرې یو بل ته دزړه حال هم نشو ویلی او یو پر بل شکمن ؤ . یوه شپه یې زه د تحقیق لپاره وغوښتلم او مستنطق راځخه بیا هماغه پوښتنې ، پیل کړې ، کله به یې خپله لهجه نرمه کړه او کله به له قهره و غړمبیده ، کله به یې راته د خلاصولو وعدې راکولې او کله به یې په وهلو او مرګ تهدیدولم . خو ما ترپایه اعتراف ونه کړ بالاخره یې زما په وهلو اوټکولو شروع وکړه .

څو ځله یې له ما ځخه تحقیق وکړ او هر ځلې یې ډول ډول سزاګانې راکړې ، برقي ټکانونه ، په لغتو او سو کانو وهل او ... زما لپاره بیخي عادي شوي وو .

هره شپه به مؤظف کسان راتلل او د ځینو خلکو نومونه به یې واخیستل او له ځانه سره به یې بیو ل په مخصوصو ځایونو کې به یې شهیدانول . په دغه ځای هر چا خصوصاً هغه څو چې د بې سرنوشت په نوم به پاتې ؤ خپل شهادت ته سترګې په لارو او فقط ددې په انتظار وو چې کله به ورته دموظفو کسانو له خوا د بیولو غږ کیږي .

ماهم په دغه ځای اته میاشتې تیرې کړې او بالاخره هغه ورځ راورسیده چې پر ما دخلاصون زیرې وشو . اوله بند ځخه تر خلاصون وروسته مې اسلامي هیواد پاکستان ته هجرت وکړ او فعلاً د عبوری حکومت دپولیسواوژاندارم په تومانداني کې وظیفه اجراء کوم .

« نور بیا »

پر کتاب تبصره

پدي وروستيو وختو نو كي دافغانستان د جهاد په رابطه په اردو ژبه يو بل ناول « پها ژون كا بيٹا » تر عنوان لاندي خپورشويدي . دناول ليكونكي د پاكستان ځوان ، مشهورليكوال او صحافي ملك احمد سروردي.دی دافغانستان د جهاد په اړه له ډيري مودي راهيسي لگيا دي ليكني كوي پخپله څو ځو واره افغانستان ته تللي د جنگ — راپورتاژونه يي ليكلي،دپاكستان په مطبوعاتوكي يي دجهاد په رابطه خورا زياتي ژورنالستيكي ،تحقيقي او ادبي ليكني خپري شويدي.داناول پرادبي ارځښت سر بيره له تاريخي ارځښت څخه هم برخمن دي چي دجهاد تاريخ يي ادبي او ابدي كړيدي .

بله په زړه پوري خبره داده چي داناول د ماشومانو د روحياتو او بر داشت په سطحه ليكل شوي او زما په عقيده دا لومړي ناول دي چي دنويو ځوانانو دذوق او سويي د په نظر كي نيولو له مخي په متعهد انه اندازليكل شوي او خپورشويدي،ځكه خو كومه ژبه او محاوره چي ددغه ناول په ليكلو كي استعمال شويده هغه درواني او سلاست تر څنگ ډيرجذابه، زړه رابنكونكي او ساده هم ده.ناول كي دكمونيزم نظرياتي پوچوالي او استبدادي ماهيت بربنډوي او دكمونيزم له وحشيانه او انساني ضد پاليسي او استعماري اهدافو څخه پرده پورته كوي . دغه ناول ديوه ملت دآزادي كيسه ده،ديوه ولس دقرباني او عظمت داستان دي،ديوه قام د سرلوړي او حماسو تاريخ دي او د خداي دلاري دسرښندونكو دبيمثاله قربانيو يادگاردي كوم چي دټول عالم اسلام - او اسلامي امت د بقاء او سرلوړي راز وربوري تړلي دي . كتاب په منځني قطع په ښكلي صحافت چاپ شوي، دمخونو شمير يي (٢٦٢) دی، دكتاب په پيل كي د الحاج مولوي جلال-الدين حقاني پيغام خپور شويدي. حقاني صاحب پخپل پيغام كي دغه ټكي ته اشاره كړي،څنگه چي دځوانانو اسلامي روزني او فكري تربيي ته دافغانستان په بنوونځيو او تعليمي مؤسسو كي لازمه توجه نه كيدله دهغي نتيجه داشوه چي نوي ځوانان دكمونستانو د تبليغاتو په دام كي ايسارشول . ځكه خو پاكستان ملت ته په كارده چي دخپلو ماشومانو او ځوانانو روزنيز او تر بيتي اړخ ته خورا زياته پاملرنه وكړي .«

دښاغلي ملك احمد سرورناول په دي لاركي يو اغيز من گام دي ددغه ناول په لوستلو سره به دلوستونكو په زړونواودماغونو كي دجهاد جذبه.ژوند يي وساتلي شي . له بلي خوادداډول ناولونو او كتابونو داشاعت له لاري به ځوانان دي ته اړه نه پيدا كوي چي گمراكوونكي او لار وركي ناولونه ولولي او خپل وخت پري ضايع كړي .

ملك احمد سرورله (٩)كلونو راهيسي خپل قلم او فن دافغانستان جهاد ته وقف كړي دي او پدي اړه يي په زړه پوري او خورا ارځښتناكي قيمتي ليكني كړي اوخپري كړيدي .«پهاژون كا بيٹا »د خپل منفرد حيثيت له مخي دنويو ځوانانوله پاره يوداسي گرانبيه ناول دي چي له يوي خوا دافغانستان دجهاد سمه عكاسي كوي او له بلي خوا دجهاد جذبه ژوندۍ او خو ځنده ساتي .

بسم الله الرحمن الرحيم

د حق د لارې قربانیان

شهید عبدالله

د حق دلاری قربانی عبدالله د پیر رسول خان زوی په ١٣٥٢ هـ ش کال د لغوړی پیرانو په کورنی کي زیږیدلی و.

نو موړی د خپلی کورنی سره یو ځای په ١٣٥٧هـ ش کال د پاکستان اسلامی خاوری ته هجرت وکړ او په

١٣٦٥ هـ ش کال یې د دیر کم عمر په درلو دلو سره د مولوی حنیف شاه تر قوماندی لاندی په وسله وال جهاد پیل وکړ او د جهاد په دوران کي ددین او وطن د ښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دي.

بالاخره ، دغه زړه ور او نو میالی مجاهد په ١٣٦٩/٣/٥ نیټه د منګلی پوسته باندی د حملی په وخت د ملحدینو سره په یوه مخامخ جګړه کي د شهادت لوړ مقام تر ورسید ، یاد دی ژوندی او روح دی ښاد وی .

(انا لله وانا الیه راجعون)

* * *

شهید اسماعیل

دحق دلاري قرباني اسماعيل دعمر زوي پـه ١٣٤٦هـ ش كـال دفراه پـه ولايت كي زيږيدلي ؤ.

نوموړي دکمونستانو لـه خوا پـه زوراو جبو سره عسکري ته سوق شوي ؤاو دګردیزپه منطقه کي دیوه څه

وخت عسكري كولو وروسته دخپلو مجاهدينو ورونو سره يو ځاى شو او دملحدينو په مقابل كي يي وسله وال جهاد پيل كړ او دجهاد په دوران كي ددين اووطن دښمنانوته دسراومال زيات تاوانونه وراړول .

بالاخره دغه زړه وراو نوميالي مجاهد په ١٣٦٨ هـ ش كال دارگون ولسوالي دشنگي په منطقه كي په داسي حالت كي چي لاري يي دمينونو څخه پاكولي ديوه مين دچاوديدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسيد ، ياد دي ژوندي اوروح دي ښاد وي.

(انا لله و انا اليه راجعون)

شهيد سنگين

دحق دلارى قربانى سنگين دگلاب زوى په ١٣٤٤ هـ ش كال د پكتيا ولايت د خوست په لوړي ولسوالى كي

زيږيدلى او په قوم كوچي وو .

كله چي په افغانستان كي د ثور خونړى كودتا وشوه ، نو نوموړى سمدستي د خپلي كورنى سره يو ځاى د پاكستان اسلامي خاورى ته هجرت وكړ او هجرت څخه وروسته يي د ذر كوچى قوماندان تر قوماندى لاندي په وسله وال جهاد پيل وكړ، دجهاد په دوران كي يي د پكتيا ولايت په مهمو جگړو لكه د ليژى تانه، سپينكى پوسته ، دروازكى پوسته ، تورى غارى ، جلالى پوسته او د ژورى په جنگ كي د ملحدينو په ضد سره په ميړانه جنگيدلى دى او د دين او وطن د ښمنانو ته يى دير ځانى او مالى تا وانونه اړولى دي.

بالاخره دغه زړه ور او نوميالى مجاهد په ١٣٦٨ هـ ش كال د عليشيرو په منطقه كي د شهادت لوړ مقام ته ورسيد ، ياد دى ژو ندى او روح دى ښاد وى .

(انا لله و انا اليه راجعون)

شهيد خانگى

دحق دلاري قربانى خانگى د افريدى زوى د پكتيا ولايت د وزى په ولسوالى كي زيږيدلى او په قوم ځدران و. نوموړى د ثور د خونړى كودتا د رامنځ ته كيدو څخه وروسته د ملحدينو په مقابل كي په وسله وال

جهاد پيل كرى او د جهاد په دوران كي د زرمل ، ځدرانو او د خوست د لوړي ولسوالى په اكثرو جگړو كي گډون كرى او د دين او وطن د ښمنانو ته يى زيات ځانى او مالى تاوانونه اړولى دي .

بالاخره دغه زړه ور او نوميالى مجاهد په ٦٠/٤/٢٨ نيټه د لاغورى په منطقه كي د ملحدينو له خوا سخت ټپى شو او د همدغه ټپ له امله د شهادت لوړ مقام ته ورسيد، ياد دى ژوندى او روح دى ښاد وى .

(انا لله وانا اليه راجعون)

شهيد محمد گل

د حق د لارى قربانى محمد گل د

صاحبه گل زوی د پکتیکا ولایت د ارگون ولسوالی د زیروک په علاقه داری کي زیږېدلی وو.

نوموړی د حاجی محمد ابراهیم د قوماندی لاندی وسله وال جهاد کا وه

او د جهاد په دوران کي يې د دومانده ، نادرشاکوټ ، درگي او نورو مهمو جگړو کي د دين او وطن دښمنانو ته زيات ځاني او مالي تاوانونه اړولي دي .

بالاخره دغه زړه ور او نوميالی مجاهد په ۶۹/۲/۲۴ نيټه د دير-مالکی په سيمه کي د ملحدينو سره په يوه مخامخ جگړه کي د ۲۳ کلونو په عمر د شهادت لوړ مقام ته ورسيد.

ياد دې ژوندی او روح دې ښاد وی

(انا لله وانا اليه راجعون)

شهید دوهم برید من محمد صدیق خان

دهغو نومیالیو مجاهدینو له جملې څخه چې خپل سرونه دحق په لار کی قربانی کړی ، یو هم محمد صدیق دگل محمد زوی دی چی په ۱۳۳۲ هـ ش کال دلغمان ولایت دعلیشنگ ولسوالی په صابر اباد کلی کی زیږیدلی او په قوم صافی و.

نوموړی خپلی لومړنی زده کړ ی په خپل کلی کی او منځنۍ زده کړه ئی په خپل ولایت کی تر سره کړی وه.کلچی په افغانستان کی دثور خونړی کودتا وشوه او کمونستان قدرت ته ورسیدل ، نو ده هم دخپلی اسلامی جذبې له مخې دکمونستانو په مقابل کي په وسله وال جهاد پیل وکړ



او بیا ئی دپاکستان اسلامی خاوری ته هجرت وکړ ، دهجرت په دوران کی ئی دجمعیت اسلامی حربی ښوونځی او حربی پوهنتون ولوست ، تر څو چی د ۱۳۶۹ هـ ش کال په او-لو ورځوکی دحضرت عمر فاروق (رض) دغند دترانسپورت په څانگه کی دمامو ر په حیث مقرر او خپله وظیفه یي په پوره ایمانداری اجراءکوله.

بالاخره دغه زړه ورمجاهد په۳/ ۵ / ۱۳۶۹ نیټه دغند په شاوخوا کی ددښمن د سکاد په توغندی ولگید او دشهادت لوړ ته ورسید

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید تورن عبدالجبار خان

دحق دلاری قربانی عبدالجبار خان دمحبت خان زوی چی په ۱۳۲۲ هـ ش کال د پکتیا ولایت دخوست دلویي ولسوالی داسماعیل خیلو د دوالو په کلی کی زیږیدلی ۇ.

نوموړی خپلی لومړنی زده کړی په خپل تاتو بی کی تر سره کړی او بیا دکابل په عسکری لیسه که شامل او په ۱۳۴۳ هـ ش کال دکابل حربی ښوونځی څخه فارغ شوی ۇ. دده مسلک دمخابری تخنیک ۇ په قندهار، شین ډنډ، کابل، گردیز ، خاځیو او

خوست کی یی وظیفه اجرا کړی ؤه کله چی په افغانستان کي

دڅورخونړی کودتا وشوه نو دغه په اسلام او وطن مین منصبدار خپله وظیفه ترک کړه او دپاکستان اسلامی خاوری ته ئی هجرت وکړ دهجرت ټوله موده یی دجهاد په گرمو سنگرونو کی تیره کړی وه ، کله چی په ۱۳۶۸ کال دحضرت عمر فاروق (رض) غند تأسیس شو نو نوموړی په کی دانظباط ټولی دقومندان په حیث مقرر شو .

بالاخره دغه زړور مجاهد دغند په ساحه کی دملحد دښمن دسکاډ په توغندی تپی اوپه ۸/۵/۶۹ نیټه دشهادت لوړ مقام ته ورسید. یاد دی ژوندی او روح دې ښاد وی .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید محمد امیر

دحق دلاری قربانی محمد امیر دبغلان ولایت دنهرین ولسوالی اوسیدونکی او پـه قوم ځدران ؤ.

نوموړی ددافع هوا ماشیندار او نورو وسلو په استعمال ښه پوهیده او دپکتیا ولایت په اکثر و جگړو کی یی فعال رول لوبولی او ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی وو.

بالاخره دغه زړه ور اونومیالي مجاهد دژوری په لویه خونړی جگړه کی په داسی حالت کی چی دملحد

دښمن په الوتکو ئیددافع هوا دزی کولی دشهادت لوړ مقام ته ورسید. یاد دیٔ ژوندی او روح دی ښادوی .

(انا لله وانا الیه راجعون)

شهید محمد عثمان

دحق دلاری قربانی محمد عثمان

دمحمد جان زوي په ۱۳۴۹ هـ ش کال دپکتیا ولایت دوزی ولسوالی سلطان خیلو په کلی کی زیږیدلی ؤ.

نوموړی دخپلی کورنی سره دپاکستان اسلامی خاوری ته مهاجر شوی او دهجرت په وخت که په ۱۳۶۵ هـ ش کال دته خیل په مدرسه کی شامل او په ۱۳۶۷ هـ ش کال یی دالفتح په لیسه کي خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او ترلسم ټولگی پوری یې خپل تعلیمات سرته رسولی وو.

دغه زړه ور مجاهد دپکتیا ولایت دزرمنکی، جانداد تورغر او نورو مهمو جگړو کی فعال رول لوبولي او ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او

مالی تاوانونه اړولی دی بالاخره دغه نومیالي مجاهد په ١/ ٥/ ١٣٦٩ نیته دشیخ امیر په مکتب د حملی په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسید، یاد دی ژوندی او روح دی ښاد وی .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید محمد خلیل

دحق دلاری قربانی محمد خلیل دلعل بت خان زوی په ١٣٤٨ هـ ش کال دپکتیا ولایت دځاځی میدان ولسوالی دباك په کلی کی زیږیدلی ؤ.



نوموړي زړه ور مجاهد دمولوی صاحب میرداد تر قومندانۍ لاندی وسله وال جهاد کاوه او دجهاد په دوران کی ئی دهری دولت ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولي دي، بالاخره دغه نومیالی مجاهد په

١٣٦٦ هـ ش کال چی ١٨ کلن ځوان ؤ د جوګیو په پوسته باندی دحملی په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسید، یاد وی ژوندی او روح دی ښاد وی.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید جمعه گل

دحق دلاری قربانی دگل فی زوی



دپکتیا ولایت دمنګلو دموسی خیلو ولسوالی دڅپري په کلي کی زیږیدلی و نوموړی دنیکو اخلاقو خاوند ؤ او دپکتیا ولایت په اکثر و جګړو ئی ګډون کړی او ددین او وطن دښمنانو ته ئی زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دي .

بالاخره دغه زړه ور او نومیالی مجاهد په هغه حمله کی چی مجاهدینو دشهرنو په ١٨ غنډ کړی وه ، موجود و او ددغه غنډ د فتحه

لیدلو وروسته دملحد دښمن دیوه مین په واسطه دشهادت لوړ مقام ته ورسید ، یاد وی ژوندی او روح دی ښاد وی .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید سخی محمد

دحق دلاری قربانی سخی محمد دنظر محمد زوی په ١٣٤١ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلوی ولسوالی دتره کی کلی کي زیږیدلی او په قوم لیوان خیل ؤ.

نوموړی په ١٣٥٩ هـ ش کال

دمولوی میرداد تر قوماندی لاندی په وسله وال جهاد پیل کړی او دجهاد د په دوران کی ئی ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دی .

بالاخره دغه زړه ور او نومیالی

مجاهد په ۱۳٦۷ هـ ش کال دروژی
په مبارکه میاشت کی دعلیشرو
علاقه داری دفتح کولو ورروسته د
یعقوبیو په علاقه داری باندی دحملی
په وخت دشهادت لوړ مقام ته ورسید.
انا لله وانا الیه راجعون

شهید قوماندان خداینور

دحق دلاری قربانی طالب العلم
خداینو ر دمحمد میر زوی په ۱۳٤۷
هـ ش کال دپکتیا ولایت دمنگلو
دموسی خیلو ولسوالی دخپری په
کلی کی زیږیدلی ؤ

نوموړی دوړوکتوب څخه دنیکو
اخلاقو خاوند ؤ او خپلی دینی زده
کړی ئی دخپل کلی دمولوی صاحب
رفیع الله څخه او څه ئی دخلیفه
صاحب عبدالواحد څخه دمته سنگر
په مدرسه کی کړی وی دغه زړه ور

مجاهد دپکتیا ولایت په اکثرو
جگړو کی گډون کړی ؤ او
دکمونستانو څخه ئی ډیری وسلی په
غنیمت نیولی وی او ددین او وطن
دښمنانو ته وسر او مال زیات تاوانونه
اړولی وو . بالاخره دغه نومیالی
قوماندان په ۲۷ / ۷ / ٦٥ نیټه
دمنگلو دغلنگ داغرو دتند په پوسته
باندی دحملی په وخت کی دشهادت
لوړ مقام ته ورسید. یاد دی ژوندی او
روح دی ښادوی .
انا لله وانا الیه راجعون

شهید عیدولی خان

دحق دلاری قربانی
عیدولی خان د شاولی خان
زوی په ۱۳٤۹ هـ ش کال دپکتیا
ولایت د باك علاقداری په د
کوټکیو کی زیږیدلی ؤ
نوموړی لومړنی زده کړی ید
ښوونځی کی سرته رسولی
وی او په دینی زده کړو یی
پیل کړی و . ددینی زده کړو
په دوران کی یی د مولوی
میرداد تر قوماندی لاندی دجهاد
گرمو سنگرونو ته ولاړ او دجهاد
په دوران کی یی ملحدینو ته
زیات ځانی او مالی تاوانونه
واړول .

بالاخره دغه نومیالی
مجاهد په ۱۳٦۷/٤/۱۰ نیټه



د علی شیرو د سین خوریه
کندك باندی د حملی په وخت
د شهادت لوړمقام ته ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

شکست دو امپراتوری ...

های استعماری بریتانیا ی کبیر
دیکتاتوری روسید کمونستی با شکست
نظامی در افغانستان بطرف انحطاط
ونزول رفتد اند .
باشکست کمونیزم این حقیقت
تاریخی یکبار دیگر بد اثبات رسید
که افغانستان مدفن متجاوزین جبار
تاریخ است ویا با عباره دیگر افغا-
نستان وافغانها در طول تاریخ برای
متجاوزین وفاتحان سنگ محك بوده
اند .

****

شهید ضابط عبدالستارخان

دهغو نومیالیو او قهرمانو مجاهدینو په ډله کي چي خاص دالله (ج) درضا او اعلاي کلمةالله په خاطر یي دالحاد او فساد پر ضد وسله وال جهاد

پیل کړي او دجهاد ویاړلي کارنامي به یي زمونږ داسلامي انقلاب او جهاد په تاریخ کي دتل لپاره په زرینو کرښو ثبت وي ، یوهم عبدالستار خان دخداینور خان زوي دلوگرولایت د حصارك دکلي اوسیدونکي په قوم ستانکزي ؤ .

نوموړي په (١٣٢٨) هـ ش کال کي دي فاني نړي ته سترگي غړولي وي . په (١٣٣٦) هـ ، ش کال د پدخواب شانه په ښوونځي کي شامل شو ، لومړني زده کړه یي په دغه ښوونځي کي په (١٣٤٢) کال پاي ته ورسوله . داقتصادي مشکلاتوله کبله یي ونشوکولاي چي لوړه زده کړه وکړي .

په (١٣٤٤) هـ ش کال دپولیسو اکاډمي دساتنسانو په کورس کي شامل شو . او تریو کلني زده کړي وروسته تري په عالي درجه فارغ شو. دوظیفي لومړني دوه کاله یي په قندهارکي تیرکړل اوبیا په (١٣٤٦) هـ ش کال کابل ته تبدیل شو اوپه امنیه قوماندانی کي دوظیفي په اجرأ کولو بوخت شو اوتر (١٣٥٧) هـ ش کال پوري یي په همدغه ځاي کي په پوره امانت داري سره خپله مقدسه وظیفه اجرأ کړه .

دثور له خونړي کودتاوروسته یي له مجاهدینو سره ارتباط ټینگ کړ ، په (١٣٦٠) هـ ش کال کي دروس د مزدورانو (خلقیانو او پرچمیانو) له خوا بندي شو ، دري میاشتي یي په بندکي تیري کړي او دکمونستانوله خونړیو منگولو څخه ترخلاصون وروسته یي له نورو مجاهدو ورونو سره یو ځاي دالحاد او فساد پرضد وسله وال جهاد پیل کړ .

په (١٣٦٣) هـ ش کال کي یو ځل بیا دملحدینو له خوا ونیول شو ، دپلچرخي په محبس کي تر زیاتو شکنجو ، زجر او تعذیب وروسته دکمونستانو له خوا په اووه کاله بند محکوم شو چي په بند کي ترڅلور کالو تیرولو وروسته دمزدور رژیم په اصطلاح دعفوي په یو فرمان کي له بند څخه خوشي شو او په اسلامي هیواد پاکستان کي له خپلي کورني سره یوځاي شو.

نوموړي په (١٣٦٧) هـ ش کال کي دالحاج مولانا جلا ل الدین حقاني ترقیادت لاندي دسلمان فارسي (رض) په غند کي دڅلورم ټولي دقوماندان په توگه وټاکل شو.

دیوتکړه مجاهد قوماندان په توگه یي دجهاد په دوران کي په ډیرو جهادي عملیاتو کي برخه اخیستي چي دلته یي دجلال اباد جنگ ، درگي ، جانداد غند ، ملنگ ، زرمنکي ، تورغر دعملیاتواو فتحوپه یادونه اکتفأ کوو. بالاخره په (١٠/٤/١٣٦٩) هـ ش دلوي اخترپه شپه په تور غره کي شهید شو (اناالله واناالیه راجعون) .

شهید گلا جان

د حق دلاری قربانی گلاجان دمعین زوی په ١٣٤٤ هـ ش کال د لوگر ولایت د سامزار په ولسوالی کی زیږیدلی ؤ.

نوموړی د شهید منان کوچی د قوماندی لاندی وسله وال جهاد کاوه او د جهاد په دوران کی یی د پکتیا ولایت په اکثرو جگړو کی د دین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دي.

بالاخره دغه زړه ور او نومیالی مجاهد په ١٣٦٩ هـ ش کال د خوست د لویی ولسوالی د ډیری په سیمه کی



د ملحد دښمن سره په یو مخامخ جگړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.یاد دی ژوندی او روح دی ښاد وی. (انا لله وانا الیه راجعون)



۱۳٦٤ دوږي ۲۲ مه دلوی فاتح او اتل مجاهد الحاج مولوی فتح الله دویاړلي

شهادت پنځمه کلیزه دجهاد دسنگرونومؤمنو غازیانو ته بختوره غواړو!